د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د علومو اکاډمي
معاونیت بخش علوم بشری
مرکز زبانها و ادبیات
د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

# کابل

په دې ګڼه کې:

- په کوچنیانو د ماشوم د ادب اغېزې
- اقبال او خوشحال
- د اوسنیو پښتو ادبي او ژورنالیستي ژباړو ستونزې
- پښتو ادب ته د نوي صنف (کاریکلماتور) راتګ
- د تخلیقي ادبیاتو په رڼا کې داستان ارزښت
- د شیدا د شعر شکل او عروضي جوړښت یې
- اور نور...



- میاشتنی
- دریمه دوره
- کال: ۱۳۹۶ لمریز
- د تأسیس کال: ۱۳۱۰ لمریز
- کابل- افغانستان

۲

څېړنیزه، ژبنۍ، ادبي او فولکلوري مجله

کابل

۱۳۹۶ لمریز کال، ۲ مه ګڼه

# KABUL

## Monthly Journal


**Establishment 1931**
**Academic Publication of**
**Afghanistan Academy of Science**
**Serial No:**



Address:
Academy of Science of Afghanistan
Torabaz Khan, Shahbobo Jan Str.
Shar-e-Now, Kabul,Afghanistan
Tel: 0202201279- 0796650658

دافغانستان اسلامي جمهوري دولت

د علومو اکاډمي

معاونیت بخش علوم بشری

د ژبو او ادبیاتو مرکز

# کابل

 څېړنیزه، ژبنۍ، ادبي او فولکلوري میاشتنۍ مجله


د تاسیس کال: ۱۳۱۰ لمریز

ګڼه: ۲

## يادونه:

✓ مقاله دې له یوې رسمې پتې څخه چې په هغې کې د لیکوال نوم، تخلص، علمي رتبه، د ټیلیفون شمېره او برېښلیک پته وي د علومو اکاډمۍ ادارې ته را ولېږل شي.

✓ را لېږل شوې مقاله باید پوهنیزه ـ څېړنیزه، بکره او له منل شوو علمي معیارونو سره برابره وي.

✓ را لېږل شوې مقاله باید په بله خپرونه کې نه وي خپره شوې.

✓ د مقالې سرلیک باید لنډ او له منځپانگې سره سمون ولري.

✓ مقاله باید د ۸۰ او ۲۰۰ کلمو ترمنځ لنډیز ولري او د څېړنې پوښتل شوې پوښتنه ځواب کړای شي. همدغه راز لنډیز باید د یونسکو په یوې ژبې ژباړل شوی وي.

✓ مقاله باید د سریزې، اهمیت، مبرمیت، موخې، د څېړنې پوښتنې، د څېړنې روش، پایلې او اخځونو لرونکې وي او په متن کې اخځلیک ته نغوته شوې وي.

✓ مقاله باید د لیکوالۍ له اصولو سره سمه وي، املایي او انشایي تېروتنې ونه لري.

✓ د مقالې حجم حد اقل یې ۷ مخه او حد اکثر یې ۱۵ معیاري مخونه وي، د فونټ سایز ۱۳، د کرښو ترمنځ فاصله باید (Single ) وي او ادارې ته دې سافت او هارد کاپي دواړه را ولېږل شي.

✓ د مجلې کتنپلاوی د علومو اکاډمۍ د نشراتي لایحې له مخې د یوې مقالې د تائید او رد واک لري.

✓ د رالېږل شوو مقالو شننه او څېړنه د لیکوالو فکري زېږنده ده، لیکوال ته بویه چې سپیناوی یې په خپله وکړي، اداره یې په سپیناوي کې کوم مسوولیت نه لري.

✓ د مجلې له چاپ شوو مقالو څخه استفاده کول، بې له اخځه جواز نه لري.

✓ ادارې ته رالېږل شوې مقاله بېرته لیکوالو ته نه ورکول کېږي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

**خپرندوی:** د علومو اکاډمۍ د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**مسوول مدیر:** څېړنوال سیدنظیم سیدي

**مهتمم:** څېړندوی شکیلا میاخېل

**کتنپلاوی:**

څېړنپوه ډاکټر خلیل الله اورمړ

څېړنپوه نصرالله ناصر

څېړنپوه سیدمحی الدین هاشمي

څېړنوال حبیب الله رفیع

**ډیزاین:** سیدي

**تېراژ: ۵۰۰** ټوکه

**پته:** د افغانستان د علومو اکاډمي، طره باز خان واټ،

کابل، نوی ښار، د شابوبو جان سړک

**د اړیکو شمېرې:**

۰۷۹۶۶۵۰۶۵۸ - ۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹

**د مجلې برېښلیک:** magazinekabul@gmial.com او

informationasakabul@gmail.com

**کلنۍ ګډون بیې:**

په کابل کې: ۹۶۰ افغانۍ

په ولایاتو کې: ۱۴۴۰ افغانۍ

په نورو هېوادونو کې: ٦۰ امریکایي ډالر

په کابل کې د یوې ګڼې بیه: ۸۰ افغانۍ

- د علومو اکاډمۍ د څېړونکو او استادانو لپاره: ۷۰ افغانۍ
- د زده کوونکو او محصلینو لپاره: ۴۰ افغانۍ
- د نورو ادارو لپاره: ۸۰ افغانۍ

# لیکلړ

**شمېره　　سرلیک　　لیکوال　　مخګڼه**


۱- په کوچنیانو د ماشوم د ادب.............پوهنیارشفیق الله رحماني............۱

۲- پښتو ادب ته د نوي صنف راتګ........څېړنوال محمد آصف احمدزی.......۱۵

۳- د اوسنیو پښتو ادبي او ژورنالیستي.......څېړنوال سیدنظیم سیدي..........۲۸

۴- اقبال او خوشحال.......................پوهندوی بریالی باجوړی..........۵۹

۵- د شیدا د شعر شکل اوعروضي............پوهنوال لال پاچا ازمون...........۷۳

٦- دګل پاچا الفت په منظومو اثارو............پوهنیاره شازیه افغان..............۹۱

۷- د تخلیقي ادبیاتو په رڼا کې...............پوهنوال جانس زړن..............۱۰۴

**Published:** Academy of Science of Afghanistan

**Editor in Chief:** Research Fellow Sayed Nazim Sayedy

**Assistant:** Researcher Shakila Miakhil

**Editorial Board:**

Senior Research Fellow Dr. Khalilullah Ormar

Senior Research Fellow Nasrulla Naser

Senior Research Fellow Sayed Muhiuddin Hashimi

Research Fellow Habibullah Rafi

**Composed & Designed By:**

Sayedy

**Annual Subscription:**

Kabul: 960Af.

Province: 1440 AF.

Foreign Countries : 60$

Price of each issue in Kabul : 80 Af.

- For Professors, Teachers and Members of Academy of Science of Afghanistan: 70 Af.
- For the disciples and students of schools: 40 Af.
- For other Departments and Offices: 80 Af.

پوهنیار شفیق الله رحماني

# په کوچنیانو د ماشوم د ادب اغېزې

## لنډیز:

داچې په پښتو ادبیاتو کې د فولکلور او په ځانګړي ډول د ماشوم ادب موضوع خورا ارزښتمنه ده، نو ځینو لیکوالو او ادبپوهانو ورته هغه شان کار کړی چې هڅې یې د سرو زرو په تول د تللو وړ دي، د ماشوم ادبیات ماشوم ته د ژوند ټولې چارې سموي او د ماشوم د پرمختګ سبب ګرځي، ماشوم نېک خویه اموخته کوي، فکري لوړتیا ورکوي او په ژوند کې د نوښت او ابتکار راز ورښيي.

داستانونه او شعرونه د ماشومان پر روحیاتو او افکارو باندې ژور او هر اړخیز اغېز کوي، دوی د ټولنیز ژوند په ادابو،کړو وړو او له یو بل سره په اړیکو پوهوي، همدا راز د ژوند په چارو کې د دوی درک او پوهه پیاوړې کوي. د ماشوم ادبیات له ماشوم سره د ژبې په زدکړه، د کلمو په یادولو او د لید په پراخوالي کې هم مرسته کوي.

## سریزه:

دا خو څرګنده ده چې د پښتو ژبې یو شمېر پوهانو او د ادب مینه والو د پښتو ادب د ودې،پرمختګ او پیاوړتیا لپاره نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړي او په دغه برخه کې یې د پام وړ لاسته راوړنې لرلې دي، دا چې د پښتو ادب لمنه ډېره پراخه ده نو لیکوالو د خپلې خوښې، لېوالتیا او وړتیا پر بنسټ په بېلابېلو برخوکې پر ځای پنځونې کړې دي، نو ویلای شو چې په ټوله کې ادبیات د بشري ژوند د سمون،

سمسورتیا، رغاونې او د راتلونکې لپاره د یو موخه ییز او با هدفه انسان په توگه ژوند کولو لپاره پنځول کېږي. ماشومان هم چې د بشري ژوند له کاروان سره تړلي او یوه لویه ډله تشکیلوي د راتلونکي ژوند او انساني ټولنې مدیران دي، نو هغه ادبیات چې د پوهانو او لیکوالو له خوا د ماشومانو لپاره ایجادیږي د یو لړ ټاکلو موخو په پام کې نیولو سره رامنځته کېږي، چې کوچنیان له ماشومتوبه وروسته له هغو موخو او مقصدونو سره مخامخېږي. دموضوع په لحاظ د لویانو او کوچنیانو په ادبیاتو کې توپیر نه شته، هر هغه څه چې د درس او زده کړې له پروگرام څخه د باندې په هنر مندانه ډول ولیکل شي او تنظیم شي د ماشومانو ادبیات ورته ویل کېږي. د لویانو او کوچنیانو د ادبیاتو توپیر د دوی په اړتیاوو او شتونتیاوو کې وي ټول هغه اثار، چې د بشري پوهنې په ټولو برخو کې د ماشومانو لپاره لیکل کیږي او خلاقیت په کې وي، د ماشومانو ادبیات گڼل کیږي.

هڅه مو کړې چې د ادب او فولکلور پېژندنې تر څنگ په کوچنیانود ماشوم ادب اغېزې په ښه ډول روښانه کړم،تر څو پرې د پوهېدو چانس زیات شي او هر څوک وکولی شي چې په اسانه توگه ترې گټه واخلي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت:

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې په وسیله به یې لومړی د ماشوم ارزښت جوت شي او بیا به یې د ادبیاتو په ارزښت او اهمیت خبرې وشي، چې څنگه باید وي او څنگه باید شي او یو ماشوم د ادب د کومو چوکاټونو له لارې د اصلاح او سمون پر لور بیولای شي.

## د څېړنې موخې:

له دې مقالې څخه زما موخه داده چې د ادبیاتو په لویه اډانه کې د ولسي-ادب په برخه کې د ماشوم ادب په پېژندنه،په کوچنیانو د ماشوم ادب اغېزې او د ماشوم ادب په گټو او موخو هر اړخیزه څېړنه وکړم،تر څو هر چا ته څرگنده شي چې په کوچنیانود ماشوم ادب اغېزې ډېرې سترې،موثرې او تلپاتې دي، زماموخه دماشوم د ادبیاتو په برخه کې په کار پیلولو سره دا وه چې نور څوانان او درانه لیکوال تشویق شي او په دې حیاتي برخه کې دوی هم کار وکړي، نو د ماشوم ادب په برخه کې دغه تشه به راډکه کړي.

**د څېړنې پوښتنې:**

۱- ماشوم ادب یعنې څه ؟

۲- په کوچنیانو د ماشوم ادب اغېزې څه دي ؟

۳- ادبیات د ماشومانو لپاره څه ګټه لري ؟

۴- دماشوم ادب د ودې او پرمختګ لپاره څه کول په کار دي ؟

**د څېړنې روش:**

په دې څېړنه کې تر ډېره له انتقادي، توضیحي او تشریحي میتود څخه ګټه اخیستل شوې ده.

**کلیدي کلمې:**

په دې مقاله کې کلیدي کلمې ادب،فولکلور،ماشوم ادب،په کوچنیانو د ماشوم ادب اغېزې،د ماشوم ادب ګټې، موخې او نور ځای پرځای شوي او په اړه یې د پوهانو او لیکوالو هغه څرګندونې را اخیستل شوي چې یاده موضوع یې په خورا ښه ډول تشریح کړې.

**تېرو مأخذونو ته کتنه:**

د ماشوم ادبیاتو په اړه مې له بېلابېلو (۱۰) پښتو مأخذونو څخه په خورا دقت او پاملرنې ګټه اخیستې او د اړوندې موضوع د بشپړاوي لپاره مې د یوې کره او باوري څېړنې پربنسټ هرڅه په ډېر غور او دقیق ډول خوښ کړي، ترڅو پرې یاده موضوع په هر اخیز ډول روښانه،ښایسته او په زړه پورې شي.

داچې ماشومان د ټولنې بنسټګران دي،نو د یوې ټولنې د پرمختګ او د راتلونکي ژوند لپاره باید په دقت او خواخوږۍ وروزل شي او تل د خاصې پاملرنې وړ وي، ماشوم ته د نورو لومړنیو اړینو توکو د چمتو کولو تر څنګ له معیار سره سم ادبیات او کتابونه هم چمتو شي، چې ماشوم تل اړتیا ورته لري.

ما هم په خپله دغه لیکنه کې تر خپل وس او توان هڅه کړې ده چې خپله دغه موضوع په پوره اخلاص او صداقت مندۍ مخ ته یوسم.

**کړنلاره:**

ما د خپلې موضوع د بشپړاوي لپاره اړوند (۱۰) مأخذونه او دپوهانو نظرونه، وړاندیزونه او سپارښتنې په سم، دقیق او باوري ډول ولوستل او د همدې نظریاتو

پربنسټ مې یاده موضوع لکه څنګه چې په کار وه روښانه او چمتو کړه چې خپله موخه تر لاسه کړم.

د دې مقالې په لیکلو کې له دودیز علمي، څېړنیز او تحلیلي میتود څخه استفاده شوې او ترڅنګ یې له کتابتوني، مرکې اوپوښتونو له روشه هم کار اخیستل شوی چې اړوند موضوعات په تشریحي ډول وړاندې شوي دي.

په کومو برخو کې چې اړتیا لیدل شوې ده له مهمو سرچینو څخه په مستقیم ډول هم اخیستنه شوې.

**- ادب:**

مخکې له دې چې په ادب یا د ماشومانو په ادبیاتو څه ووایو د دود له مخې اړینه ده چې لومړی ادب او بیا د ماشومانو په ادبیاتو خبرې وکړو.

ادب: داچې د نورو ډېرو ارزښتونو او علومو په څېر د ادب لپاره هم کوم داسې ځانګړی پېژند نه شته چې هر چېرې او د هر چا لپاره یو شان د منلو وړ وي، خو بېلابېلو ادبپوهانو او څېړونکو د ادب په کلمه کې د شته معناو له مخې بېلابېل تعریفونه هم کړي دي، د بېلګې په توګه:

ادب په لغوي لحاظ د پوهې، فرهنګ، معرفت، ښه خوی او نېکې رویې په معنا راغلی او په اصطلاح کې هغه علم ته ویل کېږي چې د هغه په واسطه یو څوک کولی شي، ښه شعر ووایي او سم یې ولیکي او یا هم ښکلې او بدرنګې خبرې وپېژني.

سر څېړونکی دوست شینواری بیا وایي:ادب عربي کلمه ده چې د روزنې، ښه معاشرت، ښوکړو وړو، حرمت او نمانځنې معنا لري، همدارنګه ځینو د پوهې، هنر او ځیرکی په معنا یاده کلمه راوړې ده. (۱:۹)

پخوا به د ادب کلمه اصطلاحاً د لغاتو، صرف، نحوه، معاني، بیان، بدیع، عروض، قافیه او د خط اصول، قرائت نورمونه انشاء او د تاریخ په علومو اطلاق کېده.

د ادب یو پېژند داسې هم شوی (( هره هغه ممتازه وینا چې شفاهي وي که لیکنی، نثر وي او که نظم خو چې هنري ارزښت ولري ادب بلل کېږي)) (۲:۱۰)

دا او دې ته ورته نور تعریفونه هم شته چې د ادب کلمه پرې په ښه ډول توضېح کېدلی شي، خو زموږ موخه د ماشومانو ادبیات دي چې د فولکلور په پراخه اډانه کې پرې بحث کېدلی شي.

نو اړینه ده چې فولکلور هم په سمه توګه وپېژنو.

**فولکلور پېژندنه:**

فولکلور په لغت کې داسې ښودل شوی:

۱ – د فارسي ژبې مشهور قاموس ( فرهنګ عمید ) د فولکلور په اړه لیکي:

((فولکلور د عوامو پېژندنه، د ولسي‍ـ خلکو، آدابو، دودونو او د عامیانه تصنیفاتو، ترانو، افسانو او عقایدو مجموعه ده)) (۹۲٦:۵)

۲ – حبیب الله رفیع په خپل اثر ( د خلکو سندرې ) کې وایي:

(( فولکلور ته په بېلابېلو ژبو کې ( فرهنګ عامه، خلک پېژندنې، توده شناسي، دانش عوام. خلقیات او اساطیرو نومونه ورکړل شوي دي چې هر یو یې د خلک پېژندنې او د ولسي‍ـ پوهې معنا لري )). یا فولکلور یوه انګلیسي‍ـ کلمه ده چې له ((فلک)) او ((لور)) څخه جوړه شوې ده ((فلک)) د خلکو او د عوامو معنا ورکوي او ((لور)) د علم پوهې او پېژندنې په معنا راغلې ده او په مجموعې توګه د نیکونو عقایدو، د اجدادو د رسومو، افسانو او د دوی د عقایدو د څېړنې معنا ترې اخیستله کېږي. (۳:۷)

**د فولکلور اصطلاحي معنا:**

فولکلور د عوامو خلکو هغو عنعنو ته ویل کېږي چې له لرغونو زمانو څخه را پاتې شوي او د اوسني وخت له متداوله پوهنو، عقایدو او چلن بېلګو سره یو څه توپیر لري.

یا: د ( لاروس ) په فرانسوي قاموس کې راغلي دي، چې فولکلور په یوه ټاټوبي کې د (خلکو، عنعنو، افسانو، سندرواو د دودونو مجموعې ته ویل کېږي.

فولکلور د یوې ټولنې په غېږ کې زېږي، وده کوي او لویېږي. د هغه ځانګې له هر څه زیاتې د ټولنې لاندېني او بې سواده پوړ او ماشومان دي، چې د نړۍ مترقي او مشهور لیکوالو او شاعرانو د خپلو اثارو په لیکلو کې همېشه لاندېني پوړ او ماشومانو ته مخ اړولی، د هغه ژوند او روح یې عکاسي کړی او له شفاهي ادب څخه یې متاثر شوی دی)). (۵:۴)

**د ماشوم ادبيات:**

ښکاره ده چې د ادبياتو اصطلاح چې څه نور ورسره ونه تړل شي هماغه معنا او مفهوم لري چې مخکې مو د ادبياتو د تعريف په برخه کې ولوستو خو که له دغه کلمې سره مختاړي يا روستاړي تړل کيږي نو بيا له ادبياتو سره د يوې بلې نږدې موضوع معنا ترې اخيستل کيږي لکه د ماشوم ادبيات. د ماشوم ادب په اړه بېلابېل تعريفونه شته دي د بېلگې په توگه:

په يو ليکني يا شفاهي فورم کې هغې شعوري يا غير شعوري ليکنې يا وينا ته وايي چې د ماشومانو د ذهني، فزيکي او علمي وړتيا د ودې سبب شي، تر څو يو ماشوم د سمې لارې د تلو تکل په خپله وکړي.

د ماشوم ادبياتو دتعريف په اړه يو نظر داسې دی.

(( د ماشوم ادبيات د احساساتو، افکارو او عواطفو يو ساده او هنري بيان دی چې ماشوم ته د ليکنې، غږ، انځورگرۍ يا عکسونو پواسطه ښودل کيږي.

که څه هم په پښتو ادب کې د ماشومانو د ادبياتو په اړه هغسې چې په کار و کار نه دی شوی، خو په نوره نړۍ کې د ماشوم ادبياتو لپاره ډېر کار شوی دی، لکه چې د نړۍ ادب پوهان د ادب او ادبياتو د تعريف په اړه سره يوه خوله نه دي په لږ او ډېر توپير سره يې د نومونړې کلمې په اړه خپل نظريات ورکړي همدارنگه د ماشوم ادبياتو څېړونکي او پوهان هم د ماشومانو د ادبياتو د تعريف په اړه سره بېلابېل نظريات او تعريفونه لري لکه:

ايرانی ليکوال ډاکټر اکبر شعاري نژاد د ماشوم ادبيات داسې را پېژني: "د ماشومانو ادبيات د هغو اثارو، کتابونو او مقالو مجموعې ته ويل کېږي چې د متخصصو ليکوالو په مټ د ماشومانو د ازادې مطالعې لپاره ليکل کېږي او د ماشومانو خوښه، ذوق او د ودې کچه په کې په پام کې نيول کيږي.د (اشنايي با ادبيات کودکان )کتاب د ماشوم ادبيات داسې تعريفوي: د ماشومانو ادبيات د هغو ليکنو، ويناوو او د سرودونو مجموعې ته ويل کيږي چې د ټولنې د لويانو له خوا د ماشومانو د گټې اخيستنې لپاره چمتو کيږي، د موضوع په لحاظ د لويانو او ماشومانو په ادبياتو کې توپير نشته هر هغه څه چې د درس او زده کړې له پروگرام

څخه د باندې په هنرمندانه ډول ولیکل او تنظیم شي د ماشومانو ادبیات ورته ویل کیږي. (۱: ۵۹)

د ماشوم ادبیات معمولاً په دوه ډوله دي:

۱ – په خپله د ماشومانو ادبیات چې پنځونکي او تخلیق گران یې په خپله ماشومان وي لکه: د ماشومانو خپلې معناداري او بې معنا سندرې، غږونه کردارونه، کړه وړه، فکرونه، عقیدې او پوهې.

۲ – ماشومانو ته ادبیات: چې پنځوونکی یې لویان وي، لکه: د میندو سندرې، د پلار له خوا اصلاحي کیسې، د ښوونکو له خوا د زده کړو مهارتونه وربښودل، د لوبو چل زده کول کارتون،ډرامې او نور...

لومړی ډول د ماشومانو خپل ادبیات دي چې دوی یې په خپله په غیر شعوري ډول ایجادوي، خو ډېر کله یې هڅه داوي چې ټاکنه او کړنه یې سمه وي. یعنې ماشومان لا د کوچنیوالي په مرحله کې هم غواړي چې له ځانه وړتیا وښیي. د بېلگې په ډول: د ماشومانو سندرې، ډرامې، لوبې، مقابلې او نور.

دویم ډول د ماشومانو لپاره ادبیات: دا هغه ادبیات دي چې لویان یې د ماشومانو لپاره ایجادوي، تر څو د ماشومانو فزیکي او ذهني ودې ته پرمختیا او پیاړوتیا ورکړي، هغوی له ناسمو لارو څخه منع او د سمې لارې ښودنه ورته وشي.

دغه ادبیات د ماشومانو په اصلاحي روزنه کې ډېر لوی لاس او ستر رول لوبولی شي.

دغه ادبیات دټولو هغو لویانو له خوا پنځول کیږي چې د ماشوم روزنې هیله او جذبه په زړه کې لري، که هغه د کور غړي، ښوونکي ټولنیز اشخاص او یا هم نور وي.

په خپله د کوچنیانو په ویناوو کې هم د بیدارۍ درسونه وي لکه یوه کوچنۍ نجلۍ چې خپل ورور ته په ماشومانه انداز په ادبي چوکاټ کې د حماسو درس ورکوي او ورته وایي:

وه وروره بېداره شه
ستا په ځنگۍ ډزې دي
گډې وډې ورځې دي

نجلۍ له هماغه کوچنيوالي څخه خپل ماشوم ورور تـه د بيـدارۍ، ويښـتيابه او غيرت سبق وايـي او د دسـتار د سـاتلو پـه معنـا يـې پوهـوي او د جګړييـزو حـالاتو د مقابلې لپاره يې لا له وړاندې ورته د چمتو والي خبر ورکوي. په ټوليز ډول بايد ووايـو چې ماشومانو د خپلو ادبياتو د بډاينې لپاره په ټولو حـالاتو کـې کـار کړی،پـه پښـتو ادب تاريخ کې د امير کروړ د شعري حماسې وخت لرغونې دوره ښـودل شـوې چـې اسناد يې زموږ تر لاسونو رارسيدلی دي او تر دغې دورې وړانـدې د لا لرغـونې دورې دعوې هم لرو، خو د وخت د زبر ځواکـو او د پښـتنو دښـمنانو د بريـدونو، تـاړاکونو او حملو په پايله کې مو ډېر ادبي ارزښتونه له لاسه ورکړي دي، چـې يـوه بېلګـه بـه يـې ماشوم ادب هم وي، د لرغـونې دورې پـه ادبيـاتو کـې د ماشـوم ادب څرکونـه نـه تـر سترګو کېږي خو په دويمه ادبي دوره کې د ملا الف هوتک دويزه (مثنوي) شته چـې د ماشومانو د اخلاقي روزنې په برخه کې ليکل شوې.

ملا الف هوتک دا وايي:

" راشـــــه واوره ای فرزنـــــــده
تاتـــــه وايـــــم ارجمنـــــــده
تـــه د پـــــاک نبـــي پرلارشـــه
د نبـــــي پــــــر لاره لاړ شـــــه
يـــو قـــدم لـــه شرعـــي زويـــه
بېـــرون مـــه اخلـــه نېـــک خويـــه
کـــه بېـــرون يـــو قـــدم کېـــږدې
د نبـــي شرعـــه بـــه پرېـــږدې
نصـــــيحت کـــــوم وتاتـــــه
مـــــه جـــــاروزه بلـــــې خواتـــــه
تاتـــه وايـــم زمـــا ځـــان يـــې
لاتـــر ځـــان راباتـــدې ګـــران يـــې"

(۳۱:٦)

همدغه شان کلاسيکه يا منځنۍ دوره چې د پښتو ادب لپاره يوه بـې سـاري او بېلګـه ييـزه دوره وه، خودماشـوم ادب لپـاره پـه کـې کـوم ځـانګړې اثـر نشـته پرتـه د

خوشحال خان بابا له اثارو چې ځای ځای یې د ماشوم روزنې په اړه لارښوونې کړي دي، په دستارنامه کې له پیل نه تر پایه پورې، ښوونه، روزنه، لارښوونه، زده کړه او تربیه کلمې راغلي دي.

خوشحال بابا خپل بچي ته د علم او د زده کړې په اړه په خپله یوه رباعي کې داسې ویلي:

"چې علم وکړې عزیزه زویه
فهم په علم په عمل بویه
کمکه ونه بارداره ښه ده
نه پلنه ونه بې باره لویه
چې نه ادب لري نه علم رای لري
دوپای لیده شي خوی د چارپای لري
چې بې ادب وي ادم یې مه گڼه
نه شو که شکل ادم نمای لري

که د خوشحال بابا ټول اثار ژور مطالعه شي ښایي د ماشومانو د روزنې او پالنې او هغوی ته د اخلاقي روزنې په اړه په کې ډېرې ښېلگې پیداشي تر خوشحال بابا وروسته نازکخیاله شاعر حمید بابا هم یو نیم ځای د ماشومانو د اخلاقو، روزنې او تربیې په اړه وایي:

نازولی زوی نه اخلي ادب
او د سیوري نخل نه نیسي رطب
ونیو مه شه هغه زوی دې تر خوا پورې
چې یې نه نیولی درس وي نه مکتب
په غوجل کې باري خر او قچر ښه دی
نه په خونه کې جاهل او بې طلب

له حمید بابا وروسته د معاصرې دورې تر لومړیو پورې په پښتو ژبه کې د نثر یا نظم په برخه کې د ماشوم ادب لپاره په شعوري توگه دپام وړکار نه دی شوی خو د نړۍ په نورو هېوادونو کې بیا دغه تشه نه لیدل کېږي او د خپل وس برابر هر چا خپل مسولیت او رسالت ادا کړی دی.

ان تر دي چې د ماشومانو له کیسو یې انځوریز کتابونه، رسالې، مجلې او په دې وروستیو کلونو کې یې یو شمېر فلمونه هم جوړ کړي دي.

نورې نړۍ د خپلو کوچنیانو د ذوقي لېوالتیا او روحي وړتیا د خړوبولو په موخه کارتوني ډرامې، فلمونه، نمایشونه (ننداري) ترتیب او د خپراوي په موخه یې ورته ځانګړې راډیوګانې او تلویزوني شبکې هم جوړې کړې دي.

په ماشومانو د ادب اغېزې:

په کوچنیانو د فولکوریکو سندرو د اغېز په هکله دوست شینواری وایي: بدیعي او خواږه الفاظ، شاعرانه او سندریزې جملې او اهنګ لرونکي خواږه عبارتونه زموږ د ماشومانو په روحي او جسمي وده ډېر ښه اغیز کوي. دا اهنګ لرونکي عبارتونه په ساده او روانه ژبه، تفریحي وړې وړې کیسې د خوب راوړلو سندریز غږونه ماشومان خوښ ساتي، ارامولي یې او تر هغه وخته یې د ډېرو ښو خاطرو ذخیره وي، چې د لومړي ځل لپاره له کتابه استفاده کوي.دی وایي: د ماشومانو طفلانه روحیه دغو خوږو الفاظو اوسندریزو جملو  ته دومره  اړتیا لري، لکه بدن چې په خپله وده کې صحي غذا ته اړ دی.

د کوچنیانو سندرې د کوچنیانو ذهن روزي، ټولنیز مطالب ور زده کوي، دوی له خپل عیني ټولنیز ژوند او چاپیریال سره اشنا کوي. د کوچنیانو په سندرو کې ډېره په زړه پورې او معلوماتي برخه کیسې او د وړو مشاعرې دي، چې ډېره معلوماتي جنبه لري او د کوچني ذهني سویه ښکاره کوي.

د هر ماشوم چې ښې کیسې او ښه ځوابونه زده وي ښه لیاقت په کې تبارز کوي، د لوړتیا او غرور احساس کوي. په دې توګه دا ډول سندرې دماشوم د روحي روزنې  په برخه کې باید یوه غوره لار وګڼو.د اروپوهانو له نظره انسانان دوه ډوله بلوغ لري، جسمي او ذهني. دوی وایي: ډېر داسې پیښیږي چې یو ماشوم تر جسمي بلوغه وړاندې د ذهني بلوغ مرحلې ته ورسیږي.

ترانې او سندرې د ماشومانو ذهن له وزن، آهنګ او موسیقۍ سره هم اشنا کوي او د لومړي ځل لپاره یو ماشوم دا زده کوي، چې څنګه له موزونو جملو او بیتونو څخه خوند واخلي او څرنګه چې موزونه وینا او سندرې د انسان روح ته ارامتیا وربخښي، کولی شي ماشوم هم ارامه وساتي.

میندې کله چې غواړي خپل ماشوم ویده کړي، هغه اللو للو للو په یو ډېر خوږ آهنګ او د خوږې سندرې په شکل ورته اوروي، چې د ماشومانو ذهن ته ځانګړی خوند او ارامتیا ورکوي. ترانې او سندرې ماشومان د چاپیریال له نوو شیزونو سره اشنا کوي او کولی شي هغوی د ناوړه کلماتو، ښکنځلو او بدورد ویلو له زده کولو څخه وژغوري. د ژبپوهنې له نظره د کلماتو سم ادا کول، دترکیبونو وېش او پېژندل او د جملو تړل تر هر څه مخکې د ماشومانو د ترانو او سندرو له لارې ښه زده کېږي. ځینې هوښیار او ذهین ماشومان که د ترانو او سندروجوړښت ته ځیر شي، کولی شي په خپله یو شمیر داسې وطنی سندرې او حماسي ترانې جوړې کړي، چې داهم د ماشومانو د ادبیاتو په بڼاینه کې مرسته کولی شي. ترانې زده کول او په لوبو کې د همدغو ترانو ویل ماشوم سالمو بوختیاوو او ورزش ته هڅوي.

د ښوونې او روزنې ماهران وایي چې د ماشومانو په ذهني وده او شخصیت جوړونه کې د کیسو او افسانو برخه ډېرهستره ده .( دا معلومه نه ده چې یوه قصه، افسانه او یا هم کرکټر کله په چا اثر کوي خو ماشومان هغه د ځان لپاره آیډیال او مثال ټاکي او د هغه په پله پل ږدي او د هغه د ژوند او یا هم د یوه افسانوي اتل په توګه خبرې اوري، خو په یوه خاصه زماني مقطع کې داسې فکر کوي چې دی او هغه شخص یا اتل تر منځ ورته والی شته او د دواړو عقیدې، موخې او افکار سره یو دي او ماشوم تل هڅه کوي چې د مثبت کرکټر رول واخلي او ان د هغه اتل نوم په ځان ږدي او له همدې سره د هغه شخصیت جوړیږي، دا تول د سړي ژوند او موخې بالکل بدلوي او له هغه یو بېل کس جوړوي چې د لومړي کس په پرتله به پوخ پر ځان ډاډه او د ټاکلو موخو څښتن وي) (۳: ۱۶۱)

**د ماشوم په ذهني وده کې د ادبیاتو اغېز:**

- د زده کړې لپاره د ماشوم په وجود کې د تجسس، علاقې او استعداد پارونه
- د ملي یا رسمي ژبې په زده کړه کې مرسته
- د جرات، توانایی، خبرو او لیکنې روزنه او تمرین
- د هنري ذوق او علاقې پیدا کول
- د فکر او شعور هدایت او تربیت د لوستلو، لیکلو او اوریدلو په وسیله
- په غیر مستقیمه توګه له ماحول او نړی سره د ماشوم اشنا کول.

- د ماشوم د مثبتو رغبتونو او غوښتنو روزنه او وده
- د ماشوم اخلاقي لارښوونه پرته له اجباره
- د ماشوم د ټولنيز ميل، صادقانه همکارۍ او صميميت وده او روزنه
- د ماشوم د شخصيت هر اړخيزه وده
- په ماشوم کې په ځان د باور کولو او هدف لرلو قوه
- مطالعې ته د ماشوم هڅونه

(۸: ۹۳- ۹۸)

**د ماشوم ادب موخې او ګټې:**

- له ازادې مطالعې سره د ماشوم مينه پيدا کول
- د ځان او چاپيريال په هکله ماشوم ته سم معلومات ور کول
- د ځان پاکۍ او روغتيا په هکله معلومات ور کول
- د ماشوم د فکري بلوغ په برخه کې مرسته
- د ماشومانو د ذهني استعدادونو موندل او پارول
- له نړۍ او بېلابېلو بشري فرهنګونو او تمدنونو سره د ماشوم اشنا کول
- د ماشوم د بېکاره يا تشو وختونو ډکول
- د درسي کتابونو د کميو او محدوديتوو جبران او ډکول
- له ښوونکو سره د ښوونې او روزنې په برخه کې مرسته کول

(۷: ۹۰ـ ۹۱)

## پايله:

د دې مقالې د بشپړېدولپاره لـه هراړخيـزې څېړنې،غـور او دقت وروسـته دې پايلې ته ورسېدم چې دپښتو ادب په ولسي برخـه کـې د ماشـوم ادبيـات يـوه داسـې مهمه،بارزښته اوقېمتي پانګه ده چې اغېزاو تاثيرات يې پـه کوچنيـانو کـې لـه ورايـه څرګنديږي او هېڅوک پرې سترګې نه شي پټولی.

داچې د ښـوونې او روزنـې پوهـان وايـي چـې د ماشـومانو پـه ذهنـي وده او شخصيت جوړونه کې د کيسو او افسانو برخه ډېره ستره ده،نـو لـه همدغـه ځايـه ده چې ماشوم هر څه ژر له دغسې فولکلوريکو ارزښتونو څخـه زده کـړه کـوي او د دغـه ولسي ادب تخليق که د لويانو لـه خـوا پنځـول کېـږي او کـه د کوچنيـانو پـه واسـطه

منځته راځي منځپانګیزه موخه یې ماشومان دي،یعنې د کوچنیانو د ژوندانه ټولې خواوې لکه روزنه،شخصیت،ادب، د کلمواوخبرو زده کول،د ښه او بد تشخیص اونور په بر کې نیسي، نو ویلای شو چې په کوچنیانو دماشوم ادب اغېزې خوراډېرې دي.

**مناقشه:**

مخکې مو ورته په وار وار اشارې وکړې د ادبیاتو په برخه کې ډېرو لیکوالو خپلې هڅې کړي او کوي یې،خو د دې مقالې ځانګړنه په دې کې ده چې په دغې ټاکلې موضوع کې چاهڅه نه وه کړې.

ما چې کومه موضوع خوښه کړې او کار مې پرې کړی ډېره زیاته مهمه ده او د ارزښت په هکله یې ډېر څه وویل شول، د دې لیکنې مهم والی د ماشوم له مهم والي سره تړلی دی. که چېرې ماشوم مهم نه وای او د هغه پالنه او روزنه موږ ته با ارزښته نه وای، نو ډېر کله به مو خپله راتلونکې ورپورې نه تړله، نو موږ ته د ماشوم ښه روزنه ارزښت لري غواړو په ښه او وړ چاپېریال کې وروزل شي، نو د ماشوم ادبیات هم په همدې لحاظ مهم او حیاتي دي.

په دې مقاله کې که چېرې روښانه شوه چې په کوچنیانو د ماشوم ادب اغېزې خورا ډېرې دي،نو کولای شي چې په دغه برخه کې له لوستوونکو اومحصلینو سره په زړه پورې مرسته وکړي،ځکه یاده موضوع د درسي ممدپه توګه هم کارول کېږي.

**وړاندیزونه:**

۱- دا چې د ادبیاتو په بېلابېلو برخوکې ډېرو ادیبانو،لیکوالو او اړوندو پوهانود پام وړ خدمتونه کړي، نود ماشوم ادب د لا پرمختګ،پیاوړتیا او ودې لپاره دې نور زیات کار هم وکړي.

۲- د ماشوم ادب د راټولونې او ثبتونې لپاره دې په مرکز او ولایاتو کې ټاکلې ځانګې جوړې شي.

۳- په پوهنتونونو کې دې د ماشوم ادب د کرېډېټونو شمېر زیات کړای شي.

۴- په ښوونځیو کې دې کوچنیانو ته اصلاحي روزنیزې ډرامې اوښوونیزکارتون ور وښودل شي.

## مأخذونه:

۱- احمدي، گل آغا، د ماشوم پر ذهني وده د فولکلوريکو قصو اغېز، مصور ورځپاڼه،۱۳۸۸ لمريز کال.

۲- رفیع، حبیب الله، د خلکو سندرې، دولتي مطبعه، کابل، ۱۳٤۹ لمريز کال.

۳- روهي، اناهيتا، زغم محب الله، غني نعيمه، يو ماشوم يوه نړۍ، مصور بنسټ، کابل، ۱۳۹۳ لمريز کال.

۴- روهي، محمد صديق، فولکلور پېژندنه، گودر خپرندويه ټولنه، ننگرهار، ۱۳۹۴ لمريز کال.

۵- عميد، حسن، فرهنگ عميد، اول چاپ، انتشارات امير موسسه کبير، تهران، ۱۳٦۳لمريز کال.

٦- غضنفر، اسد الله، د زرو هنداره، مصور بنسټ، کابل، ۱۳۹۰ لمريز کال.

۷- نژاد، شعاري علی اکبر، ادبيات کودکان، تهران، ۱۳٦۳ لمريز کال.

۸- ننگيال، آرش، په پښتو فولکلور کې د ماشومانو برخه، تاند ويب پاڼه، ۲۰۱۵ زېرديز کال.

۹- هاشمي، سيد محي الدين، ادبپوهنه، مهين خپرندويه ټولنه، پېښور، ۱۳۹۴لمريز کال.

۱۰- هاشمي، سيد محي الدين، د ادبپوهنې څانگې، ميهن خپرندويه، ۱۳۹۳لمريز کال.

څېړنوال محمداصف احمدزی

# پښتو ادب ته د نوي صنف (کاریکلماتور) راتګ

## لنډیز:

په شلمه زېږدیزه پېړۍ پښتو ادب تـه ځینـې اوړده او لنـډ نـوي ژانرونـو رانـوتـل، چې وروسته یې په دې ژبه کې ډېر انکشاف وکړ. دا چې پـه یوویشـتمه پېـړۍ کـې خلک د وخت له کمښت سره مخامخ دي، نو همدغې اجتماعي ستونزې پر ادب هـم اغېز ښندلی او له امله یې لنډ ادبي ژانرونه رامنځ ته شوي دي، چې یو له هغو څخـه «کاریکلماتور» دی، چې په دې وروستیو کې یې پښتو ادب ته لار مونـدلې ده. د دې لیکنې محور همدغه موضوع ده.

## سریزه:

پـه زیـاترو ژبـو کـې د ولسـونو تـرمنځ داسـې لـه معنـالرونکې او بشـپړې جملـې موجودې وې او دي چې انسان ته ټکـان ورکـوي، ویښـوي یـې، فکـر کولـو تـه یـې اړ باسي او بالاخره د خلکو او ټولنې د اصلاح او سمون لامل ګرځـي. دغـه ډول جملـې چې ببلابېل نومونه، لکـه لنـډې کلمـې، وجیـزې، نصـیحتونه، غـوره وینـاوې... ورتـه کارول شوي، زیاترو یې په چاپي مطبوعاتو کـې انعکـاس مونـدلی دی. د ځینـو هغـو لـومړني ویـونکي نـامعلوم دي او د ځینـو بیـا معلـوم حکـیمان، فیلسـوفان، پوهـان، لیکوال، شاعران، هنري او ادبي شخصـیتونه دي. یـو لـه همـدغو لنـډو جملـو څخـه «کاریکلماتور» دی، چې اوسمهال یو نـوی ادبي ډول ګڼـل کېـږي، چـې پـه پخوانیـو ادبیاتو کې یې په دې نوم کومه مخینه نه درلوده.

همدغو څرګندونو ته په کتو، په لاندې کرښو کې پښتو ژبې تـه دغـه نـوی راغلـی لنډ ادبي ډول (کاریکلماتور) په لنډیز پېژندل کېږي.

### د څېړنې اهمیت او مبرمیت:

د دې څېړنې اهمیت پـه دې کـې دی چـې پـه پښـتو ادب کـې د یـوه نـوي ژانـر رامنځ ته کېدل په ډاګه کوي. دا چې پـه اوسـنۍ زمانـه کـې لوسـتونکي د وخـت لـه کمښت سره مخامخ دي، نو د دې لپاره چې داسې څه ولولي چې هم یې وخـت کـم ونیسي او هم یې ادبي تنده خړوبه کړي، نو دغه کار د کـاریکلماتور پـه چوکـاټ کـې ښه ترسره کېدای شي چې همدغه موضوع په دې مقاله کې غځول شوې او همـدا د دې څېړنې مبرمیت تشکیلوي.

### د څېړنې موخې:

د دې څېړنې موخه دا ده چې جوته شي، د پښتو ادب لمـن لکـه څنګـه چـې پـه تېرې شلمې پېړۍ کې په بېلابېلو نثري ادبي ډولونو ډکه شوې، په دې وروستیو کـې یوه بل ادبي ژانر هم په کې سر را اوچت کړی، چې ادبپوهانو ورته د کاریکلماتور نـوم ایښی دی. د دغه په زړه پورې ادبي صنف په چوکاټ کې پښتنو لیکوالو پـه شـعوري او غیر شعوري ډول خپل قلم ازمویلی، چې په دې لیکنه کې وربانديې بحث کېږي.

### د څېړنې پوښتنې:

ایا پښتو ادب اوس هم د دې جوګه دی چې نوي ژانرونه ومني؟

ایا په پښتو ادب کې د کاریکلماتور پـه نـوم څـه شـته کـه نـه؟ او کـه وي پـه کـوم وضعیت کې دی؟

په پښتو ادب کې دا نوی راغلی ژانر مقبولیت لري که نه؟

### د څېړنې روش یا میتود:

په دې مقاله کې له تشریحي - تحلیلي میتود څخه استفاده شوې ده.

### د مقالې متن:

کاریکلماتور (Karikalamtor) یوه ترکیبي کلمه ده، چې:

۱- د ځینو په خبره، دغه کلمه له دوو لغتونـو (کاریکـاتور) انګلیسـيـ او (کلـمات) عربي څخه جوړه شوې ده(۱).

۲- دغه راز ویل شوي چې ایراني لیکوال احمد شاملو دغه نوم د «کاریکـاتور» پـه سیاق د «کاري + کلمات + ور» له ترکیب څخه جوړه کړې ده(۲).

خو د پښتو ژبې لیکوال عبدالله الهام جمالزي، چې لـه لنـډو لیکنـو سره لېوالتیـا لري او په پښتو ژبه یـې کاریکلماتورونـه لـیکلي او هـم ژبـاړلي دي، د کـاریکلماتور د لغت پرځای «کاریکاتوري» لفظ غوره بللی دی.

دی وایي: «کاریکاتوري» د "کاریکاتور" او "تـوري" لـه کلمـو څخـه مشـتق شـوې، چې لومړی ځل په پښتو کې کـارول کېـږي. دا داسـې نـثر دی چـې یـو ترسـیمي او کاریکاتوري طنز په تورو کې بیانوي، چې تر ډېره سیاسي، اخلاقي، ټولنیز او ځینـې وخت عاشقانه موضوعات په ځان کې رانغاړي(۳).

ویل شوي چې، هماغه کار چې کارتونست یـې د نقاشـۍ او انځـورګرۍ پـه نـړۍ کې کوي، کاریکلماتور لیکونکی دغه کار د ژبې په حوزه کې ترسره کـوي(۴). همـدا ده چـې شـاملو وایـي، د شـاپور لیکنـې هغـه کاریکاتورونـه دي چـې پـه کلمـو سره بیانېږي.

پوهنمل محمود نظري وایي، کاریکلماتور لنډو، مګر حکیمانه خبرو ته وایي(۵).

ډاکټر شمیسا په خپل کتاب (انواع ادبي) کې لـه کـاریکلماتور څخـه د یـوه نـوي ادبي ډول په توګه یادونه کړې ده(٦).

منیـژه بـاختري بیـا څرګنـدوي، چـې پـه کـاریکلماتور کـې بذلـه او مطایبـه چـې پشتوانه یې تعجب، ژور فکـر او غالبـاً فلسـفي دی، د یـوې لنـډې او ښـې جملـې پـه قالب کې له ادبي ظرافت سره په ملتیـا بیـانېږي او پـه هغـه کـې معناګـانې، د لغـت اړیکه له مادي تجسم او پټ شوی ایهام څېړل کېږي.

د کاریکلماتور لیکوال د شیانو او موضوعاتو ترمنځ اړیکه کشفوي او داسې سوژې وړاندې کوي، چې تراوسه چا پام نه دی ورته کړی(۷).

دغه لنډ طنز ډوله نثر دی چې په ډېرې سنجیدګۍ سره تفکر راولاړوونکې او کله انتقاد ډولـه او آن شـاعرانه نقطـې پـه ایجـاز سره مطـرح کـوي او پـه ورتـه وخـت کـې طنزډولـه موسـکا پـه شـونډو راولي، لوسـتونکی د ښـکلاوو، ابهـام، پوښـتنو او ترخـو واقعیتونو نړۍ ته له ځان سره بیایي(۸).

جمالزی وایي، د کاریکلماتور لوستونکي باید د تورو تر شا محتوا ته دقـت وکـړي، ترڅو نتیجه تر لاسه کړي. د کاریکلماتور د هرې جملې له لوستلو وروسته لوستونکی اړ کېږي چې نوی او ناتجربه شوی فکر وکړي. په نورو ژبـو کـې کـاریکلماتور تـه ورتـه

جملې ادیبانو داسې ونې بللې، چې هره ورځ یې وینو او ظاهري نظر پرې اچـوو، خو پام نه ورته کوو، لکه داسې واقعیت گرځېدلی چې ورسره عادت شوي یو(۹).

**مخینه:**

د کاریکلماتور په نامه د دې ژانر مخینه په لرغونو ادبیاتو کې نه تر سترگو کېږي، خو کېدای شي په نثر او نظم او یا ولسي ادبیاتو کې دا ډول بېلگې پیدا شي.

عبدالله جمالزی وایي، په پخوانیو ادبیاتو کې نه په دې نامه څه شته دي او نه پـه سبکونو او ژانرونو کې یاد شوی، خو کېدای شي په دې تول پوره او دې ته ورته گڼـې بېلگې یې، هم په نثر او هم په نظـم کـې وموندل شي. فکـر کېـږي چـې پـه نړیوالـو ادبیاتو کې د کاریکلماتور په څېر لیکنې تـر ډېـره د فرانسـوي نـاول لیکـوال ژیلـبرت سیسبرن (۱۹۱۳ - ۱۹۷۹) له آثارو په اغېز کې دود شوې وي، ځکه د هغـه پـه آثـارو کې تر ډېره دا رنگ کلمات او د لیکلو هنر لیدل شوی دی(۱۰).

دغه راز د ویلو ده، چـې دغـه لنـډې لنـډې کربښـې (کاریکلماتورونـه) د ایـران پـه ادبي او فرهنگـي کړیـو کـې لـه خـورا تـاوده هـرکلي سره مخـامخ شـوي او غښـتلي لیکوال، لکه پروېز شاپور، رسول مرادي، حسین مقدسي... لري. احمـد شـاملو چـې «خوشه» مجله یې په مدیریت چاپېده، د لـومړي ځـل لپـاره پـه ۱۳٤٦ لمریـز کـال د پروېز شاپور (۱۳۰۲- ۱۳۷۸) د لیکنو لپاره د کاریکلماتور نوم و کاراوه(۱۱).

همـدا ده چـې منیـژه بـاختري وایـي، اساساً دغـه کلمـه احمـد شـاملو د خپـل هېوادوال پروېز شاپور د لنډو او له فکره ډکو نکتو یا جملـو لپـاره کـارولې وه. سره لـه دې چې په تېرو بډایو ادبیاتو کې هم ظریفې نکتې او له فکـره ډکـې بـذلې (مرغوبـه وینا) موجودې وې، خو په فارسي ژبـه کـې شـاپور پـه جـدي ډول د دې طنـزي ډول مبتکر او مبدع گڼل کېږي.

د لنډو کلمو په برخه کې چې چا ډېر کار کړی، هغـه پروېـز شـاپور دی، چـې پـه همدې برخه کې یې څو کتابونه لـیکلي دي، لکـه: دارالمجـانین فکاهیـات، کلـمات بالدار، ارا و عقاید.

د نوموړي په کاریکلماتورونو کې لاندې خصوصیتونه وینو:

- ✓ ځینې یې د طنز او یا ظرافت تومنه لري.
- ✓ ځینې یـې د ژور ذهنـي او عـاطفي احسـاس لـه مخـې جوړ شـوي دي

- ✓ ځینې یې عقلاني دي.
- ✓ ځینې یې له عقلانیت څخه قصداً تښتي(۱۲).

په افغانستان کې په ترجمان طنزي جریده کې په کوچنیو قالبونو کې طنز ډوله جملې خپرې شوې دي.

**په پښتو ادب کې:**

پښتو ادب ته د شلمې پېړۍ په رابرېدو سره، یو شمېر نوي نثري ژانرونه رانـوتي، چې وروسته یې په پښتو ادب کې ښه پالنه شـوې او وده ورکـړل شـوې ده، چـې دې لړۍ بیا دوام کړی او دا دی په دې وروستیو کې د کاریکلماتور په نوم یو نوی خـوږ او لنډ ژانر، زموږ ادبیاتو ته لاره موندلې ده.

سره له دې چې دا ژانر اوسمهال نوی او تازه دی، خـو بـاور لـرم چـې د وخـت پـه تېرېدو سره به لا وغوړېږي، ځکه د نن ورځې ځوانان او څېړونکي خپل یـو څـه وخـت ټولنیزو رسنیو، لکه فېسبوک، ټویټر... ته ورکوي، نو دا خوښـوي چـې لنـډې لیکنـې ولولي، ځکه له یوې خوا د وخت له کمښت سره مخامخ وي او له بلـې خـوا لـه ځینـو هغو سره د اوږو کیسو او موضوعاتو لوستلو حوصله نه وي، نـو د کـاریکلماتور لوسـتل له دې اړخه ورته ډېر په زړه پورې وي او خوند ترې اخلي.

دغه راز په پښتو ژبه کې اوسمهال یو شمېر لیکوالو کاریکلماتورونه لـیکلي او هـم ژباړلي دي، چې په دې برخه کې د عبدالله الهام جمالـزي او مصـطفی صـفا نومونـه اخیستلی شو. ښاغلي صفا د پرویز شاپور کاریکلماتورونه د «باران زمزمې» تر سرلیک لاندې اثر کې پښتو ژبې ته ژباړلي دي.

سره له دې چې کاریکلماتور زموږ په ادبیاتو کې یوه نوې او تازه تجربه ده، خـو زه چې د لوستونکو تمایل، دې ادبي ډول ته گورم او دا چې دا دی په دې وروستیو کې د کاریکلماتورونو ټولگې چاپېږي، نو داسې راته برېښـي چـې د پښـتو ادب پـه ورشـو کې به د وخت په تېرېدو سره، دغه گل لا وغوړېږي.

جمالزی وایي، په دې وروستیو کې په ټولنیزو شبکو کې په تېره بیا فېسبوک کې بېلابېلې کنایې او کاریکلماتور جملو ته ورته لیکنې لیکل کېږي، چـې ځینـې وخـت حتی عنوان هم کنایه ورته ټاکي او ځینې وخت یواځې جملـه وي، چـې پـه حقیقـت کې هماغه کاریکلماتور دی(۱۳).

په رښتیا هم، کله چې زه خپل فېسبوک گورم، نو کله کله له داسې لنډو طنزي جملو سره مخامخ کېږم، چې په حقیقت کې هماغه کاریکلماتورونه دي، چې پورته پرې بحث وشو، خو لیکونکی یې دې نامه ته متوجه نه وي، چې ښې بېلگې یې د لیکوال او شاعر نعمان دوست دي.

هیله ده، په راتلونکي کې د دغه ادبي ډول د ښو او ځلېدونکو بېلگو شاهدان واوسو.

پاتې شوه، په پښتو ژبه کې د دې نوي ژانر نومونه. په دې اړه دوه نظریې موجودې دي. خو مخکې له دې، د ویلو ده چې په ادبیاتو کې لومړی د لیکنې ډول یو فورم رامنځ ته کېږي، چې وروسته بیا څېړونکي او ادبپوهان هغه ته یو نوم ټاکي او د بېلگو له مخې یې ځانگړنې او لیکنی چوکاټ ټاکي.

د کاریکلماتور د نومونې په اړه دوه نظریې دا دي:

۱- یوه دا چې، لکه پورته چې ورته اشاره وشوه، د هغه لپاره یې د «کاریکاتوري» نوم غوره کړی دی.

۲- بله نظریه دا ده، چې هغه کاریکلماتور وبلو، لکه ښاغلي مصطفی صفا چې وایي: په ایران کې دغو لیکنو ته د کاریکلماتور نوم ورکړل شوی دی. په پښتو کې نه پوهېږو چې څه نوم ورته کېږدو، خو غوره دا ده چې لومړی باید خپلو خلکو ته دغه شی په همدغه نوم ور وښیو او بیا وگورو، چې په اړه یې د دوی غبرگون څه دی. په ادبیاتو کې زیاتره وخت یو شی رامنځ ته شي او بیا وروسته د هغه نوم، ژانر، سبک او نورې ځانگړتیاوې ټاکل کېږي. پر دغه ډول طرحو ښایي په پښتو ژبه کې هم چا قلم ازمویلی وی(۱۴).

زما په نظر، په پښتو ژبه کې د دې لنډ طنزي ژانر لپاره هماغه د کاریکلماتور نومونه به سمه برېښي.

**ځانگړنې:**

هر ادبي ډول د خپل پیدایښت په پیل کې مشخص چوکاټ او قوانین نه لري، خو د وخت په تېرېدو او د ځو نورو نمونو په پنځېدو سره یې، د هغو له اصلي بېلگو څخه لیکنی چوکاټ جوړېږي.

کاریکلماتور نثر دی، د ویناوو انځوریز کولو لپاره د ژبې لوبه لري، طنز لري. د معنا له پلوه صراحت لري. کاریکلماتور د یوې کلمې له څو معناګانو ګټه اخلي. ایجاز د کاریکلماتور له ځانګړنو څخه دی. په کاریکلماتور کې، لکه هندي سبک یو ډول نازکخیالي لیدل کېږي، غافلګیري لري، چې له شعري غافلګیرۍ سره فرق لري، په کاریکلماتور کې د خوند او لذت ډول له شعر سره توپیر لري(۱۵).

کله کله د کاریکلماتور عنوان په طنزي کلمو، له کلمو سره لوبه او شوخي کولو باندې هم اطلاقېږي، چې دا ډېر مانع او جامع نظر نه دی. ځکه په دې صورت کې هر ډول ژبنۍ لوبه کاریکلماتور بلل کېدای شي، په داسې حال کې چې کاریکلماتور د هغو ژبنیو لوبو ډله رانغاړي، چې د ژبې د تصویري او لیدني کولو اړخ خوا ته کوښښ کوي.

لیکوال د یوې کلمې د معنا له اړخه ور اخوا یو بل ګام اخلي او تصویري حوزې ته ننوځي. په حقیقت کې کاریکلماتور باید هغه ډول لیکنو ته وویل شي، چې د کلمو له ځواک او قوت څخه په استفادې، که هغه د شکل په حوزه کې او که د معنا په حوزه، وکولی شي یو ګرافیکي او لیدنی طرحه تصویر کړي، لکه عمران صلاحي چې وایي: هر هنر د خپل بیان لپاره خپل وسایل لري او د کاریکاتور د بیان وسیله خط ده، خو کاریکلماتور لیکونکی دغه دنده د کلمې په غاړه ایښې ده. هغه چې څنګه په خط لیکل کوي، په کلمې سره کاریکاتور رسموي.

د کاریکلماتور د تصویري اړخ وراخوا، دوو نورو ټکو ته یې هم باید پام وشي او هغه داچې:

ایجاز او لنډون ته، چې د کاریکلماتور له اصلي بنسټونو څخه دی، پام وشي. باید ډېرې خبرې په لنډې جملې کې وشي.

د کاریکلماتور بل بنسټ طنز دی، همدا هغه څه دی چې لنډې او له حکمته ډکې خبرې له کاریکلماتور څخه جلا کوي(۱٦).

شاپور تر ټولو لنډ خط یا لیکه د خپلې طرحې او تر ټولو کوچنۍ کلمه د خپل طنز لپاره کاروله. هغه به ویل: ولې اسراف وکړم او یوه اضافه کرښه په خپله طرحه کې مصرف کړم، دغه کرښه ساتم او پر هغه یوه بله طرحه جوړوم(۱۷).

یوه بل ځای کې بیا د کاریکلماتور ځانګړنې تضاد، ایهام (شک او ګومان کې اچول)، تخیل، ابتذال او طنز(۱۸) بلل شوي دي.

عبدالله جمالزی لیکي، دا چې کاریکلماتور هم مینیمال لیکنه ده، خو اصلي چورلیځ یې طنز دی، نو شایي همدا ځانګړنه یې له نورو ژانرونو په آسانه بېل کړي.

کاریکلماتور یواځې د لوستونکي د خندولو موخه نه تعقیبوي، بلکې ډېری وخت په بشپړ جدي ډول یوه موضوع بیانوي.

ځینې وخت داسې فکر هم پیدا کېږي، چې کاریکلماتور داسې نثر دی چې ویل کېدونکي لیدل کېدونکي (تصویري/انځوریز) کړي.

د معنا له لحاظه تر ډېره صراحت لري، حتی ویل کېدای شي معنا یې د تورو او کلمو پر مخ د نقاب په شان غوړولې،

کاریکلماتور دغه راز د کلمو له څو معناوالي هم استفاده کوي، یوه کلمه چې څو معناوې ترې اخیستل کېدای شي، په کاریکلماتور کې ښه طنزي معنا او مفهوم انځورولای او وړاندې کولای شي.

کاریکلماتور تر ډېره د ورځنیو پېښو او سملاسي موضوعاتو لپاره وړ چوکاټ دی او تر ډېره ورځني موضوعات په کې ځایول کېږي.

مطلب دا چې، لنډون او مینمالیزم یې ځانګړنه ده، تر ټولو ستره هڅه یې دا ده، چې په تر ټولو لږو کلمو او حتی لږو ممکنه تورو سره د هدف وړ ترسیمي او کاریکلماتوري موضوع په طنزي بڼه ولیکي(۱۹).

په «هنر طنز پردازي» اثر کې جلال نوراني لیکلي، چې کاریکلماتور یوه له لاندې ځانګړنو څخه هرومرو لري:

- ✓ یو پند لري.
- ✓ سړي ته ټکان ورکوي.
- ✓ ویښوونکی او تفکر راولاړوونکی اثر لري.
- ✓ استهزا لري او پر یوه بشري خصلت یې حمله کړې وي.
- ✓ نېک خصلتونه یې ستایلي وي.
- ✓ د یوه فرد بکر، ښکلي او عاطفي احساس ته یې انعکاس ورکړی وي.
- ✓ د ظرافت خپرولو او د نورو د خوښ ګرځولو هدف لري.

- ✓ نبوغ ننداري ته وړاندې کوي(۲۰).

جلال نوراني وايي، دغه لنډې کلمې یا کاریکلماتور د طنز لیکنې لپاره لنډ قالبونه هم کېدای شي.

نو په لنډه توګه ويلی شو، چې د دې ژانر لیکل ډېر وخت نه غواړي، خو فکر غواړي. نو کله هم که څوک فارغ وخت ولري، کولی شي يو فکر د کلمو په بڼه تصوير کړي.

ډولونه يې:

منيژې باختري کاريکلماتور په دوو جدي او طنزي ډولونو وېشلی دی.

په لومړي نوع کې شاعرانه او فلسفي نکتې مطرح کېږي، چې خندا په خپل متن کې پټوي او کله کله خندوونکی نه وي او په طنزي نوع کې بيا خندا ښکاره ده(۲۱).

په يوه بل ځای کې بیا راغلي، چې که دقيق وکتل شي، کاريکلماتورونه په دوو ادبي او غير ادبي ډولونو وېشل کېږي(۲۲).

له دې ور اخوا کله چې د کاريکلماتورونو بېلګو ته متوجه کېږو، نو وينو چې فلسفي، سياسي او ټولنيز کاريکلماتونه هم شته.

### له کیسه ګۍ او لنډو ويناوو سره يې توپير:

په لنډون کې د کاريکلماتور، کيسه ګۍ يا هم د لنډو لنډو جملو او ويناوو تر منځ چې قصار جملې يې هم بولي، ډېر توپير نشته، مګر ژور توپيرونه لري. کيسه ګۍ هڅه کوي په تر ټولو لږو ممکنه کلمو کې يوه کيسه او صحنه انځور کړي، خو کاريکلماتور تر ډېره په طنزي بڼه يوه لنډه وينا ده او له نورو ويناوو سره يې توپير دا دی، چې هغه ويناوې د پوهانو او مشرانو له ويناوو څخه را اخيستل شوې، لکه د کنفوسيوس او سقراط او ... خو کاريکلماتور لنډې طنزي جملې دي چې په ورځنيو موضوعاتو راڅرخي(۲۳).

د کاريکلماتور مثالونه:

د پرويز شاپور کاريکلماتورونه:

- چاپړوسان هغه ذره بينونه دي چې اشخاص لويوي.
- پيشو تر نورو ډېره د قفس د مرغۍ د ازادۍ په فکر کې ده.

- د شاتو موچۍ د جعلي شاتو په لیدلو سره ګوته په غاښ نیسي.
- د موږک د مصرف تاریخ، پېشو ټاکي!
- جفاکارې معشوقې مې د سترګو هوا باراني اعلان کړه.
- زړبوډي مې نه پرېږدي چې خپله ځواني په هنداره کې ووینم.
- سلام اچول، تر سلام نه اچولو اسانه دی.
- د دې لپاره چې د اوښکو څاڅکې مې د باران له څاڅکو سره اشتباه نه کړم، په باراني ورځو کې نه ژاړم.
- نړۍ یو لوی قفس دی.
- خبرې یې د ساعت د ترپ ترپ غوندې تکراري وې.
- د اوښکو په مخصوص وزن مې معشوقه پوهېږي.
- زړه مې د مړینې په احترام، سکوت اعلان کړ(۲۴).

**فلسفي:**

- سکوت د فریاد پټنځای دی.
- د ژوند فریاد د هدیرې په سکوت کې کېښنی (ژباړه).
- زړه مې د نړۍ تر ټولو ګڼ مېشت ښار دی (ژباړه).
- د باران څاڅکی کوچنی سمندر دی (ژباړه).

**سیاسي:**

- زموږ د چم مرغان له ځالو نه را وځي، دلته پسرلني عملیات پیل شوي. (نعمان دوست)
- د کابل له غاصبانو شک نشته چې د آزادۍ منار هم غصب کړي.
- د کابل چارواکي د تفریح پیسې دوشنبې ته ساتي.
- تر ټولو بې سره کور د ملت کور دی.

**ټولنیز:**

- چې په سترګو کې مې اوښکې خلاصې شوې، خاندم (ژباړه) .
- خپل جسد مې ډاکټر ته ور تحفه کړ (ژباړه) .
- نه مې په یادېږي چې کوم ړانده دې ټېله کړی وم. (ژباړه).

- د شیطان وروستی چل صداقت دی.
- د حیواناتو سیاستوال ګیدړه وي.
- د ځینو ږیره اوږده نه وي، خو ښېګڼې یې اوږدې وي.
- نه پوهېږم چې دا بې پلوه له کوم پلوه بې پلوه دي؟
- نارې مه وهه، دلته ځوک د چا سکوت هم نه اوري.
- کله دې چې څېره بدرنګه ده، آینه څه ملامته ده؟ (ګوګول)(۲۵)

عبدالله الهام جمالزی لیکي:

- ښکلا یې د ښکلا په وسایلو کې ده.
- د لوړ فکر والا ټیټ کار نه کوي.
- جنګ ته په تګ ځوک ډاکټر یا انجنیر نه جوړېږي.
- ځینې داسې وي، لکه د ډاکټر نسخه، نه لوستل کېږي.

د نعمان دوست له خوا لیکل شوي کاریکلماتورونه:

- وطن مې هغه جنت دی چې له دوزخیانو ډک دی.
- نوره نړۍ کې خلک له وحشي ځناورو وېرېږي، خو دلته له اهلي انسانانو.
- ځینې د دې لپاره هره خبره کې مخالفت ښیي، چې ځان هوښیار ثابت کړي.
- زموږ هر نسل د خپل دور وحشت تجربه کوي.
- زموږ پر خلکو ځوک (نور) وېشي او ځوک (نار).
- د اوبو څښلو لپاره د خدای (ج) اجازې ته ګوري، خو د وینو څښلو لپاره نه!
- نن شپه د روداتو جومات خپلو لمونځ کوونکیو پسې چیغې وهي.
- د امت مسلمه لپاره شعارونو مو ژبه تناکه کړه، خو د سلما بند هندوستان جوړ کړ.

**پایله او وړاندیزونه:**

سره له دې چې کاریکلماتور پښتو ادبیاتو ته په دې وروستیو څو کلونو کې لاره موندلې ده او زموږ په ادبیاتو کې نوی او تازه راوارد شوی ژانر بلل کېږي، هیله ده چې د وخت په تېرېدو سره به وده ومومي او وبه غوړېږي.

په دې برخه کې به  زما دغه څېړنه يواځې د دې بحث پيلامه وي، هيله ده، نور څېړونکي په دې اړه لا ډېرې څېړنې وکړي او هم له ليکوالو او شاعرانو څخه غوښتنه کېږي، چې د کاريکلماتورونو په ليکلو خپل قلمونه وازمويي.

**مأخذونه:**


١) منيژه باختري، انگبين نيشخند و شرنگ نوشخند (جستاری در باب طنز پردازی در پهنه ای ادبيات زبان فارسی دری در افغانستان)، بنياد انتشارات پرنيان و انتشارات سعيد، ١٣٨٨لمريز کال، ١٣٨ مخ.

٢) https://fa.wikipedia.org/wiki/%DA%A٩٪D٨٪A٧٪D٨٪B١٪DB٪٨C%DA%A٩٪D٩٪٨٤٪D٩٪٨٥٪D٨٪A٧٪D٨٪AA%D٩٪٨٨٪D٨٪B١

٣) عبدالله الهام جمالزی، کاريکاتوري (مقاله)، تاند وېبپاڼه (http://www.taand.com/archives/٣٦٦٥٨)، د ډيسمبر ١٨مه، ٢٠١۴م کال.

٤) http://www.tebyan.net/newindex.aspx?pid=١٢٦٠٢٤

٥) پوهنمل محمود نظري، طنز څه شی دی؟ دانش خپرندويه ټولنه، ١٣٨٧ل کال، ۴٢مخ.

٦) هنر طنز پردازی، ۵٣۵ مخ.

٧) انگبين نيشخند و شرنگ نوشخند، ١٣٨ مخ.

٨) http://www.tebyan.net/newindex.aspx?pid=١٢٦٠٢٤

٩) عبدالله الهام جمالزی، کاريکاتوري (مقاله).

١٠) پورتنی ماخذ.

١١) https://fa.wikipedia.org/wiki/%DA%A٩٪D٨٪A٧٪D٨٪B١٪DB٪٨C%DA%A٩٪D٩٪٨٤٪D٩٪٨٥٪D٨٪A٧٪D٨٪AA%D٩٪٨٨٪D٨٪B١

١٢) هنر طنز پردازی، ۵٣۴- ۵٣۵ مخونه.

١٣) عبدالله الهام جمالزی، کاريکاتوري (مقاله).

۱٤) مصطفی صفا (ژباړن)، د باران زمزمې، ۴مخ.
۱٥) https://fa.wikipedia.org/wiki/%DA%A٩٪D٨٪A٧٪D٨٪B١٪DB٪٨C%DA%A٩٪D٩٪٨٤٪D٩٪٨٥٪D٨٪A٧٪D٨٪AA%D٩٪٨٨٪D٨٪B١
۱٦) http://www.tebyan.net/newindex.aspx?pid=١٢٦٠٢٤
۱۷) http://honaronline.ir/Pages/Printable-News-٢٧٩٤٤.aspx
۱۸) https://fa.wikiquote.org/wiki/%DA%A٩٪D٨٪A٧٪D٨٪B١٪DB٪٨C%DA%A٩٪D٩٪٨٤٪D٩٪٨٥٪D٨٪A٧٪D٨٪AA%D٩٪٨٨٪D٨٪B١
۱۹) عبدالله الهام جمالزی، کاریکاتوري (مقاله).
۲۰) هنر طنزپردازی، نورانی، ٥۲٦مخ.
۲۱) انگبین نیشخند و شرنگ نوشخند، ۱۳۹مخ.
۲۲) http://www.tebyan.net/newindex.aspx?pid=١٢٦٠٢٤
۲۳) عبدالله الهام جمالزی، کاریکاتوري (مقاله).
۲٤) مصطفی صفا (ژباړن)، د باران زمزمې، بېلابېل مخونه.
۲۵) هنر طنزپردازی، نورانی، ۵۲۵- ۵۲۸مخ.

**څېړنوال سیدنظیم سیدي**

# د اوسنیو پښتو ادبي او ژورنالیستي ژباړو ستونزې

## لنډیز:

ژباړه له یوې ژبې څخه بلې ژبې ته د موخنې ژبې د منځپانګې داسې ژباړل دي چې لوستونکی هم پرې پوه شي او هم یې درک کړای شي، له بده مرغه زموږ په ځینې ژباړو کې بیا دغه مسئله ډېره جوته نه ده او داسې ژباړې هم لرو چې نه یواځې لوستونکی یې درکولی نه شي، بلکې لومړنی یا ساده معنا ترې هم نه شي اخیستلی، موخنه معنا خو یې پرځای پرېږده.

په دغه مقاله کې مې پښتو ژبې ته د ژباړې راتګ بهیر څېړلی او په دې مې خبرې کړي چې په لومړیو کې ژباړه څنګه وه، څنګه راغله او څومره په کنډه برابره وه، ورپسې مې د ژباړې په ډولونو خبرې کړي په څو ډوله ده او کوم ډولونه یې په پښتو ادب او یا په ټوله کې په پښتو ژبه کې د تطبیق وړ دي، تر هغې وروسته مې پوهنیزه یا علمي ژباړه څېړلې، مثالونه یې ورکړل شوي او بیا یې په ستونزو، ربړو او ننګونو خبرې شوي.

له علمي ژباړې وروسته ژورنالیستي ژباړه راغلې چې له بده مرغه اوسنۍ پښتو رسنۍ ټولې او یا کابو ټولې د ژباړې له لارې خپل مواد بشپړوي په داسې حال کې چې ژباړنان یې نه مسلکي کسان دي او نه هم دقیق چې مثالونه یې په مقاله کې ورکړل شوي او بیا یې سمې بڼې ښوول شوې دي او د مقالې وروستۍ برخه پر ادبي ژباړو چورلي چې کومې دي، څنګه دي او څنګه باید وي.

## سریزه:

په ټوله کې په معاصره دوره کې او په ځانګړې توګه له دوزرم میلادي کال راهیسې د پښتو ادب لمن له ژباړې څخه ډکه او مالامال ده، دومره زیاتې او

خوندورې ژباړې شوي چې د يوې مستقلې رسالې د ليکلو اوسيله غـواړي چـې له نېکه مرغه په دې برخه کې د اکاډمۍ ځينو استادانو کار پيل کـړی، خـو پـه ورتـه وخت کې دومره بې کيفيته، بې معنا او بې خوندې ژباړې هم شوي چـې پښـتو ادب يې له خپله اصلي لارې بې لارې کړې، نه يواځې ژباړې يـې بـې خونـده او بـې هـنره دي، بلکې نا اړينې هم دي، په دې معنا داسې مسايل را ژباړل شوي چې نه يـواځې په درد نه خوري، بلکې د پښتني ټولنې لپاره سرخوږی او فرهنگي ټکر، يرغـل او دې ته ورته معناوې ښندي، نو د دې لپاره چې دا او دې ته ورتـه مسـايل پـه ډاگـه شـوې وي، د مقالې منځپانگې ته به ځير شو:

## د څېړنې اهميت او مبرميت:

د دې څېړنې اهميت او مبرميت په دې کې دی چې د ژباړو سـتونزې، ننگـونې او ربړې به په کې په ډاگه شي او ترڅنگ به يې دا هم جوته شي چې د ژبـاړې آرونـه کوم دي، کومه ژباړه سمه ده او که کومه ناسمه، ژباړه بايد څنگه وي، د علمي، ادبي او ژورناليستي ژباړو آرونه او چوکاټونه کوم دي او څنگه يې پلي کولای شو او بـالاخره په پايله کې به يې د سمو او ناسمو ژباړو عملي چارې هم وښوول شي.

## د څېړنې موخې:

موخه يې دا ده چې ژباړه په عملي ډول ښوول کېږي او دا په ډاگه کېـږي چـې ژباړه تر ټولو زياته گرامر ته اړتيا لري، يعنې يو څوک لومړی بايد د ليکوالۍ په اصـولو پوه شي او بيا ژباړه وکړي او ترڅنگ يې د يوې ژبـې او ټـولنې ارزښـتونه هـم وپېـژني چې کوم شيان د ژباړې وړ دي او کوم نه ؟

## د څېړنې پوښتنې:

په دې ژباړه کې تر وسې وسې دغه لاندې پوښتنې ځواب شوې دي:

- ✓ ژباړه څه شی دی؟
- ✓ ژباړه په څو ډوله ده؟
- ✓ علمي ژباړه بايد څنگه وي؟
- ✓ ادبي ژباړه بايد څنگه وي؟
- ✓ ژورناليستي ژباړه څه شی دی؟
- ✓ ليک او ژباړه څه توپير لري؟

✓ کوم شیان باید وژباړل شي او دې ته ورته پوښتنې ځواب شوې دي.

د څېړنې میتود: په دې څېړنه کې له تشریحي، توضیحي او تر ډېره له انتقادي یا کره کتنیز میتود څخه استفاده شوې ده.

**متن:**

وړاندې تر دې چې د پښتو د اوسنیو ژباړو د ستونزو او ننګونو په اړه څه ووایم غواړم دا موضوع روښانه کړم چې زه یوازې ادبي او رسنیزې پښتو ژباړې تر څېړنې او ګروېږنې لاندې نیسم او هغو مسایلو ته یې نغوته کوم چې زما په نظر لویې او فاحشې تېروتنې دي، ځکه په دې وروستیو کې پښتو ادب ته د ژباړې بهیر ډېر ګړندی شوی چې له ټولو خوبیو سره سره یې خورا کافي زیانونه ژبې ته هم اړولي چې له بده مرغه دغه زیانونه به شعوري لړ، خو نا شعوري ډېر وي، نو د دې لپاره چې ګران ژباړنان مې دغې موضوع ته ځیر کړي وي او په ګانده کې د دغه ډول تېروتنو شعوري او ناشعوري مخه نیول شوې وي په اړه یې ځینې ستونزې درسره شریکوم، خو وړاندې تر دې چې دغو ننګونو او ستونزو ته ورشم اړینه بولم چې لومړی ژباړه معرفي کړم چې په خپله ژباړه څه شی ده، په څو ډوله ده، کله پیل شوې، لومړی ژباړه چا کړې او چېرته، کله پښتو ته راغلې، اوس څنګه ده او آرونه یې کوم دي؟

ژباړه: د ژبپوهانو په اند ژباړه له دوو مورفیمونو یا ترکیبونو څخه رغېدلې چې یو یې (ژب) او بل یې (اړه) ده، یعنې له یوې ژبې څخه بلې ته یې اړول یا را انتقالول، خو دغه را اړول باید کټ مټ وي او که د مفهوم له پلوه؟

دا هغه پوښتنه ده چې د همدغې څېړنې په بهیر کې به ځواب شي. ژباړې ته په پښتو کې ژباړه، په عربي او دري کې یې ترجمه او په انګریزي کې Translation وایي.

ادبپوهان یې په اړه وایي: ژباړه د ملتونو، توکمونو او ټولنو ترمنځ د یو بل د فرهنګ پېژندلو، د یو بل له علومو او تجربو څخه د ګټې اخیستلو ستره او اغېزناکه وسیله ده. (۱)

خو څېړنپوه نصرالله ناصر په خپلې یوې مقالې کې د ژباړې په اړه کاږي: "ژباړه د ژبې له پردو نه تېرېدل دي چې موخه یې له یوې ژبې نه بلې ته د لېږد د اړتیا پوره

کول او احساس او خبرتيا ور رسول دي، خو په دې شرط چې د هغه احساس حق په دوهمه ژبه کې هم په سمه توګه پر ځای شي." (۲)

يعنې که په دويمه ژبه کې يې حق په سمه توګه ادا نه شو، نو ژباړه له نيمګړتياوو او ستونزو څخه ډکه ده، خو بيا هم ورته ژباړه ويل کېږي او منکرېدل يې سمه خبره نه ده.

د ژباړې په اړه په يو بل تعريف کې لولو: "ژباړه په دوهمه ژبه کې د لومړۍ ژبې د پيغام د ډېر نږدې او طبيعي معادل پيدا کول دي، لومړی د «معنا» دوهم د «سبک» په لحاظ. يا ژباړه په دوهمه ژبه کې د لومړۍ ژبې د ډېر نږدې طبيعي معنايي او سبکي معادل پيدا کولو ته وايي." (۳)

په دغه تعريف کې پر معنا او سبک ټينګار شوی، البته په هنري کلام کې که د ليکوال سبک وساتل شي، نو غوره خبره ده، خو په عامه توګه د ليکوال د سبک ساتل ځکه شونې خبره نه ده چې ډېر ځله د ليکوال د زړه خبرې او احساس ژباړل نه يوازې ستونزمنه ده، بلکې په ځينو مواردو کې شونې هم نه ده، نو ځکه معنايي بدلون يې اړين دی، خو سبکي بدلون بيا يو څه د تأمل خبره ده، خو هغه تعريف چې ډېرو ادبپوهانو ته د منلو دی هغه دا دی: "ژباړه په اصطلاح کې د لومړۍ ژبې د کلمو لپاره د نېږدې او دقيق اندول موندلو ته وايي، خو چې د ليکوال ويندود (روش) او سياق خوندي وي. ***ژباړه له يوې ژبې نه بلې ته د افکارو، غوښتنو، کيسو، هنرونو، پوهنو او نورو د لېږد وسيله او د ناهمژبو خلکو ترمنځ فرهنګي ترېنت او اړيکه ده." (۴)***

په دغه تعريف کې څو مسئلو ته ځير کېږو، لومړی دا چې په ژباړه کې له موخنې ژبې څخه دوهمې ژبې ته د اندول کلمو موندل او راوړل اړين دي. کله چې د اندول خبره کوو، نو ورسره دا پوښتنه هم پيدا کېږي چې ايا ترادف يا مترادفې کلمې يو د بل معنا ښندي يا يو د بل ځای نيسي؟

موږ ډېر ځله مترادفې کلمې يو د بل پر ځای کاروو او داسې ګومان کوو چې يو د بل دقيق ځای نيولای شي، په داسې حال کې چې داسې نه ده، ځکه د استاد رفيع په شفاهي وينا که چېرې يو څوک د چا متن ژباړي او لږ تر لږه پنځوس سلنه يې سم وژباړي، نو ياد ژباړن لويه اتلولي کړې، معنا دا چې ژباړه له انځوره انځور

اخیستل دي او له انځوره انځور اخیستل بـه هرومـرو نیمگړتیـاوې، سـتونزې او پیکه والی لري، خو دا چې په دغه له انځوره انځور اخیستلو کې موږ مترادفې کلمې هم یو د بل پر ځای سمې او دقیقې ونه کاروو، نو ژباړه نوره به هم بې خونده او پیکـه کړو، د مثال په توگه: وفات شو، مړ شو، په حق ورسېد، پورې یـې پـرې کـړ، لـه حـق سره پیوست شو، زېړې تلې یې ونیولې، وازه خوله پـاتې شـو، چـارتراش شـو، لـه دې نړۍ وکوچېد، مردار شو، زموږ له منځه لاړ او داسې نور دا ټول مـترادف کلـمات دي، خو یو هم د بل په معنا نه دی، ځکه زېړې تلې یې ونیوې مړي تـه د غوصـې، قهـر او غضب معنا ښندي، خـو وفـات شـو، پـه حـق ورسـېد او خپـل عمـر یـې تاسـې تـه در وباخښه مړي ته د یو ډول درناوي او احترام معنا ښـندي، خـو مـردار شـو، وازه خولـه پاتې شو او داسې نور دا نو پر مړي د ملنډې وهلـو او سـپکاوي معنـا ښـندي، نـو کـه چېرې موږ د خپل او یا بل هېواد یوه مشهوره څېره چې پـه ټولنـه کـې یـې درنـاوی د پام وړ دی د هغه د مړینـې خـبر ژبـاړو او داسـې ووایـو چـې فلانـی د فـلاني ورور، د فلاني پلار او د فلاني زوی ژېړې تلې پروت دی او جنازه یې نن دوه بجـې پـه فـلاني جومات کې ده، نو آیا دغه جمله به پر یاد میت ملنډې نه وي، خو کـه ووایـو چـې پـه حق رسېدلی یا وفات شوی او جنازه یې نن دوه بجې… کې ده، نـو ایـا خـبره بـه مـو دقیقه او له درناوي ډکه نه وي!

دقیقاً زه چـې پـر کـومې موضـوع بانـدې بحـث کـول غـواړم موخـه مـې تـرې د همداسې مسایلو واضح کول دي، نه د هغو موضوعاتو او آرونو چې زموږ د ژباړې قـبر یې کېندلی.

په هر حال! د پورته پېژند په لومړي قید یا شرط کې د دقیقو او انډولو کلمو لـه موندلو او پیدا کولو څخه موخه همدغه باریکي او دقت دی دوهم قید یـا شرط یـې د لیکوال ویندود یا روش دی. البته ما پورتـه هـم پـه دې اړه لنـډه یادونـه وکـړه چـې د لیکوال د سبک یا روش ساتل به یو څه ستونزمنه خـبره وي، ځکـه ډېـر ځلـه د هـرې ټولنې هنري مراندې د بلې ټولنې له تقدس سره چندان برابرې نه وي، پـه دې معنـا زموږ په ټولنه کې د مور و پلار عزت کول او پـه ټولـه معنـا یـې درنـاوی کـول د دینـي وجیبې ترڅنگ فرهنگي، کلتوري او اخلاقي وجیبه هم بولي، مشر تـه درنـاوی کـول او خبره یې منل اخلاقي ښېگڼه ده پر کشر شفقت کول او سمې لارې ته یې سـمول

ایماني وجیبه بولو، خو په غربي ټولنه کې بیا دغه آرونه چندان د پاملرنې وړ نه دي، په دې معنا اولاد به له مورو پلاره خبر هم نه وي د ښاروالۍ مسوول کس به ورته زنګ ووهي چې پلار دې مړ دی او په فلانۍ هدیره کې په دومره بجو خارو ته سپارل کېږي. که اولاد یې وخت پیدا کړ ورغلی به وي او که وخت یې ونه موند، نو لږ تر لږه د مور و پلار وروستی دیدن هم نه کوي، په داسې حال کې که چېرې زموږ په ټولنه کې یو ځوک د خپل مور و پلار او یا هم د کورنۍ د کوم بل غړي وروستی دیدن ونه کړي، نو ټول عمر آرمانجن وي چې هغه وروستی دیدن یې هم راته نصیب نه شو او همداسې دا نورې کیسې یې هم در واخله. همدغه شان زموږ په ټولنه او کلتور کې د مشرۍ خبرې ته غوږ نیول او پرې عمل کول زموږ دیني او اخلاقي مسوولیت دی، خو هلته بیا مشرۍ او سپینږیری انسان تاریخ تېری بلل کېږي او خبرې ته یې د توت قدرې ارزښت هم نه ورکول کېږي، نو په داسې حالاتو کې د لیکوال د احساس او سبک ساتل ځکه ستونزمن کېږي چې موږ له کلتوري او تقدسي ټکر سره مخامخېږو او یا هم هغه احساس چې د موخنې ژبې لیکوال یې غواړي زموږ لیکوال یا ژباړن یې نه شي را انتقالولی، نو ځکه دغه آر تر ډېره په ټولو مواردو کې نه تطبیقېږي، خو په ځینو مواردو کې یې تطبیق بیا دومره د پیریانو ژبه نه وي.

خو که په همدغه تعریف کې بل تعریف ته ځیر شو، نو په هغه کې بیا ډېر څه مومو، په دې معنا په ورپسې تعریف کې لولو چې ژباړه له یوې ژبې نه بلې ژبې ته د افکارو، غوښتنو، کیسو، هنرونو، علومو او نورو مهارتونو د لېږد وسیله ده او ترڅنګ یې د دوو ټولنو او کلتورونو ترمنځ فرهنګي همغږي رامنځ ته کوي یا یو فرهنګ د بل فرهنګ له حاله خبروي او دا دقیقه خبره هم ده. په دې معنا په دې تعریف کې ګورو چې ډېر ځله لیکوال د نورو ژبو له فرهنګونو، کلتورونو او حالاتو له وضعیته خبروي، خو ډېر ځله مبتدي لیکوال او ژباړن بیا په دغه نزاکت پوه نه وي او پر ځای د دې چې د خپلې ټولنې او بلې ټولنې کلتوري ارزښتونه په پام کې ونیسي- د نورو ټولنو داسې وراسته، بې خونده او پیکه کلتورونه خپلې ژبې ته را وژباړي چې له زیان او فرهنګي یرغل پرته بله معنا نه شي ښندلی.

نو که د تعریف له بحثه را تېر شو د ژباړې په اړه دا او دې ته ورته تعریفونه شته، خو هغه تعریف چې زه یې وړاندې کول غواړم هغه دا دی: "ژباړه هغه هنر یا وړتیا ده چې مانا او منځپانګه، یعني ضروري پیغامونه، معلومات او پوهه پرې له یوې ژبې نه بلې ته اوړي." (۵)

په دغه تعریف کې موضوع یو څه روښانه شوې ده، په دې معنا له لومړي سره ویل شوي چې ژباړه هنر یا وړتیا ده او د دغې وړتیا په وسیله منځپانګه او معنا دواړه له یوې ژبې څخه بلې ته پرې داسې انتقالېږي چې هم د پوهېدنې او درک وړ وي او هره ژباړه چې دغه خوبی ولري بې له شکه بریالی ژباړه ده، خو البته ضروري معلومات، پیغامونه او علوم به را ژباړل کېږي، نه هسې خوشې بابولالې او بې ځایه شیان چې له ګټې یې زیان زیات وي.

که له دغه بحثه راتېر شو د ژباړې د نړیوال تاریخ په اړه هم ډېر روایات موجود دي، خو تر کومه چې ماته معلومه ده لومړنی ژباړن دقیق معلوم نه دی، خو پوهان وایي ***کله چې په نړۍ کې لیک او لیک لیکل دود شول، نو له دودېدلو څخه وروسته یې ژباړه هم پیل او ورو ورو عامه شوه، په دې معنا د هغه وخت له نشت امکانانو سره سره بیا هم هر چا ته به چې یو کتاب یا لیک خوند ورکړ، نو هغه به یې په خپله ژبه وژباړه چې په دې ډله کې یونانیانو لومړنی ژباړې وکړې او ډېر آثار یې له رومي ژبې څخه په خپله ژبه وژباړل.***

***څه موده وروسته د عباسیانو په وخت کې د یونانیا، هندیانو او رومیانو زیاتره فلسفي، کرنیز، هندسي، جغرافیوي، کیمیایي او د نجوم کتابونه په نورو ژبو وژباړل شول. له دې وروسته په وار سره له پهلوي ژبې نه (الف لیلة او لیلة) او (کلیله او دمنه) اثارپه عربي ژبه وژباړل شول چې په لږ وخت کې یې د ډېرو ژباړو له امله د مور ژبې نوم او حیثیت خپل کړای شو، خو عرب ژباړنان او لیکوال یوازې په دغه نوم بسنده نه شول او د ژباړې ترڅنګ یې پر خپلې ژبې لیکل او څېړل هم وکړل او ژبه یې دومره عامه کړه چې آن د نړۍ ګوټ ګوټ ته ورسېده.***

***هارون الرشید او مامون الرشید هغه عرب مشران وو چې له خپلې ژبې سره یې بې کچې مینه لرله او د همدغې مینې پر بنسټ یې خپلې ژبې ته د***

***اثارو د ژباړلو لپاره بيت الحکمه جوړه کړه او د دغې بيت الحکمې لپاره يې ځينې کتابونه د عمومي اهدافو*** په توگه وټاکل چې بايد را وژباړل شي چې په هغې کې زياتره علمي او مسلکي کتابونه وو، يعنې زياتره کتابونه يې له يوناني ژبې څخه غوره کړل چې بايد په عربي ژبه وژباړل شي او د ژباړې لپاره يې هم ډېر عالي ژباړنان په پام کې نيولي وو.

***په حنين بن اسحاق پورې تړلې مشهوره خبره ده چې ده به د دغې بيت الحکمې لپاره په پيسو ژباړه نه کوله، بلکې د خپل هر ژباړل شوي اثر په بدل کې به يې د کتاب د وزن هومره سره زر اخيستل او بيت الحکمې يا په تړوله کې خليفه گانو ورته دغه پيسې په ډېرې پراخې تندې ورکولې.***

پورته مې هم يادونه وکړه دا چې په عربي ژبه ژباړل او ليکل ډېر وشول، نو له امله يې عربي ژبه د ژبو مور وبلل شوه او د همدغه موروالي له امله د اسلام له خپرېدلو سره سمه هره خوا او سيمې ته خورېده چې په دې ډله کې فارس او پښتونخوا ته هم د اسلام وړانگې راغلې او دلته له عربي ژبې سره سره پارسي يا دري ژبه د عربي نړۍ له خوا د اسلام د دوهمې ژبې په توگه وټاکل شوه چې زياتره علمي، مذهبي او معلوماتي کتابونه له عربي ژبې څخه په پارسي واوښتل، فقهي او منظوم کتابونه هم په دري ***وژباړل شول چې د څه وخت په تېرېدلو سره دغه د عربي او پارسي ژبې کتابونه په پښتو هم وژباړل شول او په دې توگه په پښتو*** ژبه او ادب کې د ژباړې د بنسټ ډېره کېښوول شوه چې د وخت په تېرېدلو سره ورو ورو له نورو ژبو، لکه فرانسوي، روسي، انگليسي- او داسې نورو ژبو هم په پښتو ژباړې وشوې او د پښتو ژبې او ادب لمن يې پرې پراخه کړه. (٦)

پښتو ژبې ته د ژباړې راتگ:

دمخه يادونه وشوه چې ژباړه څنگه او له کومې لارې پښتو ادب ته راغله، خو د دقيقې نېټې په اړه يې ادبپوهان وايي چې پښتو ادب ته ژباړه په درېمې سپوږميزې پېړۍ کې راغلې چې هغه هم د نظم يا شعر له لارې ده او لومړنۍ ژباړه د محمدهاشم سرواني ژباړلی شعر دی چې د خپل يو عرب استاد ابن خلاد له ټولگې څخه يې ژباړلې چې ځينې بېتونه يې دا

دي:

ژبه هم ښه وینا کاندي چې یې وینه
د خاوند په لاس کې زر او درهمونه
ژوبور ورله ورځي وینا یې اروي
د درهم خاوندان تل وي په ویاړونه
که درهم یې ځینې ورک سو سي نتلی
پر نړۍ یې وي په خړو پېژندونه
که بډای سوښي وبولي خلق وایي
دا وینا ده رښتاینه له رښتونه
هم درهم ښندي هر چا له لویه برخه
د درهم د خاوند هر ځای پرتمونه
درهم ژبه ده که څوک ژبور کېږي
ده وسله که څوک پرې کاندي قتالونه
... (۷)

دا منل شوې خبره ده چې ژباړه یوه ستونزمنه چاره ده، خو دغه چاره هلـه نـوره هم ستونزمنه شي چې کله د نظم یا شعر په برخه کې وي، خو دلتـه پـه دې قصـیده کې او د دغو څو بېتونو په لوستلو سره انسان پرې د ژبـاړې فکـر هـم نـه شي کـولی، ځکه دومره روانه، خوږه او عام فهمه ژباړل شوې چې ته وا دا د یو ناظم خپل نظـم یـا شعر دی، نو په دې توګه ګورو چې په لومړیو کې ثبت شوې یا ترلاسه شوې ژبـاړه پـه ډېره ښه او عالي توګه پښتو ادب ته راغله او په کافي اندازه مینه وال یې هم وموندل – البته له ثبت شوې یا ترلاسه شوې ژباړې څخه مې موخه دا ده چې مـوږ تـه یـوازې همدغه ژباړه د لومړۍ ثبت شوې ژباړې په توګه لاس ته راغلې، خو شونې ده چې تـر دې وړاندې هم ژباړه ولرو چې له بده مرغه کوم ثبوت یې په لاس کې نه لرو، نو ځکـه مطلق حکم نه شو کولای او دې ژباړې ته لومړنۍ ثبت شوې ژبـاړه وایـو- خـو دا چـې په هغه وخت کې د لیکوالو کمی و او په بهرنیـو ژبـو پوهېـدونکي افغـان لیکـوال هـم دومره نه وو، نو ځکه دغه لړۍ ډېره موده همداسې شلېدلې پاتې شوه، خـو ***بالاخره په لسمه پېړۍ کې د کندهار د پنجوایي ولسوالۍ په سیمه کې یوه افغانه اتله***

***مېرمن پيدا شوه چې زرغونه کاکړه نومېده*** او دغې اتلې د شيخ سعدي د بوستان ژباړه پيل کړه چې په ډېر هنر او خوند سره يې وژباړه، د پټې خزانې په حواله يې ځينې کړۍ دا دي:

اورېــــــدلې مـــــــې قصــــــــه ده
چـــــې لـــــه شــــاتو هــــم خــــوږه ده
د اخـــــــتر پـــــــه ورځ ســــــــهار
بايزيـــــــد چـــــــې و رويـــــــدار
لـــــه حمامـــــــــه راوتلــــــــى
پـــــه کوڅـــــه کـــــې تېرېــــــدلى
ايـــــرې، خـــــاورې چـــــا لـــــه بامـــــه
را چپـــــــه کړلـــــــې ناپامـــــــه
مـــــخ او سر يـــــې ســـــو ککـــــړ
پـــــه ايـــــرو پـــــه خـــــاورو خـــــړ
بايزيـــــد پـــــه شـــــکر کښـــــو ســـــو
د خپـــــل مـــــخ پـــــه پاکېـــــدو ســـــو
«چـــــې زه ور يـــــم د بـــــل اور
چـــــې پـــــه اور کـــــې ســـــم نســـــکور»
لـــــه ايـــــرو بـــــه څـــــه بـــــد ورمـــــه
يـــــا بـــــه لـــــر شـــــکوه کومـــــه»
هـــــو! پوهـــــانو ځـــــان ايـــــرې کـــــړ
لـــــه لـــــوينې يـــــې ځـــــان پـــــرې کـــــړ
تـــــــــــر پايـــــــــــه... (۸)

د دغو بېتونو په لوستلو سره بيا هم د ژباړې فکر نه پيدا کېږي او نه پرې څوک د ژباړې گومان کوي، ځکه دومره ساده، عام فهمه، خواږه او هنري بېتونه دي چې د پند او عبرت ترڅنگ انسان د خپل هنر په زور له ځانه سره ساتلى شي او همدغه ډول ژباړې د دې لامل شوي چې تر دې وروسته دغه لړۍ پسې گړندۍ شي او آن مذهبي کړيو ته هم لاره پيدا کړي. ***په دې معنا مونږ د اخوند درويزه په خپلو او***

***پلیونو په اثارو کې یې د ژرو او علمي ژباړو شاهدان یوو، همداسې پیر روښان او پیروانو هم د لیکنو ترڅنگ*** ژباړې ته زړه ښه کړ چې تر ډېره یې په کلو او باندو کې د مشرانو له خوا ترنمونه اوربدل کېدل.

د اخوند درویزه او پیرروښان ترڅنگ د ژباړې ***د دوگر بله ستره هستي خوشحال خان ختک دی چې هم یې خپله پخې او خوندورې ژباړې کړي او هم یې خپل اولادونه ژباړې ته هڅولي چې له ډلې یې د عبدالقادر خان ختک، سکندر خان ختک، صدر*** خان ختک، گوهر خان ختک او دې ته ورته نورو نومونه د یادولو وړ دي. (۹)

تر خوشحال وروسته دا مسئله همداسې منظمه د ده د اولادې او نورو چارواکو او لیکوالو له خوا پالل شوې، په دې معنا د امیر شېرعلي خان په وخت کې نظامي بولی یا نومونې څه په پښتو ولیکل شوې او څه ورته را وژباړل شوې تر دې وروسته بیا د امیرعبدالرحمان خان په وخت کې د راولپنډۍ سفر او د یوسف او زلېخا کیسې پښتو ژبې ته را وژباړل شوې، د اعلیحضرت امان الله خان پر مهال مرکه د پښتو هم هغه ارگان و چې د لیکلو ترڅنگ یې پښتو ادب ته د ژباړې له لارې هم کار وکړ؛ خو کله چې پښتو ټولنه جوړه شوه، نو دغه لړۍ پسې منظمه، علمي او پراخه شوه، هم هنري شوه او هم د ژباړې په معیارونو روانه شوه.

که د هنري ژانرونو لړۍ را وسپړو، نو لومړنی پښتو ناول (نقش نگین) هم د ژباړې له لارې چې ډېټې نذیر احمد لیکلی او میاحسیب گل کاکاخېل ژباړلی پښتو ادب ته راغلی او همداسې تر اوسه پورې دا لړۍ را رسېدلې ده چې له نېکه مرغه اوس یې کړۍ ډېره زیاته عامه او پراخه شوې ده چې هم پرې دپښتو ادب او ژبه پراخه او عامه شوې او هم یې ورته ننگونې او ستونزې زېږولي چې له املا یې کله ناکله ټولنه او خلک له ستونزو او ننگونو سره مخامخ کړي چې وروسته به پرې تفصیلي خبرې وشي، خو وړاندې تر دې چې دا موضوع روښانه کړم غواړم په دې برخه کې د ژباړې په ډولونو او ارزښت هم خبرې وکړم او بیا یې په ستونزو او ننگونو چې د څه شي له املا دي او څنگه یې د حل لاره موندلی شو؟

## د ژباړې ډولونه:

د ژباړې د ډولونو په اړه نظریات مختلف دي، څوک یې په ټوله کې په دوو برخو وېشي او نور ډولونه یې د همدغو ډولونو جز ګڼي او څوک یې بیا هره برخه جلا او مستقله ګڼي، زما په نظر په ټوله کې یې په دوو برخو وېشل دقیق کار دی چې یو ډول یې د موضوع له اړخه وېش دی او بل یې د ژبې له پلوه؛ نو په دې ځای کې هم له همدغې ډلبندۍ څخه ګټنه کوو او لومړی یې د موضوع له پلوه پر ډولونو باندې غږېږو؛ خو ټولې برخې یې څکه تفصیلي نه څېړو چې زما د لیکنې موخه یوازې ادبي او ژورنالیستي برخه ده، خو د ادبي برخې د څېړلو لپاره باید علمي برخه هم تشریح شي چې نېغ په نېغه یو له بل سره اړیکې لري د نورو برخو یې یوازې یادونه کوم او بس:

### د موضوع له پلوه:

د موضوع له پلوه ژباړه پر لاندې برخو باندې وېشل کېږي چې ځینو ته یې تفصیلي او ځینو ته یې عادي کتنه کېږي:

### ۱- پوهنیزه یا علمي ژباړه:

وړاندې تر دې چې پر علمي ژباړې بحث وکړم، اړینه بولم چې په دې ځای کې د ژبې بحث هم را واچوم، په دې معنا ژبه هغه ټولنیزه، اکتسابي، فطري، ثقافتي او ناطبیعي پدیده ده چې د انسانانو ترمنځ د پوهولو او را پوهولو (پوهېدلو) لپاره کارول کېږي. (۱۰)

ژبپوهان وایي چې ژبه پر لیک سربېره ګړنۍ او اشاري هم وي چې د دغو ټولو په وسیله افهام او تفهیم کېدلی شي، خو لکه څنګه چې د افکارو او علمي مسایلو لېږد د لیک د ژبې په وسیله کېږي نه د نورو ډولونو په وسیله، نو څکه زموږ محوري بحث هم نه دی، خو د لیک په ژبه کې بیا خبرې شته؛ یعنې د لیک ژبه په ساده، هنري، علمي، سبکي، ژورنالیستي یا ژرونالیستیکي، ساینسي او داسې نورو باندې وېشل کېږي چې د څېړنې پر مهال په دې ټولو باندې پوهېدل او د خپل کار ژبې ځانته معلومول اړین دي او همدا لامل دی چې ډېر څله زموږ علمي لیکنې او ژباړې هم د دې پر ځای چې پر ساده یا بې تکلفه ژبې باندې وژباړل شي په هنري ژبې ژباړل کېږي چې د علمي مسایلو د بیانولو او یو څه ټولنې ته د وړاندې کولو پر ځای

پر ژبې او علمي مسایلو ملنډې وهل دي، د ساري په ډول: ته غواړې په دې بحث وکړې چې د کابل د سړکونو او کوڅو د ګردونو او چیکړو د مخنیوي په اړه یو علمي پریزنټېشن وړاندې کړې، خو پر ځای د دې چې ووایې دغو خټو او ګردونو د کابل ښاریانو او یا په ټوله کې د دغې سیمې اوسېدونکو ته دغه ستونزې او ناروغۍ پیدا کړې، وایې چې د کابل د شنه اسمان تر چتر لاندې په ګلورین ماحول کې سړکونه او کوڅې معطرو بویونو او دوړو په سر اخیستې، هر انسان د دغو چیکړو په ککړېدلو سره د خوښۍ او خوشحالۍ احساس کوي او داسې فکر کوي چې دغه خټې او... د دوی د صحت د تداوم او روښانه راتلونکې زېری ورکوي، دوی په دې ویاړي چې داسې له دوړو ډکې کوڅې، بې کاناليزېسیونه سړکونه او ... لري؛ نو دغه ډول څېړنه یا پریزېنټېشن پر ځای د دې چې تاسې د دوړو، ګردونو او خټو له زیانونو خبر کړي، نور یې هم تشویق کړي یاست چې ځان په کې ولوبوئ او ځان د ګند ډیپوه کړئ، نو ادبپوهان ځکه ټینګار کوي چې په څېړنه کې تر ټولو مهمه خبره د ژبې ساده، عام فهموالی او مستیقمه ژبه ده، یعنې تشبیهات، استعارې، کنایې او خیال په کې ځای نه لري او نه هم توفان ته، نسیم، سحرګه باد، معطر نسیم، د جنت هوا او... وایي، ځکه د دغو ډول الفاظو په کارولو کې څېړونکی بې پرې نه پاتې کېږي او هرو مرو د کوم لوري اړخ نیسي، نو ادبپوهان د همدې لپاره ټینګار کوي چې علمي ژبه باید ساده او ستغه وي او دغه ساده والی یې ژباړن ته هم په ټوله معنا اساني پېښوي او د ژباړې پر مهال یوازې منځپانګې ته ډېر ځیر وي، نه یې هنر ننګوي او نه یې نور احساسي مسایل.

موږ ډېر ځله په علمي ژباړو کې له ادبي ژباړو سره هم مخامخېږو او په داسې حالاتو کې باید ناسم پوهاوی ونه شي، یعنې په ټوله معنا د علمي اړخ ترڅنګ یې د ادبي اړخ خیال ساتل هم اړین دي، ځکه په ادبي باریکیو کې ژباړن ته د علمي مسایلو ترڅنګ ادبي باریکۍ هم د پاملرنې وړ دي او په داسې حالاتو کې بې له شکه د ژباړن کار یو څه ستونزمن او پراخېږي، خو بیا هم اړینه دا ده چې ژبه به یې تکلفي نه وي او نه به د موخنې ژبې هنري او ادبي ترکیبونه په ټوله معنا ژباړي، بلکې هلته به د خپلې ژبې هنري او ادبي ترکیبونه مومي. د ساري په ډول: په ادبي علمي ژباړو کې موږ لولو:

***"✓ لکه چا چې پرې په ماشومتوب کې مرورلې وي.***

***سمه بڼه یې: لکه ماشومتوب کې چې چا پرې پیته کړې وي.***

***✓ د ښوونځي هلکانو به ورته له چونګښې نه ویل.***

***سمه بڼه یې: ښوونځي والو به چونګښه باله.***

***✓ پوهه یوازې له استادانو څخه نه، بلکې له هر تجربه ناکو کسانو څخه هم ترلاسه کېدلی شي.***

***✓ سمه بڼه یې: زده کړه پر استادانو سربېره له متجربو کسانو څخه هم کېږي یا پر استادانو سربېره له متجربو کسانو څخه هم زده کړه کېږي.***

***✓ سقراط په ځواني کې د حقیقت موندنې په لټه کې شو لومړی یې له ساینسي لیدلوري څخه د شیانو د وجود لامل ته خپل پام وګرځو او د دغې طبیعې فلسفې د حل لپاره یې ماغزه وکپول چې ایا د فکر او پوهېدلو د وړتیاو لامل وینه، هوا او اور یا له دغه څخه یو هم نه دی؟***

***سمه بڼه: سقراط له ځوانیه د حقیقت په لټه کې و او د ساینس په وسیله (پرمټ) یې په هماغه وخت کې زباد کړه چې فکر، پوهه، وینه، هوا او اور مادي یا ښکارندې دي.***

***✓ سقراط د فیثاغورث د دین او ساینس په ترڅ کې په راپیدا شوې فلسفې نیوکه وکړه او زیاته یې کړه چې د ده په فلسفه کې پوښتنه دیني او ځواب یې ساینسي دی.***

***سمه بڼه یې: سقراط د فیثاغورث پر فلسفې ځکه نیوکه وکړه چې نوموړي اکثره دیني پوښتنې د ساینس په وسیله ناسمې ځواب کړې دي."***

(۱۱)

په پورته ژباړه یا ژباړو کې له ورایه ناسمې معلومېږي، په دې معنا د سقراط د ژوند په اړه د محترم ژباړن دغه ناسمې ژباړې ډېر ځله مور د سقراط د فلسفې ژورو ته نه شي کوځولی او دا هغه څه دي چې ډېر ځله یې زموږ علمي او ادبي ژباړه له ننګونو او ستونزو سره مخامخ کړې چې له امله یې عام یا عادي لوستونکي چې ډېر ځیرک نه وي سمه اخیستنه ترې نه شي کولی.

په علمي ژباړه کې بله مسئله د مصطلاحاتو یا اصطلاحگانو ده، یعنې هر علم ځانته اصول او اصطلاحگانې لري که ژباړن په یادو اصطلاحگانو نه پوهېږي، نو قاموس دې پسې وگوري که چېرې په هغې کې هم ستونزه حل نه شوه، نو بیا دې د یاد مسلک له یو وړ او مستعد کس نه پوښتنه وکړي او ځان دې پرې سم پوه کړي او تر هغې وروسته دې وژباړي، بې ځایه او په خپل سر دې نه ژباړي، ځکه ډېر ځله د ناسمې ژباړې له امله معناوې زیانمنېږي او د یوې معنا پر ځای بله معنا ښندي، لکه د ژبپوهنې یوه اصطلاح ده چې په انگریزي کې ورته دیفتانگ وایي او په پښتو کې یې غبرگغږ بولي، همداسې د اسملېشن او ډسملېشن اصطلاحگانې چې په پښتو کې یې همرنگي او ناهمرنگي بولي او همداسې دا نور مسایل هم درواخله، نو که چېرې موږ په پښتو کې د دغو اصطلاحاتو لپاره بدیل ونه لرو ښایي ډېر ځله زموږ ژبپوهان په انگریزي یا په بله نومونه یې پوه نه شي او ژباړن یې هم په بله معنا وژباړي چې بې له شکه ژباړن به له دیفتانگ ځخه ځانگه یا د جگړې ډگر جوړ کړی وي.

یا مثلاً د ارواپوهنې په یو ژباړل شوي کتاب کې داسې ژباړه لولو: ***"زه د هر کار د سرته رسولو وړتیا لرم، دا خو هېڅ شی هم نه و، زه تر دې هم زیات کار په دومره موده کې کولای شم" (۱۲).***

په دې جمله کې گورو چې کټ مټ د دري ژبې رنگ او اغېز په کې ښکاري، مثلاً: زه د هر کار د سرته رسولو وړتیا لرم، دري یې داسې دی: من توانایی انجام هر کار را دارم یا میتوانم هر کار را به سر برسانم او همداسې یې دا نورې جملې هم در واخله په داسې حال کې چې پښتو جملې یې ساده، لنډې او خوږې هم راتلای شي، لکه: ***دا خو عادي خبره ده، په دومره وخت کې تر دې هم ډېر کارونه کولای شم.***

په دې جمله کې هم ترکیب پښتو دی هم لنډه جمله ده او هم یې رنگ او ډیالوگ د پښتنو دی، یعنې موږ دا او دې ته ورته ډېرې ژباړې لرو چې نه یوازې یې پښتو د ژباړې ژبه کړې، بلکې ستونزې او ننگونې یې هم پېښې کړې دي.

نو که خبره راټوله کړو په علمي ژباړو کې لنډون، عاموالی، ساده والی او د خپلې ژبې رنگ ورکولوتر ټولو مهمه او اړینه خبره ده.

## ۲- ژورنالیستي ژباړه:

ژورنالیزم یا رسنۍ هغه مسلک دی چې نن سبا یې خریداران پـه بسـنده توگـه ډېر شوي. ډېر داسې ښاغلي او اغلې به گـورې چـې د ژورنـالیزم پـه لاره هـم نـه وي تللي، خو په غرېزې یا انځوریزې رسنۍ کې به نېغ ناست وي او لکچـر بـه ورکـوي او که دې خپلو نیمگړتیاوو ته ځیر کړ، نو ته وا چې د نومـوړي یـا نومـوړې پـلار او نیکـه دې وښـکنځه، خـو دوی چـې زمـوږ ژبـه، کلتـور، ادب او مـلي ارزښـتونه ښـکنځي او ملنډې پرې وهي هغه خیـر؟!!. البتـه موخـه مـې ټـول ژورنالیسـتان نـه دي، خـو پـه اوسني وخت کې د دغه ډول ژورنالیستانو شمېر خورا زیات دی.

د دې لپاره چې دغه برخه مـو پـه مسـتنده توگـه پېژنـدلې وي لـومړی بـه هغـو مسایلو ته ځیر شو چې هره ورځ یې زموږ درانه ژورنالیستان په ناسـمه بڼـه پـه رسـنیو کې کاروي، البته لاندې بېلگې ما د طلوع نیوز ټلویزیون د ۱۳۹۵ / ۱۲/ ۱۲ نېټې د اوو بجو پښتو سرویس په خبرونو کې یادداشت کړي دي، لکه:

| ناسمې بڼې | سمې بڼې |
|---|---|
| ✓ ***<u>سیالي په لاره اچول شوې وه.</u>*** | ***<u>سیالي وشوه.</u>*** |
| ✓ ***<u>په بدخشان کې څلوېښت حلقې څاگانې افتتاح شوې.</u>*** | ***<u>پـــــه بدخشان کې څلوېښت څاگانې گټې اخیستنې ته وسپارل شوې.</u>*** |
| ✓ ***<u>د یو سفر په ترڅ کې د بدخشان خلکو ته وویل.</u>*** | ***<u>د بدخشـــــــان خلکو ته یې وویل.</u>*** |
| ✓ ***<u>د دې پېښو په تړاو (مرتبط)</u>*** | ***<u>د دې پېښو په اړه</u>*** |
| ✓ ***<u>په بدخشان کې د دغـه ډول قاچاقو د ترهگـرو لـه خـوا ملاتـړ کېـږي.</u>*** | ***<u>ترهگر په بدخشان کې ددغه ډول قاچاقو ملاتړ هم کوي.</u>*** |
| ✓ ***<u>مسلمان میشتي هېوادونه له ترهگرۍ سره مخ دي.</u>*** | ***<u>اسـلامي هېوادونه له ترهگرۍ سره مخامخ دي.</u>*** |
| ✓ ***<u>په سوریه کې د داعشو شتون مسلمان میشتي هېوادونه پـه اندېښـنه کې کړي.</u>*** | ***<u>اسلامي هېوادونه په سوریې کې د داعشـو شـتون اندېښـمن کړي.</u>*** |
| ✓ ***<u>د اقتصادي چارو کار پوهان.</u>*** | ***<u>د اقتصـادي چـارو پوهـان.</u>*** |

***✓ په هېواد کې يو شمېر سوداګرې مېرمنې وايي چې د حکومت لـه خـوا مالي ملاتړي ولري.***

***د هېواد ځينې سوداګرې مېرمنې د حکومت پر مالي ماتړ ټينګارکوي.***

پورته جملې ګورو چې هره ورځ زموږ په رسنيو کې په پراخه کچه کـارول کېـږي په داسې حال کې چې اکثريت يې ناسمې او تر ډېره پـه کـې د دري ژبـې اغېـزه لـه ورايه ښکاري، دا ځکه زموږ په اکثريتو رسـنيو کـې اوس لـومړۍ ژبـه دري ده او زمـوږ خبريالان هم د دې پر ځای چې په خپله پر خپلې ژبې (پښتو) بانـدې ليکـل وکـړي ژباړه کوي او هغه هم ناسمه او د دري ژبې د ګرامري جوړښت تر اغېزې لانـدې چـې دغه ډول جملې په پښتو کې نه سمې دي  او نه هم په زړه پورې، نو ژباړنانو تـه بويـه چې دغو نزاکتونو او باريکيو ته ځير شي او لاندې مسايلو ته جدي پاملرنه وکړي.

***✓ خبريال دې په خپل سر اعلانونه نه ژباړي او که ژباړي يې، نو دقيـق او سم دې وژباړي نه د اوسني هغه اعلان په څېر چې وايـي: "... او طالبـان هغـه ځوک دي، کوم به چې موږ مبارزه ورسره کوو او ختمو به يې."، نـو هغـه د کـره کتونکو خبره، يعنې چه؟***

***ولې نه وايې که طالبان سولې ته غاړه کښېنږدي، نو حکومت به يې ختم کړي.***

***✓ ژباړن خبريال ته په کار دي چې د دري ژبې د ويـې زېرمـې او عمـومي معلوماتو ترڅنګ په پښتو ژبه کې هم پوره معلومات او د ويي زېرمې پانګـه پـه ذهن کې ولري؛ ځکه بيا آبده ميوند د ميوند ځلي پـه معنـا نـه ژبـاړي، بلکـې د ميوند واټ يې بولي.***

***✓ ژباړن خبريال د مسلکي معلوماتو ترڅنـګ بايـد د هېـواد او نـړۍ لـه ورځنيو چارو هم خبر وي او له ځانه تبصري ونـه ژبـاړي، پـه دې معنـا دا پـه مـا پورې اړه نه لري چې د ترکيې مشر رجب طيب اردغان څه کوي، خـو دا پـه مـا او موږ پورې اړه لري چې مسکو د څه شي او کومو موخو لپاره د افغان طالبـانو ملاتړ کوي او څه شرايط يې ورته ټاکلي، په بدل کې يې لـه افغـان حکومـت او ولس نه څه غواړي؟***

***نو که زموږ خبریالان او ژباړن خبریالان په دغو مسایلو خبر نه وي او یا ورته په عادي نظر وګوري بې له شکه د اوس په څېر به ډېر بې روزګاره خلک سیاسي کارپوهان او یا د مسایلو اګاه وي.***

***✓ ژباړن خبریال چې کله د سیاسي ګوندونو په اړه تبصرې کوي، نو لږ تر لږه یې باید د هغوی منشورونه یا مرامنامې لوستې وي او پرې خبر وي او بیا یې په اړه خپل نظر، کره کتنه او نیوکه وکړي او که خبر نه وي او له ځانه یا د نورو په نقل قول خبره کوي او ردوي یې، نو دا به دقیقاً د هماغې ټوکې په څېر وي چې کوم مهال د افغانستان په یو ولایت کې د چاړواکو غونډه جوړه شوې وه او په دې غونډه کې ډېرو ګوندي چارواکو هم خبرې کولې، د اجنډا له مخې د وخت مشر نورمحمد تره کي باید د غونډې په لومړۍ برخه کې خبرې کړې وای او یو تن ګوندي غړی چې د تره کي مخالف و هم په دغه غونډه کې خبرې کولې، نو ده له وړاندې د تره کي پر ضد ځینې خبرې ولیکلې او په دې پوهېده چې معمولاً تره کی په داسې غونډو کې څه وایي.***

***کله چې غونډه پیل شوه او تره کي ته د خبرو بلنه ورکړل شوه، نو هغه "تره کي" اواز کړ چې زه لومړی ستاسې خبرې اورم او بیا په اخره کې خپلې خبرې کوم. له دوه درې تنو ویناوالو څخه وروسته د ناقد یا مخالف کس د خبرو وار را ورسېد هغه چې څنګه دریځ ته راغی، نو سم له واره یې پر تره کي نیوکې پیل کړې او ویې ویل چې زه د تره کي له دغې خبرې سره مخالف یم، تره کي داسې وویل دا سمه خبره نه ده، تره کی چې د فلانی موضوع په اړه کوم دریځ څرګند کړ هغه قانوني ستونزې لري او دې ته ورته ځینې نور اعتراضونه یې وکړل، خو په دې کې پرې چا اواز وکړ: وروره! ښاغلي تره کي خو تر اوسه پورې خبرې نه دي کړي، نو ته څنګه داسې وایې؟***

***یاد تن ورته وویل: که یې خبرې نه دي کړي هم ورسره مخالف یم او له وړاندې یې د دغو خبرو مخالفت کوم.***

***نو ژباړن خبریال یا ژورنالیست باید له وړاندې د چا د خبرو او موخو مخالف نه وي، لومړی دې یې وګوري او ودې ارزوي او بیا دې یې په اړه خپل نظریات څرګند کړي.***

***✓ مور دېر ځله ګورو چې ژباړن خبریالان د خبر یا رپوټ پر منځپانګه ځان نه پوه کوي او راساً یې ژباړي چې دا سمه خبره نه ده، د خبر په ژباړلو کې خبریال باید د خبر ټکي پر ټکي ژباړه ونه کړي، بلکې په اړه یې فکر وکړي او ځان پرې پوه کړي او له هغې وروسته دې یې وژباړي. د ساري په ډول په یو خبر کې اورو: د هلمند ولایت د سنګین په ولسوالۍ کې د مخالفینو د یو راکټ د لګېدلو له امله شل تنه ساتونکي مړه او ټپیان شوي دي؟!***

که چېرې په دغه متن کې موخه د پښتو جمله وي، نو بې له شکه جمله پښتو ده او ډېر خلک پرې پوه شوي هم دي، خو که موخه خبري، ګرامري او سم جوړښت وي، نو بیا دا جمله ځکه سمه نه ده چې کټ مټ د دري ژباړه ده او له ورایه پرې خلک پوهېږي چې له دري ژباړل شوې، نو که «د هلمند په سنګین ولسوالۍ کې د یو راکټ له امله شلو تنو ساتونکو ته مرګ ژوبله واوښته» ولیکل شي هم به لنډه شي او هم به پښتو او ولایت، مخالفینو، لګېدلو او... اضافي ترکیبونه دي او مړه او ټپیان هم مصنوعي او جوړ شوی ترکیب دی نه پښتو.

***✓ ژباړن خبریال ته د ځینو اصطلاحاتو او نومونو ژباړل یوه بله لویه ننګونه او ربړه ده، په دې معنا مور وینو چې زمور ځینې ښاغلي ژورنالیستان یا په یوې اصطلاح او نومونې نه پوهېږي او یا یې بدیله کلمه نه شي پیدا کولی او په ناسمه توګه یې ژباړي چې ښه بېلګه یې څه موده وړاندې د کابل په پل محمود خان سیمه کې پر یو نظامي یا پوځي مرکز باندې د وسله والو مخالفینو له خوا برید و، دغه مرکز چې د "رجال برجسته" په نامه یادېده زمور ژورنالیستانو هم په همدغه نامه یاداوه او تر ډېره زمور ځینې ښاغلي هم پرې نه پوهېدل چې څه معنا؟***

البته په دري کې یې هم نوم بشپړه نه اخیستل کېده، ځکه اصلاً باید د دغه مرکز نوم نګهبابان چې ایراني پلوه رسنۍ یې پاسبانان رجال برجسته بولي دی چې پښتو ژباړه یا نومونه یې د لوړ پوړو چارواکو ساتونکي راځي، خو مور تر اخره پورې دغه نومونه په دې بڼه وانه ورېده او تر اوسه پورې ځینو ته د پوښتلو وړ خبره ده چې دا څه شی دی؟

نو که د ژورنالیستې ژبارو په اړه خبره را ټوله کړو هر هغه څوک چې ژورنالیستي متون ژباړي باید په خپله هم ژورنالیست وي او د ژورنالیزم په اړه ټولې اصطلاحگانې ورته معلومې وي او که ژورنالیست نه وي، نو لږ تر لږه دې د ژورنالیزم په اړه کافي معلومات ولري او د هرې اصطلاح ممکنه بدیله ژباړه په بلې ژبې کې وموندلی شي او که چېرې له دغو کمالونو څخه یو هم نه لري، نو بیا دې لطفاً دغو مزو ته گوتې نه ور وړي، ځکه له متن او ژباړې څخه به یې زموږ د اوسنیو ځینو ژباړنانو متون جوړ وي چې نه پرې خپله پوهېږي او نه پرې ولس پوه کولی شي او دا چې خپلې او بلې ژبې ته یې څه ډول قبرونه کېندلي هغه موږ عملاً گورو.

## ۳- ادبي ژباړه:

ادبي ژباړه هغې ژباړې ته وایي چې په هغې کې ژباړن هم ژبه او هم منځپانگه ژباړي یا په بله وینا ادبي ژباړه هغې ژباړې ته وایي چې موضوع یا خبره او ژبه دواړه ژباړن ته ور ترغاړه وي. ژباړن به خبره هم سمه رسا رسوي او ادبي ژبه به هم کاروي. (۱۳)

په ادبي ژبه کې موږ له ځینو سېمبولونو او تخیلي، عاطفي او احساسي ایماژونو سره مخامخېږو چې پرې پوهېدل په کار دي. په دې معنا د ژورنالیزم یا نورو علومو په ژباړه کې ښایي موږ د هغو علومو پر مصطلحاتو او نومونو باندې پوهېدل اړینه خبره وبولو او ځان په دې مجبور وبولو چې هم باید د اصطلاحگانو بدیله کلمه پیدا کړو او هم یې منځپانگه سمه وژباړو، خو په ادبي ژباړه کې بیا د دغو ټولو خبرو ترڅنگ، خیال، عاطفه، احساسات او د زړه مراندې هم اړینې دي، په دې معنا موږ ډېر ځله له داسې خبرو او کلامونو سره مخامخېږو چې د عقل له پلوه امکان نه لري یا له امکانه لرې وي، خو د ادب له پلوه بیا ډېره ژوره او دپام وړ خبره وي، د ساري په ډول موږ په شعري نړۍ کې لولو:

دا چې سپینه ململي وریځ لمبه شي
یا گلونه د چمن سره غرغنډه شي
دا هم ځان باندې یو قسم ولاړتیا ده
اننگي چې گلابي شي وینه سره شي (۱۴)

عقل او بې عقله دواړه ضد و نقیض خبرې دي همداسې اور او اوبه هم یو د بل ضد دي، په دې بېتونو کې گورو چې اوبه یا وریځ چې له آره د ځمکې تـپ دی او پـه حقیقت کې له اوبو یا له خولې پیدا شوي پورتـه الـوزي او اور اخـلي یـا هـم د چمـن کلان سره غرغنډه کېدل، په خبرو راتلل او د انسان له ظلم سرټکول هغه خـبرې دي چې عقل یې نه مني، خو د ادب عقل او د ادب ژبه ورته ځـای لـري او منـي یـې، نـو ځکه په ادبي مسایلو کې د منځپانگې ترڅنگ د خیال او عاطفې احساس ژباړل هم اړینه خبره ده.

موږ چې کله ادبي مسایل ژباړو باید د هغې پر احساس او خیالاتو ځان پوه کړو د هغې پر لطافت، باریکۍ او نازکۍ باندې مو د زړه مرانـدې وا شي او پـوه شـو چـې گران او محترم لیکوال کوم احساس او کوم خیال انتقالول غواړي او بیا یې تـر وسـې وسې د هنر په جامه هم خیال وپالو او وژباړو او هم یې فکر، خـو لـه بـده مرغـه زمـوږ ځینې ژباړې بیا له دغه ډول خیال او عواطفـو څخـه کنگـالې دي او پـر ځـای د دې چې د لیکـوال یـا مـوخنې ژبـې خیـال او ادبي لطافت تـه ځیرنـه وکـړي یـوازې یـې منځپانگه را ژباړي دا چې خوند او کیف په کې له منځه ځي له هغه سره چندان کار نه لري چې ژوندۍ بېلگې یې لاندیني متون دي:

***"هانخ د خولۍ پیک را ټیټ کړ، لکه چې په ډېرې آسانۍ یـې د لیـدلو امکان نه و، له څو شېبو وروسته یې د موټر له هنداري څخه شاته را وکتل.***

***بیدیا دومره پیکه وه چې څو متره لیرې سترگو ځار نه کاوه. او هرې خـوا ته نرۍ، نرۍ باران په یوه شان اورېده.***

***هانخ له موټر څخه پلی شو، زړه یې په ډېرې چټکتیا سره ټوپونه وهـل او د مخ رنگ یې هم لږ غوندې الوتی و. دښته یې طی کړه، او یوه لـوی پلـورنځي ته ور ننوت.***

***ډېر خلک د خریداری او پېرودلو لپاره نه، بلکې د باران له امله یـې دلتـه پناه راوړې وه د لفټ مخې ته ودرېد، ډېرې وېرې یې پـر زړه ځـولی اچـولې وه. وحشت او ډار یې په سـترگو کـې لـه ورایـه ښـکارېده، خـو ده هڅـه کولـه چـې خلکو ته ځان عادي ښکاره کړي په بېړه یې ځان د لفټ مخې تـه ورسـاوه او د***

***لفټ په تکمه یې ګوتـه کېښـوده. سمدلاسـه ور ورتـه پرانیسـتل شـو او د لفټ مامور په تنده لهجه ورته وویل:***

***- ناوخته دې کړ. ډېر دې ناوخته کړ.***

***هانخ په بېړه لفټ ته ننوت، په داسې حال کې چـې د وچـولې خـولې یـې پاکولې ځواب یې ورکړ.***

***- څارلم یې!***

***د لفټ مامور په تریخه وپوښتل.***

***- سره له دې چې څارلې یې بیا دلته راغلې؟***

***هانخ چې ساه په سختۍ ویسته وویل.***

***- نه، زه د هغوی څخه ورک شوم، د خرابې هوا څخه مې ګټه پورته کړه.***

***د لفټ مامور د یوویشتم پوړ تکمه ووهله او لفټ په خوځښت راغی.***

***دواړو یو بل ته په ډېر بد انداز او ویره کې کتل څو شېبې وروسته لفټ په یوویشتم پوړ کې ودرېد، او هانخ ترې پلی شو، څو ګامه ګړندی ولاړ او پر هغـه وره چې د (مدیر) تاپه لګېدلې وه ور ننوت.***

***خونه خالي وه، او راساً د لرغږي (ټلیفون) په لور ورغی، شماره یې وهلـه، خبرې یې بندې، بندې کولې، په ډېر وهم کې و او هرې خـوا تـه یـې په ډېرې حیرانتیا سره کتل ویې ویل***

***- هلو..." (۱۵)***

پورته ژباړه هم ښېګڼې لري او هم نیمګړتیاوې، په دې کې شـک نـه شـته چـې هنري ده او د هنر په زور لوستونکی تر پایه لـه ځـان سره ساتلی شي، خـو دا هـم د منلو ده چې د دغې ژباړې په لیدلو سره ځیرک لوستونکی له ورایـه پـوهېږي چـې دا متن باید لومړنۍ ژباړه وي او یا هم داسې چا به ژباړلې وي چې هغه د ژباړې پر آرونو ډېر نه پوهېږي.

په هر حال! زموږ یې له ژباړن سره کار نه شته، خو هغـه څـه چـې پـه دې ژبـاړه کې دي پر هغې به یو څو خبرې وکړو، لومړی دا چې لیک نښې په سمه توګه نه دي کارېدلې او د (او) مورفیم یا د ډاکټر زیار په وینـا تړوییکـی د همـدې لپـاره دي چـې دوه مورفیمونه، کلمې، فقرې، جملې او آن پاراګرافونه سره یو ځـای کـړي، خـو دلتـه

ګورو چې نه یوازې یې جملې نه دي نښلولې، بلکې تر او یې وړاندې کامه هم ورکړې چې په دې کار سره یې د (او) د تړوییکي دنده په ټوله معنا ختمه کړې ده.

بله مسئله په کې د ترکیبونو ناسم ژباړل او د پښتو ګرامر سم په پام کې نه نیولو خبره ده د مثال په توګه کـه چېرې زه وای، نـو مـا دا ***جمله "هانخ د خولې پیک راټیټ کړ، لکه چې په ډېرې اسانۍ یې د لیدلو امکان نه و". داسې ژباړله (هانخ د خولې پیک ځکه راټیټ کړ چې څوک یې سم ونه ګوري).***

***یا دا جمله چې وایي: "بیدیا دومره پیکه وه چې څو متره لیرې سترګو څار نه کاوه." داسې به سمه وي (فضا دومره ککړه وه چې دوه ګامه وړاندې څوک نه ښکارېده).***

***یا "هانخ له موټر څخه پلی شو، زړه یې په ډېره چټکتیا سره ټوپونه وهل او د مخ رنګ یې هم لړ غوندې الوتی و،دښته یې طی کړه او..." خو داسې ښه یې (هانخ چې کله له موټره کښته شو رنګ یې الوتی او زړه یې بې واره درزېده، داسې درزېده چې آن د څنګ کس یې هم دربا اورېده، خو له دې سره سره بیا یې هم اورد واټن وواهه او...)*** او همداسې دا نوره ژباړه یې هم در واخله چې په ټولو کې یې د دري ژبې جوړښتونه او ترکیبونه زیات دي او لوستونکی لکه څنګه چې ترې باید خوند واخلي هغسې خوند ترې نه شي اخیستلی، خو لکه مخکې مې چې هم یادونه وکړه دا چې کیسه خپله تلوسه او هنر لري، نو ځکه یې د هنر له امله لوستونکي لولي.

یوازې دا نه بلکې دې ته ورته ځینو نورو ژباړل شوو کیسه ییزو کتابونو کې هم دغه ډول ستونزې وینو، لکه په پټه دنده او بریالۍ هڅه کې چې لولو: ***"هوکې. دا هغه قاروي توغوندي دي چې کولی شې یو هایدروجنی یا اټومي بم د آواز د سرعت څخه دوولس، دیارلس ځلې ګړندې له ځانه سره یوسي او په اوس وخت کې یوه وسله هم د دې په انډول توان نه لري.***

***ښاغلي اسمیت یې بیا عینکې پر سترګو کړې کورتی یې ویسته او د چوکۍ د تکیې پر سر یې کینبوده.***

***- هوکې. دا تقریبا د هماغه توغوندي ځانګړنیاوې دي چې موږ به یې په راتلونکې کې ولرو خو دم ګړۍ فقط د کاغذ پر مخ دي.***

***- اما کانګرس په دې وروستيو کې يو مليارد ډالر په دې لاره کې د مصرف لپاره ندي ځانګړي کړي؟***

***- هو. کنګرې دا کار کړی خو زموږ يو کلن ځنډ نه شي جبران کولی. څو شيبې دواړه چوپ پاتې شول وروسته هربرت وموسکېد.***

***- ستا منظور دا دی چې زه لاړ شم او د شوروي څخه د دې توغوندیو نقشې راوړم؟***

***اسميت چې آرام او په واک کې ښکارېده ځواب ورکړ.***

***- ګرانه! تا ښه فکر کړی! چې دا يو کلن ځنډ به موږ ته ډېر ګران پرېوزي نو چې په هر قيمت کېږي هغه بايد موږ ترلاسه کړو.***

***هربرت د سګرټ کشولو څخه وروسته اسميت ته ځير شو او ورته يې وويل:***

***- فکر کوم د دې د لاسته راوړلو بندوبست د کړی دی...." (١٦)***

اوس نو که تاسې د دغه ډول الفاظو، کلمو، جملو او ژباړو لوستونکی اوسئ ايا زړه به مو له مطالعې در تور نه کړي او له مطالعې به يې پښېمانه نه شئ؟

ځکه نه په کې املا شته، نه په کې هنر شته او نه په کې زړه را ښکون او معمولاً خلک کيسه ييز ژانرونه د خوند، زړه راښکون او فکري بدلون يا تفريح لپاره لولي او چې دا هم په کې نه وي، نو بې له شکه د لوستلو ځای نه لري، نو ځکه دغه ناول هم داسې څه نه لري چې زه پرې ډېر بحث وکړم او دې ته ورته نور دغه ډول ناولونه هم در واخله، نو په ټوله کې زموږ ځينې ژباړې دغه ډول ستونزې لري چې بې له شکه ټولنه او لوستونکي يې له لوی جنجال سره مخامخ کړي دي.

پورته مسايلو ته په کتلو سره ويلای شو چې ژباړه د کلتورونو او فرهنګونو ژباړل دي يا ژباړه له يوې ټولنې څخه يوه څېره بلې ټولنې ته ور انتقالول دي او دغه لېږد يا انتقال هېڅکله لکه څنګه چې څېره ده نه وي، هرو مرو په کې توپير راځي او چې توپير په کې راغی، نو بيا د کره کتونکو دا خبره هم مخې ته درېږي چې ***"هر ژباړن خاين دی"*** په داسې حال کې چې ژباړن ژباړه د خدمت لپاره کوي نه د خيانت لپاره، خو د ګوتو په شمار ناقدين ورته ځکه خاين وايي چې نه د ليکوال سبک ژباړلی شي او نه يې هم څېره او دا خبره د دې لامل کېږي چې په ژباړه کې يې

ستونزې پیدا شي او اصالت په ټوله معنا ونه ژباړي، خو بیا د استاد رفیع په ګډون ډېر پوهان په دې نظر دي که چېرې کوم ژباړن لږ تر لږه پنځوس سلنه متن په دقیقه توګه وژباړلی شو، نو بې له شکه هغه بریالی او کامیابه ژباړه ده، ځکه یاد ژباړن وکولای شول چې د موخنې ژبې موخه او اهداف بلې یا خپلې ژبې ته وژباړي او دا هغه څه دي چې ژباړن یې غواړي.

په هر حال! ادبي ژباړه په ټوله کې په دوو برخو وېشله کېږي چې یوه برخه یې نظمي او بله برخه یې نثري ده. په نثري برخه کې یې ټول کیسه ییز او نا کیسه ییز ژانرونه، لکه ناول، لنډه کیسه، رومان، فلمي سناریو، ځان پېښې، اوټوبیوګرافي، ډرامه او دې ته ورته ژانرونه راځي او په نظمي هغې کې یې ازاد نظم، غزل، داستان، چاربېته او دې ته ورته نور شعري ژانرونه راځي چې دواړه برخې یې په دې وروستیو کې په پښتو کې د پام وړ دي، البته د نظم په برخه کې به لا د معیار په حالت کې نه یوو، خو په نثر کې هم معیاري نثرونه لرو او هم نامعیاري او بې خونده چې پورته یې ځینې بېلګې وړاندې شوې.

البته په نظمي برخه کې ځکه په معیار کې نه یو چې لا مو منظومه برخه مزل او لوری نه دی موندلی؛ په دې معنا ځینې منظومې کلمې داسې وي چې هم حقیقي معناوې لري او هم مجازي چې کله یې د مجازي معنا له امله او کله یې هم د حقیقي معنا له امله یو ځانګړی خوند پیدا کړی وي، خو چې موږ کله هم هغه ژباړو، نو دغو معناوو ته نه ځیر کېږو او یا یې بدیله کلمه نه شو پیدا کولای د مثال په توګه به د درویش دراني دغه بېت ته ځیر شو چې وایي:

رقیب دا دومره لوی انعام وانه خلي

یار! د هغه د خولې سلام وانه خلي (۱۷)

دلته د یار کلمه هم په حقیقي معنا کارېدلې او هم په مجازي. په حقیقي معنا خو یې معنا دوست، رفیق او ملګری دی، خو مجازي معنا یې معنا یوه اصطلاح ده، لکه د ننګرهار خلک چې مړه وایي یا هزاره ګان یې بدیل بیرار بولي او یا هم ځینې مهال دري ژبې ورته او ګلی بیادر وایي، نو که اوس موږ دغه شعر په دري وژباړو بې له شکه موږ یې مجازي معنا نه شو ژباړلی او چې مجازي معنا یې ونه ژباړل شي بې

له شکه شعر خپله حقيقي او خوندره معنا له لاسه ورکوي او يوازې به الفاظ پـه کې پاتې شي. همداسې د اجمل اند دغه بيت به هم وګورو:

وخت به لګي چې به رنګ د کابل اخلم
ډېر خويونه مې اوس هم د پېښور دي

که چېرې د وخت لګي جوړښت په وخت غواړي (وخت می خواهد) بڼه وژبـاړو، نو بې له شکه د پېښورۍ پښتو يـا لهجـې هغـه خونـد بـه يـې تـرې ورک کـړی وي او يوازې الفاظ به پاتې وي، نه خيال او هنر.

نو په ټوله کې زموږ د ځينو منظومو ژباړو د معيار نه برابروالي يا معيار خوا ته نـه ورتګ يو لامل دا هم دی چې مـوږ لا تـر اوسـه پـورې د منظومـو کلامونـو حقيقـي او مجازي معناوې يا نه دي درک کړي او يا ورته ځيـر شـوي نـه يـو او دغـه ربـړې د دې لامل شوي چې نه ورته څوک چندان زړه ښه کړي او نه يې وژبـاړي، ځکـه کـوم چـې ژباړل شوي هغه هم د همدغو لاملونو له مخې د مينه والو له تودو هرکليو سره نه دي مخامخ شوي.

نو که خبره راټوله کړو زموږ اوسنۍ ادبي ژباړې په ټوله کې دغه لاندې ستونزې او ننګونې لري:

✓ ***زموږ ژباړنان ډېر ځلـه د مسلک لـه مخـې نـه، بلکـې د ذوق لـه مخـې ژباړې کوي.***

✓ ***په دې وروستيو کې اکثره په پښتو ژبه کې ژباړې د اړتيا لـه مخـې نـه، بلکې د مالي اړتياوو پر اساس د نا مسلکي خلکو له خوا وشوې.***

✓ ***ژباړه يو خلاق فن او هنر دی، خـو مـوږ ډېـر ځلـه دغـه هـنر د هـنر پـه توګه نه، بلکې د يوې مالي اړتيا پر اساس ترسره کړې ده.***

✓ ***له بده مرغه زموږ ډېرو ژباړنانو تر اوسه پورې خپل منزل او مزل نه دی موندلی او لا تر اوسه هم په بې لاريو روان دي چې دغو بې لاريـو زمـوږ ولـس، ژبه او کلتور هم له ننګونو سره مخامخ کړی دی.***

✓ ***ژباړه د ټولنو د غنا او پرمختګ وسيله ده، خو چې د اړتياوو پر اساس وي نه د مجبوريت (مادي او نورو ملحوظاتو) له مخې، خو زموږ اکثره ژبـاړې د مادي مجبوريتونو پر اساس دي.***

***✓ ژباړن باید پر موخنې او ژباړنې دواړو ژبو په ټوله معنا برلاسی وي، خو له بده مرغه زموږ ډېر لږ ژباړنان داسې دي.***

***✓ ژباړن باید د لیکوالۍ له آرونو او چوکاټونو څخه هم خبر وي او لږ تر لږه خپل متن یې د لوستلو او منلو وړ وي، خو زموږ ډېر ژباړنان آن املاء هم نه لري.***

***✓ وړاندې تر دې چې ژباړه کېږي ژباړن باید د یاد متن په اصطلاحاتو، ترکیبونو او جوړښتونو ځان پوه کړي، خو له بده مرغه زموږ په ډېرو ژباړو کې دغه اصول نه دي مراعت شوي.***

***✓ په ژباړه کې تر ټولو مهمه خبره کلتوري او دودیز ارزښتونه دي او هېڅکله باید د بلې ټولنې ژباړه زموږ د ټولنې دود او کلتور تر منفي اغېزې لاندې را نه ولي، خو په دې وروستیو کې دومره بې ارزښته شیان او مسایل ژباړل شوي چې آن زموږ کلتور او ولس یې له ننګونو سره مخامخ کړی دی.***

***✓ ژباړه باید هېڅ ډول دیني او اسلامي ارزښتونه ونه ګواښي، خو زموږ اوسني سریالونه، فلمونه، ډرامې او دې ته ورته ژانرونه دومره بې کیفیته، بې خونده او پردي پال دي چې هم یې د کلتوري پرغل معنا پیدا کړې او هم زموږ له اسلامي او دیني تقدساتو سره په ټکر کې واقع شوي. د ساري په ډول په پښتنې ټولنه کې طلاق یو عیب ګڼل کېږي، خو که چېرې انسان تنګ شي نو بیا د اسلامي ګروهې له مخې طلاق ته زړه ښه کوي، خو په دغو سریالونو او ډرامو کې ګورو چې نجلۍ په یوه وخت کې له څو تنو سره اړیکې لري او په یو وخت د څو تنو ښځه وي چې دا هم کلتوري ټکر دی او هم اسلامي.***

نو که خبره را ټوله کړو زموږ ځینې ادبي ژباړې دا او دې ته ورته ستونزې لري چې له سینده مو کوزه یاده کړه او پاتې برخې به یې نور درانه څېړونکي یاد کاندي، خو اوس به له موضوع او ژمنې سره سم د ژباړو د نورو ډولونو یوازې نومونه یاد کړم چې پورته یې ځینې برخې یادې شوې:

۴- دیني ژباړه.

۵- ګړنی ژباړه.

او داسې نور او دویمه برخه ژباړه د ژبې له پلوه ژباړه وه چې ځینې برخې یې دا دي:

۱- کلمه په کلمه یا ټکي پر ټکي ژباړه.

۲- جمله په جمله ژباړه.

۳- ازاده ژباړه.

۴- د ژباړې ژباړه.

او داسې نور چې ژباړن ته لومړی د ژباړې په دې ټولو ډولونو باندې ځان پوهول په کار دي او بیا یې ژباړل او که چېرې د اوس په څېر د ځینو ښاغلو او اغلو له خوا همداسې خپلسری روانې وي بې له شکه به زموږ ژباړې په ټوله معنا زموږ ولس، دودونه، اسلامي، ملي او کلتوري ارزښتونه له ستونزو او آن ننګونو سره مخامخ کړي او که پر وخت یې حکومت مخه ونه نیسي، بې له شکه زموږ راتلونکی نسل به یې هم د زوال کندې ته غورځولی وي چې بیا به یې نه موږ او نه هم حکومت مخه نیولی شي، نو وړاندې تر دې چې له کمره وغورځېږو باید مخه یې ونیول شي.

**پایله:**

په دې کې شک نه شته چې ژباړه یوه اړتیا او یو مبرم ضرورت دی او د نړۍ ټول پرمختللي او متمدن هېوادونه تر ډېره د ژباړو له لارو پر مخ تللي، ځکه هرې برخې ته یې چې اړتیا پیدا شوې، نو په اړه یې هم خپله لیکل کړي او هم یې د نورو ټولنو تجربې او بریالیتوبونه د مشورو او ژباړو له لارو ترلاسه کړي، خو د هغوی بریالیتوب په دې کې و او دی چې هغوی لومړی د خپلې ټولنې اړتیا درک کړې او بیا یې د هغې د حل لپاره لارې چارې سنجولي او که یې اړینه بللې چې په یاده برخه کې د نورو بریالیو ټولنو متون را وژباړي، نو بیا یې د خپل هېواد غوره کسان او نخبګان موندلي او هغوی یې د دغه چار ترسره کولو ته ګومارلي، امکانات یې ورکړي او د کارونو قدر یې ورته کړی، خو زموږ په ټولنه کې نه دغه اړتیا چا درک کړې او نه یې ورته ارزښت ورکړی او که یو نیم زړه سواندی پیدا شوی او اړتیا یې درک کړې او د هغې پر اساس یې کار شروع کړی، نو تر هغې وړاندې یو بل داسې کمزروي او بې خونده چا دا کار کړی چې هم یې د لومړني او وړ کس جذبه مړه کړې او هم یې د هغه پر کار د بطلان کرښه را کاږلې چې د مثال په توګه به یې د

(افغانستان در مسیر تاریخ) کتاب نوم یاد کړم چې تر اوسه پورې څو تنو ښاغلو ژباړلی او ټول یې په علمي لحاظ په ډېرو لوړو پوړیو کې دي، خو هغه چا چې باید ژباړلی وای او چاپ شوی وای ښایي تر اوسه یې هم د بشپړېدلو جرئت نه وي کړی، همداسې دا نور مسایل هم در واخله، نو که ژباړه کېږي باید د اړتیا له مخې د یو مسلکي او ځانګوال تن له خوا وشي چې هم پرې اړتیا پوره شي او هم پرې ټولنه ښېرازه شي او که بې اړتیا او نا مسلکي کسان یې ژباړي، نو بې له شکه به یې هم ژباړه بې خونده وي او هم به یې زموږ ولس، کلتور، تقدس او دې ته ورته مسایل له ننګونو او ربړو سره مخامخ کړي وي چې له بده مرغه تر ډېره همداسې هم ده.

البته ټول ژباړنان ځکه نه یادوم چې ځینو ښاغلو په رښتینې معنا داسې ژباړې کړي چې آن پرې د ژباړې ګومان هم نه کېږي، لکه اجمل ښکلی، عبدالقیوم زاهد مشوانی، استاد محمد آصف صمیم، هجرت الله اختیار، نذیر احمد سهار، څېړنپوه نصر‌الله ناصر، وجیه الله شپون، استاد حبیب الله رفیع، اسدالله غضنفر، محمد اسمعیل یون او داسې نور دا ټول هغه ښاغلي دي چې احسان به یې دا ولس تر ابده هېر نه کاندي، خو هغو کسانو چې په خپل سر یې بې اړتیا، بې خونده او د کلتوري ارزښتونو په نه پام کې نیولو سره ژباړې کړي او لا یې کوي، نو بې له شکه د دغو ښاغلو کار یې هم تر خپل سیوری لاندې راوستی او نږدې ده چې ناسمې ژباړې د ټولو دقیقو ژباړنانو د زړه حوصله او تومنه له منځه یوسي؛ خو وړاندې تر دې چې دغه ډول کار وشي په کار ده چې مخه یې ونیول شي او درانه ژباړنان هم ورته ځیر شي چې کوم شیان یې د ټولنې په ګټه دي مینه وال یې خوښوي او ورته اړتیا لري او کوم شیان د ټولنې په کار نه دي او په ژباړلو سره یې پر ټولنې سربېره د ده شخصیت هم په سیند لاهو کوي او لږ تر لږه هغه ارګانونه چې په دغه برخه کې مسوولیت لري هم تر یو ځایه دې خپل اواز اوچت او د ناسمیو د سمون په موخه دې یو عام پوهاوی کار وکړي.

## مأخذونه:


۱- رحمت الله جمالزی، لومړی چپټر، د ژباړې انستیتوت لپاره د ژباړې لکچرنوټ، ناچاپ اثر، ۱ مخ.

۲- نصـــرالله نــاصر(څېړنپوه)، د افغانســتان د معــاصرو ادبیــاتو وضــعیت (د سـیمینار د مقـالو ټولگـه)، اوډنـه او د چـاپ زیـار د څېړنـدوی وجیـه الله شـپون، د افغانسـتان د علومـو اکـاډمي، د ژبـو او ادبیـاتو مرکـز او د پښـتو څېړنـو نړیـوال مرکــز، د مومنــد خپرنــدویې ټــولنې تخنیکــي څانگــه، ننگرهــار، ۱۳۹۴ لمریــز کال، ۲۳ مخ.

۳- نصرالله ناصر(څېړنپوه)، پورتنی اثر، ۲۳- ۲۴ مخونه.

۴- همدغه اثر، ۲۵ مخ.

۵- اجمــل ښــکلی، د ژبــاړې اصــول، مومنــد خپرندویــه ټولنــه، ننگرهــار، ۱۳۹۳ لمریز کال، ۱ مخ.

٦- اجمل ښکلی، پورتنی اثر، ٦- ۷ مخونه.

۷- محمــد هوتــک، پټــه خزانــه، د پــوهنې وزارت د دارالتــالیف ریاســت، دوهم چاپ، ۱۳۳۹ لمریز کال، ٦۰ مخ.

۸- محمد هوتک، پورتنی اثر، ۱۹۴ مخ.

۹- اجمل ښکلی، هماغه اثر، ۱۰-۱۲ مخونه.

۱۰- محمــد صــابر خویشــکی، پښــتو غــږ پوهنــه او ویــي پوهنــه (فونولــوژي- مورفولــوژي)، صــمیم ادبي ټولنــه، کابــل، دویــم چــاپ، ۱۳۸۸ لمریــز کــال، ۱ مخ.

۱۱- پــال ســتراترن، ســقراط، ژبــاړن، محمــداکبر نیــازی، کتــاب ښــار خپرندویه ټولنه، کابل، ۱۳۹۵ لمریز کال، ۱۱-۱۳ مخونه.

۱۲- ډېــل کــارینگي، لــه ذهنــي فشــاره ژغورنــه، پښــتو ژبــاړه، څېړندویــه عاقله سادات، میهن خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۹۳ لمریز کال، ۲ مخ.

۱۳- اجمــل ښــکلی، د ژبــاړې اصــول، مومنــد خپرندویــه ټولنــه، ننگرهــار، ۱۳۹۳ لمریز کال، ۴۷ مخ.

۱۴- محمـــداشرف غمگـــین، خـــود اعتمادیـــت، جـــرس دري میاشـــتنۍ خپرونــه، ۳۷، ۳۸، ۳۹، ۴۰ مــه پرلــه پســې گڼــه، ۲۰۰۲ زېږدیــز کــال، ۹٦۱ مخ.

۱۵- پرویز قاضي سعید، مرگیه مه راځه لا ځوان یم، ژباړن، نصرت الله رحیمي، میهن خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۸ لمریز کال، ۱-۲ مخونه.

۱٦- ژان بروس، پټه دنده بریالۍ هڅې، ژباړن، حبیب الله حبیبي، صمیم ادبي ټولنه، کابل، ۱۳۸٦ لمریز کال، ۷-۹ مخونه.

۱۷- درویش دراني، په کاڼي کې هنداره، صحاف نشراتي موسسه، اکرم پریس، لاهور، ۲۰۰٦ زېږدیز کال، ۴۳ مخ.

**پوهندوی بریالی باجوړی**

# اقبال او خوشحال

## لنډیز:

اقبال اوخوشحال دواړه د شرق نامتوشاعران دي؛ خوشحال د اوولسمې پېړۍ شاعردی اواقبال دشلمې پېړۍ. د دواړو د ژوند ترمنځ واټن ډېر دی، خو بیا هم د دواړو ترمنځ د مشابهت داسې ټکي شته چې د دواړو مقایسه پرې کیدای شي. دواړه مسلمانان وو. تقریباً د یوې سیمې اوسیدونکي وو.دواړو د استعمار پر وړاندې مبارزه کوله.خوشحال د مغل استعمارپر وړاندې او اقبال د انګریز استعمارپر وړاندې خپل جدوجهد جاري ساتلی و. دواړو د وحدت شعاردرلود. خوشحال دپښتنود وحدت اواقبال د هند په نیمه وچه کې د ټولومسلمانانود یووالي لیوال و. دخوشحال او اقبال انتقادي روحیه د دوی په شعرونوکې سره ورته دي، خوشحال ټیټ نفسي-پښتانه او اقبال ټیټ نفسي مسلمانان غندلي دي.د خوشحال د مېړانې اوشجاعت سېمبول په شعرونوکې باز دی اود اقبال هم باز.خوشحال هم د باز ترڅنګه کله کله شاهین په شعرکې راوړی او اقبال هم کله کله دشاهین ترڅنګه باز په خپلوشعرونوکې استعمال کړی دی.خوشحال او اقبال دواړو په یوډول شرایطوکې ژوند کاوه، نوځکه یې په شعرونوکې مشابهتونه لیدل کیږي.

بله مهمه خبره دا ده چې اقبال دخوشحال تراغیزلاندې زیات وو.اقبال دخوشحال شعرونه لوستلي. له بلې خوا دپښتنو د ژوند مشاهده او مطالعه یې کړې وه.له پښتنوسره یې زښته زیاته مینه وه اوهمدارنګه له خوشحال سره یې خود مینې مثال دا و چې تقریباً د خپلې لارې رهنما یې ګرځولی و.

## سریزه:

اقبـال پـه پښـتونه پوهيـده خـود انګريـزي لـه لارې يـې دخوشـحال شـعرونه لوسـتلي وو. ميجـر راورټـي چـې د خوشـحال دسـلو نظمونوکومـه ژبـاړه پـه انګريـزي ژبـه کـړې وه اوپـه اتلـس سـوه دوه شـپېته کـال پـه لنـدن کـې چـاپ شـوې وه،اقبـال لوسـتې و همدغـه وجـه وه چـې اقبـال پـه نـولس سـوه اتـه ويشـت کـې د دکـن دحيـدراباد پـه اسـلامي فرهنـګ نـوې مجلـه پـر خوشـحال بانـدې يـوه ليکنـه خپـره کړه.اقبـال دومـره دخوشـحال تراغيزلانـدې راغلـی وچـې پـه دغـه ليکنـه کـې د شـاه امـان الله د وخـت د معـارف لـه وزيرنـه هيلـه څرګنـده کـړه چـې يوافغـان عـالم دې دخوشـحال د شـاعرۍ اونقادانـه افکـارو ترڅېړنـې وروسـته دخوشحال په ادبي اوعلمي کارناموباندې يوکتاب ليکلوته وګوماري.

## د څېړنې اهميت او مبرميت:

د دې څېړنـې اهميـت او مبرميـت پـه دې کـې دی چـې د خوشـحال او د اقبـال جوتېـدا او اوچتېـدا معلومـه کـړي، يعنـې پـه دې څېړنـه کـې ثابتـه شـوې چـې خوشـحال بابـا پـه کراتـو مراتـو لـه اقبـال څخـه غـوره و او دا چـې اقبـال د دومـره لـوی نامـه خاونـدی شـوی دی هغـه هـم د خوشـحال لـه برکتـه دی، يعنـې نومـوړي د خوشـحال لار تعقيـب کـړې، د خوشـحال لـه فکـر او انـدود څخـه اغېـزمن شـوی او آن پـه ځينـو ځـايونو کـې خـو ګـورو چـې د خوشـحال ابيـات يـې ګـټ مـټ پـه دري يـا اردو ژبـاړلي چـې دا پـه خپلـه زمـوږ د خـبرې د پخـلي سپيناوی کوي.

## د څېړنې موخې:

هره څېړنه ځانګړې موخه لري د دې څېړنې موخه دا ده چې ايـا خوشـحال د تورې، مېړانې، پښتونولۍ او قامولۍ ترڅنګ د قلموالو سره هم پرتله کېدلای شي او که نه؟

دقيقاً خوشحال خان خټک له لويو قلموالو سره پرتلـه کېـدلای شي او همدغـه پرتلنه يې ده چې خوشحال يې په دې برخه کې هـم د اسـمان پـه سـتورو او يـا لمـر هومره ځلولې او برېښولی دی، چې وړاندې دغه رڼا يې يا تته او يا هم ډېره پيکـه وه.

## د څېړنې پوښتنې:

په دې څېړنه کې پوښتل شوي چې:

- ✓ ایا خوشحال له اقبال سره پرتله شي او که اقبال له خوشحال سره؟
- ✓ ایا د خوشحال پرتله به یوازې په یوه برخه کې وي او که په ډېرو برخو کې؟
- ✓ کوم لاملونه و، چې خوشحال یې څو پېړۍ وروسته هم اتل ساتلی دی؟
- ✓ ولې باید خوشحال له اقبال او یا دې ته ورته نورو شاعرانو، لیکوالو او قلموالو سره پرتله شي؟

او دې ته ورته نورې پوښتنې...

## د څېړنې روش:

ما هڅه کړې چې خپله دغه څېړنه د تحلیلي، تشریحي او انتقادي میتود له لارې ګرانو مینه والو او قلموالو ته وړاندې کړم، هیله ده په خپله دغه زیاتونه کې ربښتینې اوسم.

## اصلي متن:

داقبال د دغې مقالې عنوان و(افغان جنګیالی شاعرخوشحال خټک ) اقبال دومره دخوشحال تراغیزلاندې راغلی و چې کله یې (بال جبریل ) خپراواه نوپه مقدمه کې یې دخوشحال خال په باره کې ولیکل (خوشحال خان خټک د پښتوژبې مشهوروطندوست شاعردی چې افغانستان یې له مغلونه ازادکړاوپه سرحدکې یې دپښتنوقبایلویوه ډله جوړه کړه.د افریدوقوم تراخره ورسره ودرید.دده دسلونغموانګریزي ترجمه په اتلس سوه دوشپیته کال دلندن نه شایع شوې ده.) همدارنګه اقبال دبنویوه اوسیدونکې خدیجه بیګ فیروزالدین چې دپنجاب دپوهنتون محصله وه دې ته وهڅوله چې خپل دډاکټرۍ تیزسس په خوشحال باندې ولیکي نومورې په نولس سوه اته ویشت کې دې کارته ملا وتړله اوکلونه کلونه یې په دغه څېړنه تیرکړل اوخپل تیزسس یې د (خوشحال خان خټک ژوند وهنر) ترنامه تکمیل کړ چې په خوشحال خان باندې دالومړنی تحقیقي کاردی.دغه اثر اقبال نسیم خټک په اردو ژباړلی اوله اردونه ښاغلي اجمل ښکلي په پښتوکې ژباړلی دواړه ژباړې خپرې شوې دي.

داقبال دغه مینه چې له پښتنوسره یې لرله پښتانه هم اړویستل چې داقبال اثارپه پښتوکې وژباړي.

دعلامه اقبال داسرارخودي اورموزبې خودي پښتومنظومه ژباړه سمندرخان دبدرښووکړه چې په کال نولس سوه څلور پنځوس کې په کراچۍ کې خپره شوه .دزبورعجم پښتومنظومه ژباړه تقویم الحق کاکاخیل وکړه او په نولس سوه یوشپیته کې پېښورپښتواکاډمۍ چاپ کړه.

دبانگ درا منظومه ترجمه راحت زاخیلي وکړه او په نولس سوه دوه شپیته کال کې پیښوپښتواکاډمۍ خپره کړه. ضرب کلیم دتقویم الحق کاکاخیل منظومه ژباړه ده چې په نولس سوه دري شپیته کې پیورپښتواکاډمۍ چاپ کړه. ضرب کلیم شیرمحمد مینوش هم په نظم ژباړلی چې پېښوریونیورستۍ بک ایجنسي- خپورکړی دی.

پیام مشرق دشیرمحمدخان مینوش ژباړه ده چې پېښورپښتواکاډمۍ په نولس سوه دري شپیته کې خپره کړې ده.

بال جبریل منظومه ترجمه قاضي عبدالحلیم اثرسلارزي کړې چې په نولس سوه اووه شپیته کې پېښورپښتواکاډمۍ چاپ کړې ده.بال جبریل عبدالله جان اسیرهم په نظم ژ باړلی دی اود (پلوشې) په نوم یې خپورکړی دی.

جاویدنامه د دې کتاب منظومه ژباړه امیرحمزه خان شینواري کړې اوپېښورپښتواکاډمۍ په نولس سوه اووه شپیته کال کې خپره کړې ده.پس چه بایدکرد او د مسافر دواړو منظومې ترجمې سیدتقویم الحق کاکاخېل کړې دي.

ارمغان حجازداقبال وروستی کتاب دی چې د ده له مرگ نولس سوه اته دېرش نه اته میاشتې وروسته چاپ شو. د دغه کتاب پښتوژباړه راته معلومه نه شوه چې کوم ښاغلي کړې ده ؟

پر اقبال باندې په کوزه پښتونخواکې پښتنولیکوالوډېرکارکړی دی.په افغانستان کې دگوتوپه شمېر لیکوالو پر اقبال باندې لیکنې کړې دي او دا لیکنې له هغه وخت نه پیل کیږي چې اقبال دنادرشاه شهیدله خوانه افغانستان ته رابلل کیږي او اقبال له خپلو ملگروسره په نولسوه درې دېرشم کال کې کابل ته راځي.په دغو لیکوالوکې صلاح الدین سلجوقي، سرورگویا، خلیل الله خلیلي، غلام حسین

مجددي،شهزاده احمدعلي خان دراني،قیام الدین خادم،قاري عبدالله اوپه راورسته کې عبدالله یې پرتله کړم اوهم په دې لکینه کې داقبال هغه شعرونه راوړم چې کټ مټ یې مفهوم له خوشحال نه راخیستی اوهم کومه مینه چې له افغانانواوپه خاصه توگه له پښتنوسره لري اوپه خپلوشعرونوکې یې ستایلي دي د هغو شعرونوڅو نمونې به هم راوړم.

خوشحال او اقبال دواړه د مضمون افرینۍ ارزښت او اهمیت په باره کې تقریباً ورته نظرونه لري:

خوشحال وایي:

دا رنگینې معنا چېرې دي خوشحاله
چې را درومي لکه گل په بیاض ستا

اقبال وایي:

برگ گل رنگین زمضمون من است
مصرع من قطره خون من است

خوشحال خان ترټولوهنرونونه دتورې هنرمهم اوارزښتنا ک گڼي اووایي:

چې خرگنده سربازي کاندې دتورو
زه خوشحال خټک ترهسې هنرجارشم

اقبال همدغه مطلب په دې ډول اداکوي:

من ازعلم وفراست باپرکاهی نه میگیرم
که ازتیغ وسپربیگانه سازدمردی غازی را

خوشحال خان له زمانې سره سازښت نه مني اواقبال هم وایي چې که زمانه له تاسره نه جوړیږي نوته له زمانې سره مقباله وکړه.

خوشحال:

توکلت علی الله یوه وېناده
دخوشحال له زمانې سره سازنشته

اقبال:

حدیث بې خبران هی توبازمانه بساز
مانه باتونسازد،توبازمانه ستیز

له پیسوسره مینه اودپیسوزیرمه تقریباً یوډول غندي.

خوشحال:

هغه زرترکاڼي لوټې لابتردي
چې يې ومنډې په ځمکه نه خرڅيږي
چې اوبه یوځای ایسارې شي خوساشي
صفايي هم په داده چې بهيږي

اقبال:

اگرکردی نگه برپاره سنگ
زفیض ارزوی توگهر شد
به زرخودرامسنج ای بنده زر
که زر ازگوشه چشم توزرشد

خوشحال:

ددرویش برخه خوشي غم دهغودی
چې په شماردزروناست وي چون وچندکا

اقبال:

مرد درویش کاسرمایه ازادي ومرگ
هی کسی اورکې خاطریه نصاب زروسیم

خوشحال:

دسلیمان غوندې يې پاس په زړگي کيږده
نه قارون غوندې يې ږده دزړه دننه

اقبال:

ضمیرپاک ونگاه بلند ومستي وشوق
نه مال ودولت قارون نه فکرافلاطون

د خوشحال اواقبال لوړخيال هم یوډول دی.لوړانسانان لوړخيالونه لري دلته به تاسې ددغو دوه شاعرانودلوړخيال نمونې وگورئ

خوشحال:

که لويي وته مې گورې

ماه وخورزماپرچم دی
اسمانونه مې خیمې دي
پرې دستوروزینت تم دی
لامې لوړباغونه نوردي
کمکی باغ مې دارم دی

اقبال:

بلندبال چنانم که برسپهربرین
هزاربارمراکمین کردند

خوشحال په نوروشعرونوکې هم خپل لوړخیال په دې ډول څرګندوي:

په اسمان باندې پیرې کړم
دهمت په پروبال
چې فلک سره سرباسي
په همت کې هغه زه یم
وایي لاردختونشته واسمان ته
زه به لاردرته پیداکړم په هنر

اقبال وایي:

عروج ادم خاکي کې منتظرهی تمام
یه کهکشان،یه ستارې،یه نیلګون افلاک

دخوشحال اواقبال ژورفکرهم سره ډېرورته دی. خوشحال وایي:

چې غوټې پسې وهې په لاس به درشي
چاویل چې په دریاب کې ګوهرنشته

یا:

دمقصودګوهر په لوي دریاب کې پروت دی
غواصان پسې غوټې وهي په مرسته

یا:

د عاشق خاطراوخیال لکه دریاب دی
چې څپه یې کله لوړه کله مسته

اقبال وایي:

میارابزم برساحل که انجا
نوای زندگاني نرم خیزاست
به دریاغلط وباموجش دراویز
حیات جاودان اندرستیزاست

دخوشحال بازاوداقبال شاهین ددغودواړوپه شعرونوکې ډېرسره ورته دي اوځینې خلک خولاپه دې عقیده دي چې داقبال شاهین هماغه دخوشحال بازدی.بازاوشاهین ددواړو سېمبولونه دي.بازد خوشحال ایډیل پښتون اوشاهین داقبال دمردمومن سېمبول دی.

خوشحال وایي:

څه شوکه دبازله جالې والوزي زغن
بیازغن زغن دی که هرڅووي پنجه زن

اقبال وایي:

پروازهی د ونو کې ایک فضا مې
گرگس کاجهان اورهی شاهین کاجهان اور

خوشحال وایي:

کله بازکوي مرداري ته هوس
دغه کاردی دکلاغ اودگرگس

اقبال وایي:

نگاه عشق دل زنده کې تلاش مې هی
شکارمرده سزاوارشاهبازنهي هی

خوشحال:

لکه بازپه لوی لوی ښکارزمانظروي
نه چې گرځي گونگټ نیسي بادخورک یم

اقبال:

نهي تیرانشیمن قصرسلطاني کې گنبدپر
توشاهین هی به سیراکرپهاړو کې چټانومې

خوشحال:

ته هغه شهبازيې چې دې ځای په سردرو دی

نه لکه دکلي کارغه گرځه غم دنس کړه

خوشحال اواقبال دواړه دازادۍ لیوال وواوپه دغه لاره کې یې مبارزه کوله.خوشحال ازادۍته داسې گوري:

ازادي ترپادشاهيه لا تيرى کا

چې دبل ترحکم لاندې شي زندان شي

داقبال دشعرمنظومه ژباړه شيرمحمدمينوش داډول کړې ده:

مردحرپه لاتخف دی زورور

موږسرټيټي يوميدان کې دی زړور

مردحرپه لا الله روشن ضمير

نه غلام وي دبادشاه نه د امير

د اقبال اوخوشحال نظردرياکاره زاهدانواوملايانوپر وړاندې يوډول دي:

خوشحال وايي:

که شيخان که زاهدان که عالمان دي

دعمل سره جوړنه دی قال ددواړو

يا:

داجاهل شيخان شيخان نه دي شيطان دي

چې فسادېي پيداکيږي له تهليله

دين حق ازکافري رسواتراست

زانکه ملامومن کافرگراست

ازشگرفيهاى ان قرآن فروش

ديده ام روح الامين را درخروش

کم نگاه وکورذوق وهرزه گرد

ملت ازقال واقوالش فرد فرد

دمردۍ اوميرانې په باره کې خوشحال وايي:

مردي دې هيڅ ده چې په زړه شيرنه يې

څه خووشوکه زړور ډېرنه يې

ترسرچې تيرشي ويره هيڅ نه وي

ويره دې هومره ده چې ترسرتيرنه يې

اقبال وايي:

دل بيباک راضرغام رنگ است

دل ترسنده رااهوپلنگ است

ا گربيمې نداري بحرصحرا است

وگرترسي به هرموجش نهنگ است

خوشحال اواقبال دواړه په دې نظردي چې تردوی وروسته بـه د دوی غونـدې اشخاص رانه شي. خوشحال وايي:

نه به زماغوندې ننگيالی راشي

نه به زماغوندې بل جنگيالی راشي

ختک خوپرېږده په درست افغان کې

عجب که هسې فرهنگيالی راشي

اقبال وايي:

سرود رفته  بازايد که نايد

نسيمې ازحجاز ايد که نايد

سرامدروزگاراين فقير

دگرداناى راز ايد که نايد

داقبال په شعرونوکې ځينې داسې شعرونه هم شته چې کټ مټ دخوشحال دشعرونوژباړه ده. لکه د خوشحال دغه شعر:

پښتانه په عقل پوهه څه ناکس دي

کوټه سپي دقصابانودجوس دي

پادشاهي يې دمغل په زروبايله

دمغل دمنصبونوپه هوس دي

اوښ له باره په خپل کورکی دې ورغلی

په ولجه داوښ دغاړې دجرس دي

اقبال همدغه مطلب په خپل شعرکې داسې راخیستی دی:

اشترې یابد اگر افغان حر
با یراق وساز وباامیان دور
همت دونش ازان امیان دور
میشود خوشنود بازنگ شتر

اقبال خوشحال شناس او افغان شناس دی. په خپلو شعرونو کې یې د خوشحال ستاینه اوپېژندنه په ښه توگه کړې ده او همدارنگه د افغانانوتشریح، ستاینه او د دوی د اصلاح په اړه یې هم ډېرڅه ویلي دي.

د خوشحال یوبیت دی چې وایي:

چې منصب مې د مغل خوړیوملک وم
چې منصب د مغل نشته اوس ملک یم

اقبال دخوشحال دغه بیت داسې راوړی. د شعر ژباړه داسې ده:

چې منصب پورې خوشحال خټک نوکر و
چې منصب ورځنې لاړو اوس پادشاه دی

دخوشحال په یوبل شعرکې موږ وینو چې دی څومره خوشحال شناس و:

خوش سرودان شاعرافغان شناس
انکه بیند بازگوید بې هراس
ان حکیم ملت افغانیان
ان طبیب ملت افغانیان
راز قومی دید بی باکانه گفت
حرف حق باشوخی رندانه گفت

او د خوشحال وصیت یې په دې ډول را اخیستی دی:

قبایل هو وحدت کې ملت مې گم
که هونام افغانیو کا بلند
محبت موجې ان جوانوسې هی
ستاروپې جوډالتې هی کمند
مغل سې کیسې طرح کمترنه هي

کوهستان کایه بچه ارجمند
کهوتجسې ای همنشین دل کې بات
وه مدفن هی خوشحال خان کاپسند
اړا کرنه لایې جها بادکوه
مغل شهسوارو کې گرد سمند

اقبال د افغانانواوبیاپه تېره د سرحد له پښتنوسره ډېره مینه ښودلې ده. همېشه یې د دوی ستاینه کړې ده او د دوی پر بې اتفاقۍ او بې نظمۍ باندې افسوس ښکاره کړی دی. اقبال په ضرب کلیم کې د محراب گل افغان د افکارو ترعنوان لاندې ډېر هیجاني شعرونه ویلي دي اوپه دغوشعرونو کې د افغانانو خصوصیات یې بیان کړي دي او د (اپني خودي پهچان او غافل افغان)په شعرکې خو ورته وایي چې هرڅه بدل شوي دنیا بدله شوې قومونه بدل شوي ته هم بدل شه. همدارنگه اقبال د خیبر دتاریخې درې په اړه ډېر توصیفي شعرونه لري چې زه یې یوشعردنمونې په توگه راوړم:

خیبرازمردان حق بیگانه نیست
دردل اوصدهزارافسانه ایست
سرزمین کبک او شاهین مزاج
اهوی اوگیرد ازشیران خراج
درفضایش جره بازان تیزجنگ
لرزه برتن ازنهیب شان پلنگ
لیکن ازبې مرکزي اشفته روز
بې نظام وناتمام ونیم سوز
ان یکي اندرسجود این درقیام
کاروبارش چوصلواتې بې امام

اقبال دافغانستان دشاهانولکه بهلول،شیرشاه،احمدشاه بابا،امیرعبدالرحمن خان،امیرحبیب الله خان، اعلیحضرت امان الله خان،اعلیحضرت نادرشاه،اعلیحضرت ظاهرشاه یادونې کړي او ډېروته یې شعرونه ویلي دي.

د نادرشاه په زمانه کې کابل ته میلمه شوی اودلته په  کابل کې دصلاح الـدین سـلجوقي، سرورگویـا، سردار احمدعلي،حسـین مجـددي، خلیـل الله خلیلي، قـاري ملک الشعراعبدالله، قیام الدین خادم، عبدالحی حبیبي او نـورو لیکوالـو او شـاعرانو سره اشناشوی دی.

اقبال د افغانستان له ټولوشاهانوسره مینه درلوده خوزیاته مینـه یـې دنادرشـاه سره وه اودنادرشاه سره داقبال رابطه له هغه وخت نه وه چې دی لا پاچاهی تـه نـه و رسیدلی او دده له هغوشعرونونه هم دده مینه معلومیږي چـې نادرشـاه شـهیدته یـې ویلي دي.اقبال په دې سفرکې له غزني نه هم لیدنـه کـوي اوبیـا پـه قنـدهارکې تـم کیږي اودقندهاردلیدلونه وروسته دچمن له لارې اوړي.

د دغه سفرټول حالات د ده د سفرملگري سیدسلیمان ندوي په خپلـه سـفرنامه (سیرافغانستان )کې په تفصیل سره راخیستي دي.

د اقبال اوخوشحال په اړه ډیرڅه ویل کیدای شي که څه هم په دې برخـه کـې مقالې لیکل شوي دي خو داسې یوتحقیق نـه دی شـوی چـې د اقبـال اوخوشـحال افکارسره په بشپړه توگه مقایسه کړي اوداکار دیوتیزس ایجاب کوي.

د خوشحال او اقبال مایوسي هم یوډول ده. هغه څـه چـې دواړوغوښـتل خپـل ارمان ته ونه رسیدل.

خوشحال ویلي:

زه یې چالره وهم قدریې چازده
په اورپورې شه دا توري قلمونه

اواقبال هم ورته مایوسي ښکاره کړې ده:

چو رخت خویش بربستم ازین خاک
همه گفتند با ما اشنابود
ولیکن کس ندانست این مسافر
چه گفت باکه گفت وازکجابود

## پایله:

د پایلې په توگه باید ووایو چې د علامه اقبال او خوشال خان خټک  د شـاعرۍ ډېر اړخونه مشترک دي، علامه اقبال له خوشحال بابا ډېر متاثر و، څرنگه چې علامه

اقبال په پښتو ژبه نه پوهېده، نو د هغه افکار يې په انګليسي- ژبه لوستلي وو، چې د علامه اقبال په شاعرۍ کې د خوشحال د شاعرۍ ډېر اړخونه له ورايه ښکاري، علامه اقبال خديجه بېګم فيروزالدين هم دې ته وهڅوله تر څو د خپلې دکتورا تېزس د خوشال بابا په اړه وليکي، د دې ترڅنګ اقبال له افغانانو سره خاصه مينه درلوده او په خپله شاعرۍ کې د افغان وطن ننګيالي په ډېر درنښت ياد کړي چې په دې مقاله کې دغو اړخونو ته پوره پوره اشاره شوې ده.

## مأخذونه:


١. خدمتګار، عبدالله بختانی، خوشحال خان اويوڅونورفرهنګيالي خټک، په بلجيم کې د استوګنو افغانانو د تفاهم، مرستې او پيستون ټولنه، دانش خپرندويه ټولنه، پېښور، ١٣٨٠لمريز کال.

٢. هيوادمل،زلمی، افغان جنګيالی شاعر، شمشاد مجله، دخوشحال فرهنګي ټولنه، کابل، ١٣٨٠ لمريز کال.

٣. چغتای، محمداکرم، اقبال، افغان اورافغانستان، سنګ ميل پبلې کيشنز، لاهور، ٢٠٠٨ زېږديز کال.

٤. صديقي، عبدالعليم، کليات اقبال، مقبول اکيډيمي، لاهور، ٢٠٠۴ زېږديز کال.

٥. مومند، دوست محمد خان، خوشحال خان خټک،(ژباړن عبداللطيف طالبي )، د دانش خپرندويې ټولنې تخنيکي څانګه، پېښور، ١٣٨٥ لمريز کال.

٦. فيروزالدين، خديجه بېګم، خوشحال خان خټک ژوند و هنر(ژباړن اجمل ښکلی )، دافغان کلتوري ټولنو وده، د دانش خپرندويې ټولنې تخنيکي څانګه، پېښور، ١٣٨٧ لمريز کال.

٧. داودي، مقبول انور، مطالب اقبال، فيروز سنز، لاهور، ١٩٨۴ زېږديز کال.

٨. خټک، خوشحال خان، ديوان،(لومړی برخه )، د علومواکاډمي، دولتي مطبعه، کابل، ١٣٥٨لمريز کال.

پوهنوال لال پاچا ازمون

# د شیدا د شعر شکل او عروضي جوړښت یې

## لنډیز:

ډېر ځله داسې فکر کېږي چې د عادي خبرو پيېل شعر او نظم دی په داسې حال کې چې ما وړاندې هم په دې اړه بحثونه کړي، چې شعر ځانته جوړښت لري او نظم ځانته او هره خبره چې د شعر یا نظم په چوکاټ کې وپيېل شي هغه شعر نه دی، نو کله چې دا خبره واضح شوه په دې هم بحث کول په کار دي چې شعرونه هرو مرو سېمبولونه او ځانته شکلونه لري چې دغه سېمبوله ډېر ځله د شاعرانو په هنر پورې هم اړه لري.

د همدغې خبرې د سپیناوي لپاره مې د کاظم خان شیدا پر شعرونو بحث کړی چې څه ډول شکلونه یې ورته ټاکلي او کوم صنایع یې په کې کارولي او ایا دغه صنایع یې په شعوري توګه کارولي او که نه په ناشعوري توګه.

دغو جوړښتونو یې شعر ښایسته کړې او که له اصلي مسیره یې ویستی دی.

## سریزه:

معمولاً پـه لویـو فکـري انقلابونـو کـې لـه نظمونـو او شـعرونو څخـه ډېـره ګټـه اخیستل کېدله او لامل یې هم دا و چې ګواکې په ذهن کې ژر کښېني او ولس یې په معنا ښه پوهېږي، خو د وخت په تېرېدلو او د نړیوالو ارزښتونو او اثارو پـه را پېښـتو کولو سره ولس ورو ورو له دغې مغالطې څخه را ووت او په دې پوه شو چې ارزښـتونه په چوکاټونو کې نه، بلکې په منځپانګو کې دي او دغه منځپـانګې هلـه خونـدورې او زړه راښکونکې شي چې کله الفاظ هم ورسره د جادویي هـنر مرانـدې را کـاږي او لـه طلايي حنجرې ورسره بدرګه شي، نو په داسې حـالاتو او د دغـو امکانـاتو پـه شـتون

کې بیا تر نثره په نظم او شعر کې زور او قوت زیات وي، خو دا چې دغه قوت کوم دی، کومې ځانګړنې لري او څنګه یې باید درک کړای شو، په همدې خاطر مې د کاظم خان شیدا د شاعرۍ هنر یا شکل او عروضو ته توجه کړې او غواړم دغه شننه له تاسې درنو سره هم در شریکه کړم.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت:

د دې څېړنې مبرمیت او اهمیت دا دی چې په ټوله کې د پښتو شاعرۍ او په ځانګړې توګه د شیدا د شاعرۍ شکل او جوړښت په ګرانو مینه والو او لوستونکو ته معلوم شي؛ ځکه تر کومه ځایه چې زه پوهېږم د شعر شکلي جوړښت او هغه هم د لږ څه پخوانیو شعرونو شکلي جوړښت نه یوازې ستونزمن و، بلکې له پوره پوره مهارتونو او هنرونو څخه هم ډک و، په دې معنا ځینو شاعرانو به د ابجد پر حساب او یا هم د بېتونو د تورو پر حساب به خپل نوم او یا هم یوه بله لانجمنه معما په کې کښلې وه او ځیر لوستونکی به پرې پوهېدای شو، خو اوس دغه چاره یو څه ساده او که ووایم سوچه له منځه تللې ده، نو له حقیقت څخه به لرې نه وي، نو ځکه دغه څېړنه دا او دې ته ورته باریکیو نه پرده پورته کوي.

## د څېړنې موخې:

موخه یې دا ده چې شیدا به خلک وپېژني، د شعر په لطافت او باریکۍ به یې پوه شي او دا به درک کړي چې ولې شیدا په خپل وخت او اوسمهال ځانګړی مقام خپل کړی، کوم داسې الفاظ، باریکۍ او شعري تومنې یې کارولي چې شعر یې له میریت څخه وتلی دی او د دې ترڅنګ د شعر موسیقۍ ته یې هم کله ناکله نغوته شوې چې له بده مرغه زموږ په ادبیاتو کې دا برخه تشه او که ووایم سوچه تشه ده، نو مبالغه به نه وي.

## د څېړنې پوښتنې:

په دې څېړنه کې دا پوښتل شوي، چې:

- ✓ شعر څه شی دی؟
- ✓ د شیدا شعر څه ډول شعر دی؟
- ✓ څه ډول جوړښت او فورم لري.
- ✓ عروضي جوړښت یې ډېر دی او که د پښتني شعري چوکاټونو جوړښت یې؟

✓ د شعر موسیقي څه شی ده او څنګه وي؟

او دې ته ورته نورې کوچنی او موضوع پورې اړوندې پوښتنې ځواب شوي چې لیکنې ته یې ځانګړی خوند او جذابیت ورکړی دی.

**د څېړنې میتود:**

دغه څېړنه پر تشریحي، توضیحي، مقایسوي او تر ډېره انتقادي میتود پر بنسټونو ولاړه ده.

**متن:**

نظم د جوړښت او شکل له مخې په دوو لویو برخو وېشل کېږي.

۱: معنوي

۲: لفظي

د نظم په معنوي برخه کې د جوړښت او بڼې له مخې هغه نظمونه راځي چې هغه د معنا او موضوع له مخې پېژندلی شو، لکه در واخلې حمد، نعت، ستاینه، ویاړنه، د ولسي ادب ځینې معنوي فورمونه، طنز، ساقي نامه، تراژیدي، کومېډي، عشقي، اصلاحي او...

لفظي نظمونه هغه نظمونه دي چې جوړښت، سکښت او بڼه یې د بېلابېلو چوکاټونو له مخې را پېژندل کېږي، په دې برخه کې د نظم ټول صنفونه راځي هغه که دېواني وي او که ولسي.

اوس راځو د شیدا د شاعرانه نظمونو بڼې ته، د شیدا د شعر په معنوي جوړښتونو کې حمد، نعت او نورې بېلابېلې موضوع ګانې چې معنوي تسلسل لري، د شعر چوکاټونه جوړ کړي دي.

دویمه برخه یې لفظي جوړښتونه دي، په لفظي جوړښتونو کې یې غزل، مثنوي، قصیده، څلوریزه یا رباعي او قطعې شاملې دي.

په لفظي جوړښتونو کې موږ د نظم عروضي جوړښت هم څېړو، له عروضي جوړښته مو مطلب د نظم یا شعر وزن، اهنګ او بېلابېل بحرونه دي، دغه برخه یې د شعر موسېقي برابروي.

هغه لفظي جوړښتونه یا چوکاټونه چې له نورو ژبو نه په تعریف پښتو ته راغلي، هغه د ردیف او قافیوي جوړښته پرته نور د وزن او اهنګ له مخې چې عروضي برخه

ده، د نورو له تالیفاتو سره سمون نه لري، معنا داچې د پښتو ژبې عروضي جوړښت د وزن او اهنګ پر بنسټ ځانګړی یا سېلابوتونیک دی.

د شیدا غزل د شعر لفظي او معنوي چوکاټونه د پښتو ژبې د نورو کلاسیکو شاعرانو په څېر له ردیف او قافیوي جوړښته پرته نور د پښتو ژبې پر سېلابوتونیک جوړښت برابر دي، ردیف او قافیه مو ځکه ترې وګرځوله چې زموږ کلاسیکه شاعري په دې برخه کې یواځې او یواځې د عروضي (عربي، فارسي) شاعرۍ تر اغېز لاندې ده، نور جوړښت یې سېلابوتونیک دی.

د شیدا د شاعرۍ معنوي او لفظي جوړښتونو هم یواځې او یواځې له عروضي شاعرۍ نه د ردیف او قافیې اصل ساتلی دی، نور جوړښت یې سېلابوتونیک دی، یعنې که غزل له عربي ژبې نه د معنوي او لفظي جوړښت له مخې پښتو ته راغلی، یواځې او یواځې یې په کلام کې معنوي تسلسل تر یو حده او د مسرو تاکلی شمېر او قافیوي جوړښت ساتلی دی، نور جوړښت یې د پښتو دی، یعنې د شیدا یو غزل هم تر پنځو مسرو کم او پنځلسو زیات نه دی.

د شیدا د شعر معنوي او لفظي جوړښت په ټولیزه توګه د بهرني ادب تر اغېز لاندې نه دی، غزل یې یواځې او یواځې عشقي مسایلو ته نه دی ځانګړی کړی او په لفظي جوړښتونو کې یې ځو بحرونه خپل کړي دي.

لومړی به د شپیز خجیز جوړښت له مخې د ده اته شپیز نظم را واخلو، په اته شپیز جوړښت کې یې کوم معنوي او لفظي جوړښتونه چې راځي، هغه تر پایه یو بحر پالي، داسې چې په لومړۍ مسره کې خج پر دریمه او اوومه شپه لوېږي او همداسې په دویمه مسره کې خج په یوولسمه او پنځلسمه شپه لوېږي، دلته د وزن له مخې د یو بیت چې دوه مسرې کېږي، د شپو شمېر شپاړس دی خو اهنګ یې پر خج او بحر جوړېږي:

ای د کل جهان صنیعه
ای د هر اسمان بدیعه
کامله قدرت د تا دی
نادره صفت د تا دی
لوی دېوان دې مرتب کړ

چې انسان دې منتخب کړ

تر پایه... (۱)

په دې او دې ته ورته نورو نظمونو کې شاعر هڅه کوي چې ځینې کلمې د خج پر بنسټ د کلام د وزن او اهنگ په خاطر له دوديز وينګه رابېلې کړي او تلفظ ته يې نوې بڼه ورکړي، لکه په دې کلام کې کامله او نادره.

دلته شاعر د کلام د اهنګ او لی د برابرښت لپاره خج پر درېیمه څپه راوړی دی، یعنې درېیمه څپه يې خجنه ده، که خج پر لومړۍ څپه ولوېږي د نظم لی او اهنګ زيانمنېږي.

په دوديز وينګ کې پر دغو کلمو فشار يا خج پر لومړۍ څپه لوېږي، يعنې لومړۍ څپه يې خجنه ده.

د دغه نظم چې معنوي جوړښت يې حمد و ثنا دی، لفظي جوړښت يې د قافيوي او وزني جوړښت له مخې منثوي دی، په لومړۍ مسره کې ( کل او نیـ ) خجن سېلابونه دي او په دوهمه مسره کې ( هر او دېـ ) خجنې څپې دي، په همدې ترتيب ددغه نظم ټولې مسرې د څپيز خجيز جوړښت له مخې په همدې بحر برابرې دي، شيدا د مثنوي چوکاټ په همدې بحر کې مناجات، د عشق صفت، حکايت، نعت، حکايت، حکايت د ليلا او مجنون، منقبد د ابوبکر صديق (رض)، منقبد د حضرت عمر (رض)، منقبد د حضرت عثمان (رض)، منقبد د حضرت علي (رض)، منقبد د حضرت بهاء الدين نقشبند...، منقبد د شيخ مجدد الف ثاني، منقبد د قدس الله، منقبد د حضرت پير و مرشد... د پښتو شعر حسب حال او يوشمېر قطعې ليکلي دي.

دغه اته څپيز خجيز جوړښت د موسېقۍ د ( سا، را، ګا، ما، پا، دا، ني، سا ) موسېقۍ پر وزن هم برابر دی.

## دولس څپيز:

په دولس څپيز نظم کې يې هم يو بحر پاللی دی:

ستا مهجور له ډېره درده آه فغان کړ

که ويشتلي توتي چيغ په هندوستان کړ

پيراهن راباندې تر لکه حباب شه

خپلو سترګو چې په ما باندې باران کړ
د سېلاب په یعقین عین  ویرانه وه
چې ګذر یې نن زما په خان و مان کړ
ورته وګوره سایه د مهتابۍ ده
که یې خط له سپینه مخه نمایان کړ
شیدا درست په لا دوا دردونو ډک دی
ما چې ببرته لکه زخم ستا دېوان کړ(۲)

په دې دولس څپیز غزل کې درېیمه، اوومه، یوولسمه، پنځلسمه، نولسمه او درویشتمه څپه خجنه ده، یعنې (جور، در، ان، ته، چیغ، ستان ) خجنې څپې دي.

په همدې ترتیب د شیدا ټول دولس څپیز نظمونه په همدې یو بحر کې لیکل شوي او سر ترپایه همدا وزن و اهنګ پالي.

دلته یوه بله بېلګه را اخلو چې ممکن تاسې یې د خج له امله کله په ویلو کې له ستونزو سره مخامخ شئ، خو که خج په ټاکلې څپه ولوېږي، نو په لوست کې به یې ستونزه نه وي:

ماتې شوې له شرمه دا خولې په ګلو
که جاري دي بیا د باغ ولې په ګلو
انفعال یې څه نافع و، ستا شوخۍ ته
جلوه ګر شو د تا مخ ولې په ګلو
لکه شمع په ګل سر پرې کړه بلبله
که ګلچین رایشي داځلې په ګلو
په چمن کې بې تا سوځم لکه شمع
چې مې تل لګي د آه شغلې په ګلو
په دا لور مګر خزان کړ عنان ګرم
که ژړا شوه د شبنم دلې په ګلو(۳)

په دې دولس څپیز  غزل کې هماغه  تونیک یا خجیز جوړښت پالل شوی، لکه په نورو دولس څپیزو کې، که چېرته خج په لومړۍ څپه (ماتې)  وارد شي، نو د غزل اهنګ، سر و لی خرابېږي.

همدارنګـه پـه همـدې غـزل کـې د دې لپـاره چـې لـه سره تـر پايـه د غـزل سېلابوتونيک جوړښت وساتل شي، شيدا د راشي فعل پـه رايشي- اړولـی، يعنـې لـه دوه څپو يې درې څپو تـه بـدل کـړی دی، ځکـه چـې د رايشي- فعـل يـوه څپـه لـه وړاندنۍ کلمې سره په رکن کې ګډېږي او شي يې په وروستني رکن کې.

## يوولس څپيز نظم:

د شيدا د يوولس څپيز نظم عروضي جوړښت داسې دی چې د بيت درېيمـه، اوومه، يوولسمه، پنځلسمه او نولسمه څپه خجنه ده يا په بل عبارت په لومړۍ مسره کې درېيمه، اومه او يولسمه او په دوهمه مسره کې هم درېيمه، اومه، يولسمه.

عروضي جوړښت يې داسې ليکلی شو:

۱ : - - /- // ۲: - - / - // ۳: - - /. // لومړی او دوهم رکن بشـپړ او درېـيم نيمګـړی دی.

دا چې په دغه يوولس څپيز وزن و اهنګ کې خج د مقفـی مسرـو پـر وروسـتۍ څپه راځي، نو له مطلع پرته نورې ټولې تاقې يا نا مقفی مسرې دولس څپيزې وي.

بېلګه يې:

په څه شان کړم وايه ښکل استان د تا
تر اسمانه دی بلند ايوان د تا
چې بيدار نه شوې هرګز د ناز له خوبه
مګر نه لري سحر کاشان د تا
صبوري مې د محشر تر صبحې بويه
ګوره څه کا لاس زما، ګرېوان د تا
چې غبار دې د ميدان لکه تور دود دی
مګر اوسه په ګرمۍ عنان د تا(۴)

✲ ✲ ✲

په څه شان کړم// وايه ښکل ا //ستان د تا
تر اسـمانه// دی بـلند ايـ//وان د تا
چې بيدار نه// شوې هرګز د // ناز له خوبه//

د لته درې واړه رکنونه بشپړ دي.

مگر نه لا//ري سـحر کا //شان د تا

په دې غزل کې د هرې مسرې درېیمه، اوومه، یوولسمه خجنې څپې دي، له مطلع پرته نورې تاقې مسرې دولس څپیزي دي او درېیم رکن یې هم بشپړ دی، خو د خجیز جوړښت له مخې همدا یو ترتیب پالي.

په دې ترتیب ویلی شو چې د شیدا ټول هغه نظمونه چې مطلعې او جفتې مسرې یې یوولس څپیزي دي، پاتې نورې تاقې مسرې یې دولس څپیزي دي، بحر یې هم د خجیز جوړښت له مخې یو دی.

همدغه یوولس څپیز نظم په بحر کې له دولس څپیز نظم سره برابر دی، که چېرته په یوولس څپیز نظم کې هرې مسرې ته یوه یوه څپه ورزیاته شي، نو د وزن، اهنگ، لې او سر له مخې به یو ډول وي.

اوس دا څرګنده شوه چې په یوولس څپیز نظم کې ځینې مسرې چې دولس څپیزې دي په لوستو کې هم ستونزه نه لري، لامل یې دادی چې په بحر کې دولس څپیز ته ورته دی، نو د ویلو پرمهال یوولس څپیزې او دولس څپیزې مسرې د وزن او اهنګ له مخې کومه ستونزه نه لري او پرته له کومې سکته ګۍ په روان ډول ویل کېږي.

په پورته لیکل شوي غزل کې که چېرته موږ د (چې) لفظ ور زیات کړو، زموږ یوولس څپیز نظم په دولس څپیز بدلېږي، په وزن و اهنگ کې یې هم کومه ستونزه نه رامنځته کېږي، ورزیاته شوې کلمه یا لفظ چې د مسرې په پای کې د ردیف په توګه راځي، هغه خجنه څپه نه ده، نو ځکه په بحر کې هم کوم تغیر نه پېښوي.

په څه شان کړم وایه ښکل استان د تا چې

تر اسمانه دی بلند ایوان د تا چې

د نظم په عروضي او شکلي جوړښت کې قافیه او ردیف هم ځانګړې برخه لري، په تېره هغه نظمونه چې موږ ته له عربي ادبه د تعریف په بڼه راغلي دي، هغه نظمونه د مسرو، قافیې او ردیف پر بنسټ موږ ډلبندي کوو.

قافیه او ردیف د شعر د موسیقۍ په برخه کې هم ځانګړی ځای لري، قافیه د آهنګ او موسیقۍ پر برابرولو سربېره په شعر کې لفظونو ته حرکت ورکوي او په یو

تصـویر یـې سره راټولـوي او همدارنگـه د شـعر مضـمون او معنـا تـه هـم نـوې رنگیني بخښي. (۵)

قافیه په بیت کې محوري یا مرکزي دنده ترسره کوي، لفظونه پر ځـان راټولـوي او یو تصویر رامنځته کوي، د شیدا په دېوان کې هم چې کومې قـافیې راغـلي دده د کلام مضمون او محتوا یې رنگینه کړې، نوې کړې او موسېقي یې ور برابره کړې ده.

د قافیوي جوړښت او مسرو د شمېر له مخې د عروضي نظمونو په څېـر د نظـم شکلونه یا بڼې یې سره بېلې کړي دي، غزل، قصیده، ترکیب بند، ترجېع بند، قطعه، رباعي او... سره بېل کړي دي.

د شیدا په دېوان کې د ردیف کارونه هم د شعر عروضي او معنوي جوړښـت پـه برخه کې ځانگړې ځای لري، ردیف هم د شعر د موسېقۍ پر برابرولو سربېـره د معنـا په بشپړولو کې ځانگړی ځای لري.

د شیدا ردیفونه هم دغه ارزښت لري، خو پـه ځینـو ځـایونو کـې یـې ردیفونـه د شعر عروضي جوړښت لپاره کارولي او ځینو ځایونو کې د معنا د بشـپړولو لپـاره، خـو په ځینو نظمونو کې ردیف ولوېږي، نو کومه نیمگړتیا نه رامنځته کوي:

په ناله کړم عندلیب د نو بهار گل
خوله چې پرېښوه د غونچې په خپل رخسار گل
هر گز نه شو په احسان د سپرلي منع
له صورته کړه پیدا د شمعې نار گل
تر پایه...

په دې غزل کې گل ردیف دی، که گل ولوېږي په غزل کـې د وزن، اهنـگ او لی له مخې کومه ستونزه نه رامنځته کېږي؛ ځکه دا غزل دولس څپیز دی، د گل پـه لوېدو یوولس څپیز کېږي، د یوولس څپیز او دولـس څپیـز بحـر دخـج پـر بنسـټ یـو دی، نو کومه وزني ستونزه نه رامنځته کېږي:

څو گومان لري ناوک و کهکشان هم
تر هغه د فلک موخه یم نشان هم
څه علاج وکړم د رنځ روغه عالمه
وژني ما لکه شغله آب حیوان هم (٦)

په دې بیتونو کې ( هم ) دی، که ولوېږي نو د نظم په وزن او اهنګ کې کوم تغییر نه راځي، ځکه دا غزل دولس څپیز دی، د یوې څپې په لوېدو سره یوولس څپیز کېږي، خو بحر یې یو دی، په هغو بیتونو کې چې ( هم ) د تشبه د بشپړولو لپاره راغلی، که ولوېږي، نو معنوي او د تشبه ستونزه پېښوي، خو په ځینو بیتونو کې بیا کومه معنوي ستونزه نه لري، یواځې او یواځې له نورو بیتونو سره د څپیز جوړښت له مخې کارول شوی دی.

خج هم د نظم د موسیقۍ، اهنګ او معنا په برابرولو کې ارزښتمن توکی دی، په ځینو ځایونو کې خج د وزن د پوره کولولپاره کلمه رالنډوي او په ځینو ځایونو کې یې اوږدوي، په ځینو کلمو کې په سر کې، د ځینو په منځ او د ځینو په پای کې راځي، چې په دې ډول د کلمې اهنګ، موسیقي او معنوي توپیر رامنځته کوي:

زه د عشق له غمه ټول سیاه پوش یم
په مانند د جرس هردم په خروش یم
په ګدا کې مې درست ځان یوه قطره کړ
چې شبنم غوندې له ګله هم اغوش یم
تر پایه

د دې دولس څپیز غزل په مطلع کې د (سیاه) لفظ درې څپیز راغلی، خو له اره دوه څپیز دی، دلته ځکه درې څپیز راغلی چې د وزن په خاطر دغه کلمه غځېدلې، درېیمه څپه یې په کسرې له ( پوش ) چې خجنه څپه ده نښلول شوې او همدې کسرې دغه کلمه غځولې ده.

شیدا بیا ګل رنګ راغلی دی و باغ ته
د بلبل سوزنده نارې بې څه نه دي

په دې دولس څپیز بیت کې د ( نارې ) لفظ د پام وړ دی، د نارې لفظ چې د چغې یا غږ کولو په معنا دی په دودیز وینګ کې خج دویمه څپه خجنه ده، خو شیدا د کلام د اهنګ برابرولو په خاطر لومړۍ څپه خجنه کړې ده، که خج په دویمه څپه ولوېږي، نو د مسرې اهنګ او لی له منځه ځي.

ماتې شوې له شرمه دا خولې په ګولو
که جارې دي بیا د باغ ولې په ګلو

انفعال يې څه نافع و ستا شوخۍ ته
جلوه گر شو د تا مخ ولې په گلو
تر پایه

په دې دولس څپيز غزل کې د لومړۍ مسرې لوست ته که پام ونه شي او په دوديز شکل ولوستل شي، نو د مسرې اهنگ له منځه ځي او سکته گي په کې رامنځته کېږي، فشار بايد په ( ما ) را نه شي بلکې فشار بايد په شوې راشي.

له تا لطف مې کباب که بې غضبه
لکه برق په خندا راشي ميگون لبه
تر پایه

په دې دولس څپيز بيت کې د ( لطف ) کلمه چې په دوديزه بڼه کې يې ويل په يوه څپه کېږي، خو شيدا د اهنگ برابرولو لپاره دغه کلمه غځولې او په دوه څپو کې يې ادا کوي، دا ځکه چې په همدې مسره کې ددغې کلمې کې لومړۍ څپه خجنه او دويمه يې نا خجنه ده.اوس که موږ دا په يوه څپه ولولو، نو د مسرې اهنگ او لی بې سوره کېږي.

## شپاړس څپيز نظم:

شيدا پر يوولس څپيز او دولس څپيز نظم سربېره په شپاړلس څپيز نظم کې هم شاعري کړې ده، د دغه شپاړس څپيز غزليز نظم جوړښت يې داسې دی چې جوړښت يې د يوولس څپيز او دولس څپيز نظم د بحر په څېر دی، سړی دلته دا گومان کوي چې پر دولس څپيز نظم يواځې او يواځې څلور څپې ور زياتې شوي دي او د همدې څپو په ورزياتولو سره يو رکن ورزيات شوی، جوړښت يې داسې دی چې خج پر درېيمه، اوومه، يوولسمه او پنځلسمه څپه راځي:

روښنې د خپل مراد کړه د افتاب په شان کامله
په نفس د صبح نه شوه ورته وگوره زايله
د گلو اواز مې نه و، نه دې تېغ په ما رنگين شه
زه ماهي غوندې بسمل شوم، ته بد نام نه شوې قاتله
په صدمه به يې د سيل يو قدم بې ځايه نه شي
د ثبات طور چې زده کړو همت ناک و له ساحله

ما سایه د باغ بدله، په سایه د مات دېوار کړه
خپل همت د تا روزي شه، درومه ابر دریا دله
ښه اټکل د شیدا وکړه، نه شت ځای د فریاد چاته

لکه شمع پټه خوله څه په ژړا له دې محفله (۷)

په دې غزل کې لومړنی بیت را اخلو او دواړه مسرې یې په سپلابوتونیک عروضي جوړښت وېشو، په لومړۍ مسره کې د (روشـني د) رکـن کـې درېیمه څپه، (خپل مراد کړه) دوهم رکن کې اوومه څپه چې ( آت ) اوومه خجنه څپه ( د افتاب په ) درېیم رکن کې ( تاب ) یوولسمه خجنه څپه ( شان کامله ) څلورم رکن کې ( مبـ ) پنځلسمه څپه خجنه ده، همدارنګه په دوهمه مسره کې په ترتیب سره نولسمه چې ( فس ) نولسمه څپه، ( نـه ) درویشـتمه څپه، ( وه ) اویشتمه څپه ( ی ) یـو دېرشمه خجنه څپه راځي.

په کلاسیکه شاعرۍ کې ځینې مهال د اهنګ او وزن د برابرښت لپاره شاعرانو د یو ترکیب د جوړولو لپاره له کسرو کار اخیستی دی، د شیدا په دېوان کې هم دغه ځرکونه ښکاري، په ځینو ځایونو کې یې د ترکیب د برابرښت لپاره لومړني لفظ ته له دوهم لفظ سره د موسېقیت او اهنګ د برابرښت او ترښت لپاره کسره ورکړې ده:

که د خپل خون جیګر باده اشام شې
سیاه مست به دې بزم لکه شام شې

په دې بیت کې خون جیګر ترکیب د موسېقیت او اهنګ برابرولو لپاره راغلی دی، خون ته کسره ورکول له جیګر سره اهنګین ترښت دی، همدارنګه په ځینو بیتونو کې د اهنګ لپاره پرته له کوم ترکیب جوړولو لفظ ته کسره ورکړې ده، لکه:

په نفس د صبح نه شوه ورته وګوره زایله

په دې مسره کې صبح لفظ ددې لپاره چې په مسره کې له ورپسې څپې سره اهنګین تړاو پیدا کړي، دوهمې څپې ته یې کسره ورکړې، په همدې کسرې سره د صبح لفظ چې یو څپیز دی دوه څپیزه شوې ده.

دشیدا غزل د نورو کلاسیکو غزلبولو په څېر زیاتره عشقي مسایل په یو تسلسل سره را نغاړي. دغزل هغه رنګ چې فارسي ادب ساتلی، شیدا هم د کلاسیک ادب په برخه کې د هندي سبک دغزل رنګ ساتلی یا پاللی دی. د شیدا غزل یو نوې

رنګیني او د تغزل خواږه لري. شاعرانه ترکیبونو یې د غـزل ژبـه ښایسـته کـړې ده. شیدا په غزل کې یو نوښـت دا کـړی چـې خیـال یـې لـه لفظونـو یـاکلمو نـه دی قربانی کړی. ژبې ته یې هم په خیال ښکلا او رواني ورکړې ده.

## د شیدا څلوریزې:

د شیدا څلوریزې هم د نورو کلاسیکو شاعرانو په څېر زیاتره لـس څپیـزې چـې په ملا ماتې شوي، لیکل شوي دي، یعنې همدغه لس څپیـزې پـه دوو برخـو وېشـل شـوي دي او د هغـه ایـات ( لا حولـولا قـوة الله بـالله ) پـر وزن برابـرې دي چـې د کلاسیکو شاعرانو رباعي یا څلوریزې پرې لیکل شوي دي.

پر دې سربېره شیدا یوولس څپیـزې او دولـس څپیـزې څلـوریزې هـم لـیکلي دي:

هغه شاعر چې د مضمون غلا کا
کله پټېږي، ځان به رسوا کا
اواز چې خېژي، د نی له فمه
نسبت یې کله، نی ته دانا کا(۸)

دا څلوریزه داسې لیکل شوې چې هره مسره یې لس څپې ده، خو همـدا لـس څپیزه مسره یې بیا په ویلو کې پـه مـلا ماتـه شـوې او دوه ټـوټې شـوې ده، یعنـې تـر پنځه څپو وروسته په ویلو کې دمه راځي او بیا ورپسې نورې پنځه څپې ویـل کېـږي. دلته یې یوه مسره د بېلګې په توګـه را اخلـو، نـورې مسرې پـه همـدې چوکـاټ کـې لوېږي.

هغه شاعر چې ـ د مضمون غلا کا = د دې څلـوریزې خجیـز جوړښـت داسـې دی چې:

۱: ـ ـ ـ / / ۲: ـ...// ۳: ـ ـ ـ / / ۲: ـ...//

هغه شاعر// چې...// - د مضمون غلا// کا...//

پـر دغـه وزن سربېـره شـیدا پـه یـوولس څپیـزو او دولـس څپیـز وزن کـې هـم څلوریزې لیکلي دي، خو د لس څپیز په انډول یې یوولس څپیزې او دولس څپیـزې څلوریزې ډېرې کمې دي، ددغه یوولس څپیز وزن لرونکې یوشمېر څلوریزې یې هـم هماغه د ایات پر وزن یا پر ملا ماتې وزن لرونکې څلـوریزې پـه څېـر دي، یـواځې پـه

یوه برخه کې یوه څپه زیاته شوې ده، نور د خجیز جوړښت له مخې همغه لس څپیزې ځلوریزې ته ورته دي.

۱: هغه ځلوریزې چې مسرې یې د څپیز خجیز جوړښت له مخې برابرې وي، د کلاسیکو شاعرانو په تېره د شیدا زیاتره ځلوریزې پر همدې وزن او اهنګ برابرې دي، دمه هم په هره مسره کې تر پنځمې څپې وروسته راځي او جوړښت یې داسې دی چې په لومړي اوږد رکن کې څلورمه څپه خجنه او ورپسې ناقص نیمګړی رکن تر دمې وروسته بیا بشپړ رکن، په بشپړ رکن کې بیا څلورمه څپه خجنه او پنځمه نا خجنه ده. په همدې ترتیب د همغه ایات د وزن له مخې دغه ځلوریزې لیکل شوي دي، ببلګه یې :

ورکه دنیا شه، بده یې طمع
واوره له مانه، که لرې سمع
بیم یې د سر شي، په شان دشمعې
چې سیم و زر کا په کور کې جمع(۹)

عروضي جوړښت یې:

۱: ـ ـ ـ / // ۲: ـ...//   ۳: ـ ـ ـ / // ۲: ـ...//

ورکه دنیا // شه...//، بده یې طـ/مع...//

ترپایه همدا وزن

د یوولس څپیزې ځلوریزې وزن دادی:

د شیدا په یوولس څپیزو ځلوریزو کې څو ډوله ځلوریزې تر سترګو کېږي، خو دغه ټولې ځلوریزې پر یوه اهنګ او بحر لیکل شوي دي:

۱: هغه ځلوریزې چې ټولې مسرې یې د څپو د شمېر له مخې سره برابرې دي.

۲: هغه ځلوریزې چې یوه مسره یې لس او بله یې یوولس څپې وي، دا په بېلابېلو شکلونو کې راځي، کله یې د دواړو مسرو څپې سره برابرې وي او یوه یې په یوه څپه کې ترې زیاته یا کمه وي او کله هم د درېو مسرو څپې سره برابرې او یوه مسره ترې په یوه څپه کې کمه یا زیاته وي. لکه:

بېلکه یې:

حلقه و دام يې، لکه گرداب راوړه
دانه مې گوره، لکه حباب راوړه
ماهي ازاد گرځي، مرغ ابي هم
نفع مې کومه په دا اسباب راوړه
۱: - - - / // ۲: - ... // ۳: - - - / // ۲: - - ... //

د دې څلوريزې جوړښت د مسرو د شمېر له مخې يوولس ځپيز دی، يعنې هره مسره يې له يوولسو ځپو جوړه شوې ده، دغه څلوريزه هم په ټوله کې د همغه ايات پر وزن تللی شو چې په لومړيو کې مو ذکر کړ، توپير يې دادی چې کله چې يوه مسره پر دوو برخو ووېشل شي، نو پنځه ځپې يوې خواته او شپږ بلې خواته کېږي، وېش يې هم پر يو لنډ سکوت او دمې دی چې ترمنځ يې يوه کامه لوېږي، خو خجيز جوړښت يې همغې لس ځپيزې ته ورته دی، يواځې په پای کې نا خجنه ځپه بله هم ورزياتېږي.

په پورته څلوريزه کې ( دام )، ( داب )، په دويمه مسره کې ( گو )، ( باب )، په دربيمه کې، ( زاد )، ( بي ) او څلورمه مسره کې ( کو ) او ( باب ) خجنې ځپې دي.

دغه ډول څلوريزې که څه هم په ټوله کې څلور مسرې لري، خو په هره مسره کې يې لنډ سکوت او دمه مسره په دوه برخو وېشي.- نو خجيز جوړښت يې هم داسې کېږي چې د بحر يو رکن يې بشپړ او بل يې نا بشپړ دی.

بله بېلگه:

وايه غافل ته، غوږ په خبرې کړه
قربان ترې لعل او ښې مرغلرې کړه
غونچه په باغ کې، د نرگس نه ويني
په زړه کې سترگې دي، پردې يې لرې کړه(۱۰)

په دې څلوريزه کې لومړۍ درې مسرې د ځپو د شمېر له مخې برابرې او وروستۍ يا څلورمه مسره ترې په يوه ځپه کې اوږده ده، خو بحر يې هماغه دی لکه د پورته څلوريزې چې و، په لومړۍ مسره کې تر پنځه ځپو وروسته دمه او ورپسې شپږ ځپې، په دوهمه مسره کې هم وېش همداسې دی، په دربيمه مسره کې هم همدا وېش دی، په څلورمه مسره کې بيا شپږ ځپې يوې خوا او شپږ ځپې بلې خوا

ته دي، خو د خج له مخې سره برابرې دي، يواځې په درېيو مسرو کې لومړنی رکن بشپړ، دويم نا بشپړ، درېيم بشپړ او څلورم بيا نا بشپړ رکنونه يو ځپيز دي، څلورمه مسره کې بيا دوه نا بشپړ رکنونه دوه ځپيز کېږي، ځکه چې دلته پر څلورو ځپو دوه دوه ځپې ورزياتې شوي دي.

بله بېلگه:

ته غوړ وماته، ښايسته ياره کړه
که شکايت کړې، خوله هوښياره کړه
گلونه، باد و سحر وهلي
سيالي يې ځکه، ستا له رخساره کړه

په دې څلوريزه کې مطلع يا لومړۍ درې مسرې په لس ځپيز جوړښت او څلورمه مسره يوولس ځپيز جوړښت لري.

د دې څلوريزې په لومړيو درېيو مسرو کې دمه يا سکوت د پنځو، پنځو ځپو ترمنځ کېږي، په څلورمه مسره کې هم دمه تر پنځو ځپو وروسته او د همدې مسرې دوهمه برخه شپږ ځپې ده، دغه د يوې ځپې زياتوالي د مسرې اهنگ، سر او لی ته کوم زيان نه دی رسولی، ځکه چې له نورو مسرو سره د خجيز جوړښت له مخې په بحر کې برابره ده.

نظر دې هرځوک، په دا خپل داب کاندي
چې باد دستي، لکه حباب کاندي
کاسه درسته، خالي شي پاته
بېزار له ځانه، سيل و درياب کاندي

په دې څلوريزه کې لومړۍ او څلورمه مسره يوولس ځپيزه او دوهمه او درېيمه لس ځپيزې دي، وېش يې هم داسې دی چې د لومړۍ او څلورمې مسرې دمه تر پنځو ځپو وروسته، د دوهمې دمه تر څلور ځپو وروسته او د درېيمې دمه تر پنځه ځپو وروسته راځي، په خجيز جوړښت کې هماغه پخواني اصول پالي، دغه پالنه يې هم د بشپړو او نا بشپړو رکنونو له مخې کېږي.

۳: هغه څلوريزې چې مسره ييز جوړښت يې د ځپو د شمېر له مخې دولس او لس وي، دا هم په خجيز جوړښت او بحر کې له نورو څلوريزو سره کوم توپير نه لري،

دلته هم هره مسره تر شپږمې او پنځمې څپې وروسته دمه لري او پـه بشـپړو او نا بشپړو رکنونو وېشل کېږي، په خجیز جوړښت کې له نورو څلوریزو سره کـوم تـوپیر نه لري، ځکه یې بحر هم تغییر نه مومي، په ویلو کې له هغو څلوریزو سره چې ټـولې مسرې یې د پورته ذکر شوي ایات او څپیز جوړښت له مخـې لـس او یـوولس وې، پـه اهنگ کې کوم توپیر نه لري، ځکه چې دلته هم خج په هره مسره کې پـه څلورمـه او نهمه څپه راځي.

بېلگه یې:

مناسبت لرم، زه له هرچا سره
پست یم له پست سره، بالا بالا سره
په مثال رنگ یم، د حنا گوره
زېب کم له دست سره، جوړ یم له پآ سره

په دې څلوریزه کې لـه درېیمـې مسرې پرتـه نـورې درې واړه مسرې پـه څپیـز جوړښت کې یو له بله سره ورته دي، هره مسره تر شپږمې مسرې وروسـته دمـه لـري، خجیز جوړښت یې هم دادی چې په هـره مسرـه کـې خـج پـر څلورمـه او نهمـه څپـه لوېږي، درېیمه مسره یې لـس څپـې لـري چـې دمـه یـې تـر پنځمـې څپـې وروسـته راځي، خج یې هم همدا ډول دی.

**عروضي جوړښت یې:**

۱: ـ ـ ـ / // ۲: ـ ـ . . // ۳: ـ ـ ـ / // ۲: ـ ـ . . //

یواځې په درېیمه مسره کې لومړۍ برخه کې یوه څپـه کمـه ده، خـو د نظـم پـر اهنگ کوم اغېز نه لري.

نو که خبره را ټوله کړو د کاظم خان شیدا ټوله یـا کـابو ټولـه شـاعري دا او دې ته ورته خوبۍ لري چې بویه کار پرې وشي، خو دا چـې زمـا د لیکنـې اوسـېله دومـره پراخه نه ده، نو پر همدغو ټکو بسنده شوم او هیله من یـم چـې نـور درانـه څېړونکـي دغه بحث همداسې پسې وغځوي او د نوموړي شاعر د شعرونو هغـه خـوبۍ راجـوتې کړي، چې تر اوسه ورته لا نه یو ځیر شوي.

**مأخذونه:**

۱- کاظم خان شیدا، دیوان، د محمد آصف صمیم تدوین، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۹ لمریز کال، ۱۷ مخ.
۲- د کاظم خان شیدا دیوان: ۵۸ مخ.
۳- همدغه اثر، ۱۳۷ مخ.
۴- پورته اثر، ۱۵٦ مخ.
۵- عبدالروف بېنوا، ادبي فنون، کابل پوهنتون، کابل، ۱۳٦۲ لمریز کال، ۲۵ مخ.
٦- د کاظم خان شیدا دیوان، ۱۲۴ مخ.
۷- همدغه اثر، ٦۷ مخ.
۸- پورته اثر، ۲۱۴ مخ.
۹- همدا اثر، ۱۳۷ مخ.
۱۰- پورته اثر، ۲۱۵ مخ.

پوهنیاره شازیه افغان

# د گل پاچا الفت په منظومو اثاروکې
# (د ښه لمسون) مقام

## لنډیز:

د دې مقالې له لیکلو څخه مې موخه دا ده چې د استاد الفت یو بل ناچاپ اثر په هر اړخیزه توگه وڅېړل شي، محتوا او منځپانگه یې تحلیل او هغه برخې یې هم را وسپړل شي، چې د لیکوالو په آثارو کې ورته اشارنه ده شوې.
په دې مقاله کې دښه لمسون ژبنیو اړخونو باندې خبرې شوي او پر هغو بر خو باندې هم تر یو حده کار شوی، چې د گل پاچاالفت مفکوره او نظریات په کې نغښتي دي د ښه لمسون د قلمي نسخو یادونه هم په کې لوستلای شي.

## سریزه:

دالفت د منظومو او منثورو آثارو پیغام او مضمون ډیر سلیس، روان او په زړه پورې دی. ده دخپلو آثارو مضامین او پیغامونه په داسې استدلال او منطق ترسیم کړي چې په لوستلو یې د خلکو په زړونو کې منگولې ښخوي او ځان ته یې راکاږي. الفت د خپلو هنري الفاظو په وسیله خپلې ادبي ټوټې داسې بیان کړي چې له هره حیثه زړه وړونکي او اغیزناکه دي. همدا وجه ده چې د الفت نوښتگر شخصیت د ده داستادۍ ښه تثبیتوي.د ده په منظومو او منثورو آثارو کې خیالونه، تصویرونه، پیغامونه او لوړ فکرونه نغښتي دي.

د الفت یوه ناچاپه شعري ټولگه (ښه لمسون) هم له پورته خصلتونو او انساني ارزښتونو مالامال ده، چې دلته یې ځینې اړخونه څېړل شوي او له نورو سره پرتله

شـوي. هیلـه ده دغـه نیمگـړې هڅـه لـه مینـه والـو سره د مرسـتې او لا ډېـرو معلوماتو لامل شي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت:

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې د الفت صـاحب ناچـاپ اثر په ټوله معنا گرانو او زړه ته راتېرو مینه والو او لوستونکو ته معرفي کـوي او پـه دې یې خبروي، چې استاد الفت په دغه اثر کې څه ډول مرغلرې پیېلې، ځکـه تـر کومـه ځایه چې معلومه ده استاد الفت د ریالیزم په برخه کې یا ریالیستیک شاعر، لیکـوال او قلموال دی او معمولاً ریالیزم د ټولنې پر حقـایقو او رښـتیاینې څرخـي، چـې ډېـر ځله د حکومت او چارواکو پر ضد خبرې هم په کـې وي، خـو هغـه څـه بیـانوي چـې ولس یې خوښوي او هغه رښتیا وي، نو پر همدې پار په دغـه کتـاب کـې هـم د ادبي ټوټو ترڅنگ خواږه او هنري نثرونه کنښل شـوي چـې تاسـې تـه یـې پـه اړه معلومـات وړاندې شوي.

## د څېړنې موخې:

د څېړنې موخه په دې کې ده چې استاد الفت دغه نثر یا دغه اثر لـه نـورو سره توپیر لري او که هماغه شی دی.

دقیقاً موږ د استاد الفت په دغه اثر کې ځینې نوې خبرې هم گورو چې تر دې وړاندې مو د نوموړي په نورو اثارو کې نه وې لیدلې، په دې معنا چې هـم نـثر دی او هم نظم او استاد معمولاً په خپلو اثارو کې یا نظم کاږي او یـا نـثر او دا چـې ژبـه یـې خوږه ده، نو دا یې محسـوس کـړې چـې بایـد دواړه برخـې یـا دواړه اجـزاوې پـه کـې راشي.

## د څېړنې پوښتنې:

په دې مقاله کې لاندې پوښتنې تر ډېره ځواب شوې دي:

- ✓ ښه لمسون اثر د چا دی؟
- ✓ ښه لمسون اثر څه ډول اثر دی؟
- ✓ دغه اثر له نورو سره څه توپیر لري او ولې؟
- ✓ ولې دغه اثر تر اوسه پورې چاپ شوی نه دی او یـا یـې ولـې پـه هغـه وخـت کې نه چاپاوه؟

دا او دي ته ورته ځينې نورې پوښتنې شـوي چـې پـه ډېـر مهـارت سره ځـواب شوې دي.

**د څېړنې روش:**

په دې څېړنه کې تر ډېره له تشريحي، تحليلي او انتقادي ميتود څخه استفاده شوې ده.

**د ښه لمسون قلمي نسخې پېژندنه:**

استاد گل پاچا الفت د پښتو پـه معـاصرو ادبيـاتو کـې د نـثر او نظـم سرلاری د پاک ضمير او وجدان خاوند او يو داسې ځلېدونکی مخکښ ليکوال دی چې هـم پـه نثر او هم په شعر کې د استادۍ مقام تـه رسـېدلی دی. هغـه د خپـل ټـول ژونـد پـه اوږدوکې هرڅه چې وليکـل پـه زغـرده يـې وليکـل پـه مينـه يـې وليکـل د هېوادپـال احساس له مخې يې وليکل. د الفت په وړانگـويې وليکـل، انتقـادي يـې وليکـل او د هېڅ ډول تکلف او تصنع گرد او غبارېې د ليکوالۍ پلـو گـردجن نـه کـړ. لـه همـدې امله خو زموږ ليکوالان هغه د خپل عصر (خوشال) بولي.

داستاد همدغه سترانساني کرامت، مينه، الفت، دنفس پاکي او تزکيـه، پښـتو، پښتونولي او انسانيت ته د خدمت د يوه اوچت معيار پايله وه، چې هرڅـوک ورتـه پـه پوره درناوي او احترم ولاړ دي.

ښه لمسون شعري ټولگه د الفت د نورو آثارو په څېـر لـه غـوره مفـاهيمو، لـوړو افکارو او د ټولنې له غوره انځور برخمنه ده، چې روښانه کېدل به يې له گټـې خـالي نه وي. دغه ټولگه لاهم ناچاپه ده او په يـو مخيـزه توگـه نـه ده معـرفي شـوې. د دې ټولگې له معـرفي کولـو سره څنـگ کـې د شـعرونو پـه شـکلي قـالبونو، د شـعرونو پـر منځپانگې، مفکورې او عمومي مفاهيمو خبرې شوې

**خصوصيات:** دا نسخه پـه سـاده ډول شـاعر پـه خپـل خـط نسـخ تـه متمايـل نستعليق او خودرنگ قلـم پـه ابي رنـگ لـيکلي ده. دا نسـخه ۱۳۲۰ هــ ش کـال د رسمي مکتـوب پـه اسـاس پښـتو ټـولنې د مطبوعـاتو رياسـت دنشـراتو مـديريت تـه استول شوې ده.

پر اول مخ يې دمطبوعاتو دمستقل رياست دنشراتو دمديريت اولې شعبې مهر لگيدلی او دهمدې اولې شـعبې د واردې نمبرونـو لـه تـاريخ سره پـرې ليکـل شـوي

دي.دعامه کتابخانې مهرونه هم په لګيدلي دي ښکاري، چې دانسخه بيا عامه کتابخانې ته ورکړل شوې ده بيا داطلاعاتو او کلتور وزارت خطي کتابخانې ته انتقال شوي د نسخه سر اوپای له خوا بشپړه ده اوس په ارشيف کې خوندي ده.

دا د استاد دوهمه راټوله شوې مجموعه ده، چې د ده (۳۸) ټوټې ملي، وطني، پښتني او اجتماعي، اشعار په کې خوندي دي او خطي نسخه يې د ده په خپل خط ( ۷۰) مخه په ملي ارشيف کې خوندي ده دا مجموعه پر ۱۳۲۰ ل کال ترتيب شوې ده او په پيل کې يې استاد دکتاب پر پوش باندې د کتاب نوم او خپل نوم او دليکلو کال ليکلی. يوه مقدمه ګوټې هم پرې کښلې.

د استاد په ښه لمسون قلمي نسخه کې د جوليز (شکلي) جوړښت له مخې د ختيځې شاعرۍ ډېر قالبونه او ډولونه شته او دولسي- شاعرۍ قالبونه يې هم په شعرونو کې ليدل کېږي.

دغه قالبونه (غزل، مستزاد، مربع، مثنوي. ترکيب بند،مثلث) په شکل راغلي دي. (۴:۱)

## ګل پاچا الفت په ښه لمسون کې کومه مفکوره وړاندې کوي؟:

د استاد ګل پاچا الفت په شعرونو کې د شعر اساسي توکي (تخيل،احساسات، جذبات مفکوره او اهنګ ) شته دي، خو د فکر برخه يې پياوړې ده.

استاد الفت په ښه لمسونه قلمي نسخه کې خپله مفکوره او شاعرانه ذوق د خپل هيواد، درد، غم، ناخوالې او هيواد والو د يووالي وروروليۍ، پوهې د زدکړې او پښتونوالي شعرونه په ساده ژبه بيان کړي، ځنګه چې يې نوم ښه لمسون دی شعرونه يې هم د لمسون (تحريک) خوا ته بيايي په شعرونو کې هغه جذبه او احساسات پراته دي چې پښتنو ته د پښتونولۍ وړمه د شعر په شپيلۍ کې ور رسوي او هغو ته د ازادۍ فکر ورکوي، هغه فکر چې که د انسان د بدن ټول غړي په ځنځير وتړل شي، خو فکر يې بايد ازاد وي او په همدې فکر خپل حقيقت او واقعيت ورپېژني او د پوهې په لار کې خپل هېواد ته ګټه رسوي، خپل ګران هيواد يې ځان سره تشبيه کړی، چې د هيواد هره برخه زموږ د وجود غړي دي د وطن پر محبت باندې قسم خوړلی، چې د ځان له غمه زيات د وطن غم بايد وخوړل شي. (۲۵:۲)

**دالفـت لـه نـورو منظومـو اثـارو سره د ښـه لمسـون شـکلي او مفکـوروي پرتلنه:**

## عالي افکار:

د گل پاچا الفت دا شعري ټولگه شاوخوا په ۸۸ مخونو کې د لومړي ځـل لپـاره په ۱۳۲۷ لمريز لېږديز کال کې په اتحاد مشرقي مطبعـه کـې چـاپ شـوې ده، چـې ټول ټال ۷۶ شعرونه رانغاړي.

د دې ۳۸ شعرونو له ډلې نه لومړی شعر د «حقيقت» تر سرليک لاندې را اخلو چې د عالی افکار ټولگې له همدې شعر سره ورته دی؛ خو محتوا او ټـول بيتونـه يـې توپير لري چې دلته ورباندې لنډ بحث کوم.

**حقيقت**

کبان وايـــــي ژوند پيدا دی له دريابه
سمنـــــــدر وايي چې دی د اور له تابه
لټــــوي يې د هوا مرغان هوا کـــــــې
حقيقت ورک دی د دهر له کتابــــــــه (۳۸:۴)

په ښه لمسون کې:

**حقيقت**

حقيقت په دنيـــا هومره شــــــــو نايابه
چې سيند نشم پيژندلـــــــــــی له ســـرابه
چې هر څو يې لټوم نه ليدل کيـــــــــږي
دا مضمون ورک دی د دهر لـــــه کتابه
بت پرست د بت په مخ کې ځان کړ خاوری
زردشتی د اور له مينې دی بيتـــــــابه
يو مې بولي خانقـــــــاه بل خرابات ته
خبر نه يم له صـــــــواب او له عـــــذابـــه
(۶۱:۱)

که پورتنی شعر د ښه لمسون د خطي نسخې له شعر سره پرتله کړو، يـواځينې مشترک څيز به په کې سرليک وي. لکه څنگه يې چې وينئ، پورتنی شـعر تـر ډېـر د

موسمونو، رنگونو او گلونو په ستاینه را څرخي او د غوټۍ د غوړېدا فلسفه یې په کې بیان کړې ده، خو د ښه لمسون خطي نسخې تر همدې سرلیک لاندې شعر کې یې تر ډېره دوه مخیتوب، ریا او بې باوري سپړلې ده. د نرۍ او د نرۍ د اوسېدونکو دوه رنگي یې په ډاگه کړې ده او د تقوا له جامې یې یو شرابي شیخ را ایستلی دی.

## آزادۍ پیغام:

د ښه لمسون د قلمي نسخې د ۳۸ شعرونو له ډلې نه څلور نور شعرونه د گل پاچا الفت (د آزادۍ پیغام) شعري ټولگه کې په تکراري بڼه راغلي دي. (د آزادۍ پیغام) شعري ټولگه په نا معلوم کال کې د کابل په عمومي مطبعه کې په ټول ټال ۴۳ مخونو کې چاپ شوې ده، چې ۱۴ شعرونه په کې راغلي دي. په دې شعري ټولگه کې ټول هغه شعرونه راټول دي، چې پښتون ته په کې خطاب شوی دی او هغه یې آزادۍ، خپلواکۍ او وطن پالنې ته رابللي دي.

د همدې ټولگې یو شعر را اخلو او د ښه لمسون قلمي نسخې تر همدې سرلیک لاندې شعر سره یې توپیر بیانوو.

### د پښتونولۍ نغمه

لباســـــــــي به درته وایمه جانـــــانه
که دې پرېښوده د پلار نیکه خویونه
پښتـــــــنې به درته وایي بې ایـــــــمانه
که پښتو شوه درنه پاتې اې پښـــتونه (۳۲:۳)

**په ښه لمسون:**

### د پښتونولۍ نغمه

تېره توره مې ده خوښه په غـــــــــــړۍ
نه مریي غوندې په غوړکـــــې سره کړۍ
شپه او ورځ پیټۍ په شایمه تل خوښ
نـــــه دبـــل وره تـــه ولا ړ یـــــوه گـــړۍ
چې یې نه گټې په خپله خـــورې دبل
نــــور څـــه نـه کـــړې خرڅوې ځان په مړۍ

په کاليو کې د بل ښه نه ښـــــکاريږي
درتـــــه ښـــه دی خـپـــل څـــادر خپله شړۍ
(۵:۱)

د دې پورتني شعر او په ښه لمسون قلمي نسخه کې تر همدې سرليک لاندې شعر يواځې سرليکونه سره يوشان نه دي، بلکې تر ډېره يې محتوا او منځپانگه هم سره يوه ده. خو يوې مسئلې ته مو دې پام وي، چې تر همدې سرليک لاندې د دواړو شعرونو بيتونه سره يوشان نه دي، ولې نوره محتوا او منځپانگه يې د يوه پښتون په ځانگړنو، وړتياوو او مېړانې راڅرخي.

**غوره اشعار:**

د گل پاچا الفت دا شعري ټولگه د لومړي ځل لپاره د ۱۳۳۴ لمريز- لېږديز کال په شاوخوا ۲۰۸ مخونو کې چاپ شوې ده، چې ټول ټال ۱۵٦ شعرونه په کې راغلي دي. په دې شعري ټولگه کې ۱۰ شعرونه دي، چې په لږ يا ډېر توپير سره په ښه لمسون خطي نسخه کې هم راغلي دي. د بيلگې په توگه:

**سپوږمۍ**

د آسمـــــان په زړه کې ځای دی تا نيولی
توره شپه دې په سپين مخ باندې رڼا ده
مخ د ځمکې دې تـــــــمام دی لټـــــولی
پـــــــه هر کور کې دې پرېـــوتې تجلا ده

**په ښه لمسون:**

**سپوږمۍ !!**

د اسمان په زړه کـې ځای دی تانـــــــيولی
توره شپه دې په سـپين مخ باندې رڼا ده
ددې مځــــــکې مــــخ دې ټول دی لټو لی
د خـــــــو بانو درســـــــره زياته سو دا ده
په رڼا کې دې تمــــام جهـــــــان ليـــــدلی
راتـــــه وايه چې په کوم کور کې ليلی ده
کـــــــوم چمن لري تازه تــــــازه گلونه ؟

راتــــــه وښیه ښایــــسته ښــکلي مخونه

د سپوږمۍ تر سرلیک لاندې شعر په ښه لمسون خطي نسخه کې هم تر همدې سرلیک لاندې راغلی دی، خو مطلع یې یواځې سره ورته او نور بیتونه یې ترپایه سره توپیر لري.( ۵: ٤٦)

**د الفت خبرې له کتاب څخه:**

د الفت خبرې د استاد الفت شعري کتاب دی، چې لومړی چاپ ۱۳٦۷هجري لمریزکال د زمري په میاشت کې او دویم چاپ یې ۱۳۹۴ هجري لمریز کال د سید بدیع الزمان هاشمي په زیار د میهن خپرندویې ټولنه له خوا چاپ شوی. په ټول کتاب کې ۹۳ شعره موجود دي، چې د الفت خبرې له کتاب څخه به یوې بېلگې ته ځیر شو:

**آزادي**

ازادي ده ژونــــــدانه لره اکســـــــیر
لـــوی دولـــــت دی ورسره خیر کثیر
په عادي نظر کـــــتل ورته گـــــناه ده
ناپوهــــــــي ده د وجدان او دضمـــــیر (۷: ٦۲)

**ښه لمسون:**

**آزادي**

په سر لوڅ په تن لغړ او بربــــــــــنډښه یم
نه پیله غوندې وریښـــــــمنو کې اسیر
په کـــیـړدۍ کـــې د وزغـــنـــو که ازادیـم
یوویـــښته به یـې ورنـه ـکـړم پــه کشمیـر
په خمتاکې اصیل ښکــاري ښه هر چــاتــه
نه مریې که یې اغــوســتــی وي حــریــر
په خپل واک خاورکې پروت همیشه ښه یم
نــه د بــل پــه واک پــه ډیـرښــکلـي تعمیر
(۲۱:۱)

که پورتنی شعر د ښه لمسون خطي نسخې له همدې شعر سره پرتله کړو، وينو چې د شعر سرليک يو شان خو شعر په ټوله کې سره توپير لري.

**د زړه وينا:**

د زړه وينا د استاد الفت بله شعري ټولگه ده، چې ۹۲شعرونه په کې راغلي دي. لومړی چاپ په ۱۳٦۷هـ ش او دويم چاپ يې په ۱۳۹۴ لمريز کال د ميهن خپرندويې ټولنې له خوا د سيد بديع الزمان هاشمي په هڅو باندې چاپ شوی دی.

په دې کتاب کې هم شعرونه د شکل او محتوا له خوا دومره توپير نه لري، ځکه چې د زړه وينا کې هم استاد خپله مفکوره د هيواد د درد او غم په هکله بيان کړې کله چې ما دا شعري ټولکه د ښه لمسون قلمي نخسې سره پرتله کړې، نو کله په محتوا کې او کله په شکل کې توپيرونه راغلي. د آزادۍ په نامه شعر په دواړو کتابونو کې راغلی خو محتوا يې توپير لري دلته به هڅه وکړم، چې دا توپيرونه په بېلگې کې په ډاگه کړم او لنډه شننه وربانديې وړاندې کړم.

**آزادي**

په شړۍ کې ښه يم زه ازاد فقير
نه وريښمو کې چنجي غوندې اسير
په خمتا کې هر ازاد ښه دی سل ځله
له غلامه چې لباس يې وي حرير
د وژغنو په کېږدۍ کې ازاد يم
يو ويښته به يې ورنه کړم په کشمير
په ويجاړ کې مرغه ځاله کې خوښ وي
په قفس کې د سرو زرو وي زهير
چې مرغان په هوا وينم چرگ په ځمکه
راته ياد د اسارت شي بدتاثير
هميشه اسير مرغه دی خوړل شوی
او ښکې يې بالښت د خان او مير
له ليندۍ د اسارته چې څوک خلاص شي

بې وزرو په هوا ځي لکه تیر(٦: ٣۴)

په ښه لمسون خطي نسخه کې هم همدا شعر راغلی دی، چې ډېر بیتونه یې سره یوشان دي؛ خو دا لاندې بیتونه بیا په ښه لمسون خطي نسخه کې په دې ډول راغلي دي، چې تاسې یې د پورتني شعر له اړوندو بیتونو سره پرتله کولای شئ:

په ښه لمسون خطي نسخه کې د پورتني شعر مطلع په متفاوته بڼه راغلې ده:

په سر لوڅ په تن لغړ او بربنډ ښه یم
نه پیله غوندې ورېښمو کې اسیر

++

په کېږدۍ کې د وژغنو که ازاد یم
یو وېښته به یې ورنه کړم په کشمیر

++

چې مرغه په هوا وینم چرگ په ځمکه
ماته یاد د اسارت شي بد تاثیر

++

همېشه اسیر مرغه دی خوړل شوی
او ښځکې یې بالښت شي د سریر

++

په خمتا کې اصیل ښکاري ښه هرچا ته
نه مریي که یې اغوستی دی حریر

اوس له ښه لمسون خطي نسخې څخه د شعر هغه نیم بیتي را اخلو، چې د زړه وینا شعري ټولګه کې نشته:

په خپل واک خاورو کې پروت همېشه ښه یم
نه د بل په واک په ډېر ښکلي تعمیر

++

هر طرف ته د ازاد فکر پرواز کا
د اسیر فکر او عقل وي ضریر

**دالفت مرغلرې:**

دالفت مرغلرې په نوم کتاب شعري کلیات چې شهرت ننګیال په ۱۳۸۷ هـ ش د دانش خپرندویې ټولنې له خوا په درېیم ځل چاپ شوی دی.

دکلیاتو لومړی برخه (غوره اشعار) ورپسې (د زړه وینا) او وروستی برخه یې (الفت خبرې) دي. ځینې شعرونه چې په غوره اشعار د زړه وینا دواړو کې راغلي هغه مو له غوره اشعارو نه اخیستي دي.

په دې اړه د استاد الفت نورې شعري ټولګې لکه د آزادۍ پیغام، عالي افکار او داسې نور هم کتل شوي خو ځرنګه چې شعرونه یې په یادو شوو ټولګو کې راغلي، ځکه خو مو دهغو یادونه ضروري و نه ګڼله.

په نوموړي کتاب کې ۲۸۴ شعرونه راغلي دي کله چې شعرونه ما د ښه لمسون سره وکتل نور د ۳۸ شعرونو څخه ۱۴ شعرونه په غوره اشعارو کې نشته، چې ۱۳ یې په نورو شعري ټولګو کې هم نشته خو یو شعر د (وطن وایي) په نامه نورو کتابونو کې شته، خو په غوره اشعارو کتاب کې نشته. ( ۸: ج )

**د ښه لمسون ناچاپ نظمونه:**

د ښه لمسون د کتنې او څېړنې په موخه مې ومونده، چې په ښه لمسون قلمي نسخه کې ۱۳ داسې شعرونه موجود وو، چې د ګل پاچا الفت په چاپو شوو شعري ټولګو کې نه تر سترګو کېدل. د یادو شعرونو فکري او شکلي جوړښت ته که وګورو، د دې اړتیا پېښېږي، چې دا شعرونه دې د ګل پاچا الفت په شعري ټولګو کې ځای پر ځای او له سره چاپ شي.

**د ښه لمسون خطي نسخې د نظمونو ژبنیو اړخونو ته کتنه**

که د ښه لمسون خطي نسخې ژبني اړخ ته پام وکړو، لیدل کېږي چې ځینې کلمې له اوسني مروج لیکدود سره سمون نه لري او یا هم څه ناڅه ګرامري او لیکنیزې تېروتنې په کې تر سترګو کېږي. د ګرامري تېروتنو له ډلې څخه د پښتو یاګانو مراعات هم ستونزې لري او ځینې کلمې په لهجوي بڼه لیکل شوې دي، چې ځای ځای یې د شعر روانی، سلاست او وزن ته زیان اړولی دی.

په دې خطي نسخه کې د شعر د بیت د لیکنې پروخت د خالي ځای د ډکولو لپاره د انګرېزي ژبې له وړوکي (r) څخه ګټه اخیستل شوې ده او د شعر له نورو

بیتونو سره سم یې ځای ورباندې ډک کړی دی.

په ښه لمسون خطي نسخه کې دا لاندې کلمې په ناسمه بڼه لیکل شوې دي، چې د سمې بڼې را اخیستل یې اړین بولم:

غگ ( سمه بڼه یې غږ)، کښې (چې له اوسني لیکدود سره سم کې لیکل کېږي)، چه ( له اوسني لیکدود سره سم چې لیکل کېږي)، څکي ( سمه بڼه یې څښي)پخه (پښه)، صواب (ثواب)، بالخت (بالښت)، غورزولی(غورځولی)کام(قام-قوم) او داسې ځینې نورې کلمې هم شته، چې په سمه بڼه نه دي لیکل شوي. په ښه لمسون خطي نسخه کې ځینې کلمې یو ځل لیکل شوي؛ خو بېرته خط ورباندې کاږل شوی او پاکې شوې دي.

## پایله (نتیجه):

داستاد دهمدغه ستر انساني کرامت، مینې، الفت دنفس دپاکۍ، پښتو، پښتونولۍ او انسانیت ته دخدمت دیوه اوچت معیار پایله وه چې زما په زړه کې د ښه لمسون نا چاپ اثر د پېژندلو او څېړلو شکل راوټوگیده.

پر استاد الفت پر شوي کار سربېره باید نورې څېړنې هم د ده هنر په ډېرو برخو وشي، ځکه چې استاد مستحق لیکوال او شاعر دی او پښتو ژبې او ادب ته یې ډېر ادبي خدمتونه په میراث پرېښي دي، نو له همدې امله مو د استاد په قلمي نسخه مقاله ولیکله، چې په عام ډول ټول ولس او په خاص ډول د ادب کارو باریان او مینه وال ورنه استفاده وکړي او د استاد الفت د شعرونو د پېژندنې په باب مې خپلې ټولنې ته ځینې نوي مواد وړاندې کړي وي.

## مأخذونه:


۱ـ الفت، گل پاچا. ( ۱۳۲۰ل.ل) ښه لمسون.( قلمي نسخه )کابل، ملي ارشیف.

۲ــ حبیبي،عبدالحی. (۱۳۶۱ل.ل) **الفت یاد**. کابل، د قومونو او قبایلو وزارت.

۳ـ الفت، گل پاچا.( نامعلوم ). ازادۍ پیغام. کابل، عمومي مطبعه.

۴ ـ الفت، گل پاچا.( ۱۳۲۷ ل.ل). عالي افکار. پېښور، میهن خپرندویه ټو لنه.

۵ ـ الفت، گل پاچا.( ۱۳۳۴ل.ل) غوره اشعار. پېښور، میهن خپرندویه ټولنه.

٦ـ الفت، گل پاچا. ( ۱۳٦۷ل.ل ) د زړه وینا. پېښور، میهن خپرندویه ټولنه.

۷ـ الفت، گل پاچا. ( ۱۳٦۷ل.ل ) د الف خبرې. پېښور، میهن خپرندویه ټولنه.

۸ ـ الفت، گل پاچا.( ۱۳۸۷ل.ل) شعري کلیات ( څلورم چاپ). د شهرت ننګیال په زیار. پېښور، دانش خپرندویه ټولنه.

**پوهنوال جانس زړن**

# د تخلیقي ادبیاتو په رڼا کې دانسان ارزښت

**لنډیز:**

په دې علمي څېړنیزه مقاله کې د تخلیقي ادبیاتو په رڼا کې دانسان په ارزښت څېړنه شوې ده. الله (ج) انسان دڅه لپاره پېدا کړی؟، الله( ج) انسان اشرف المخلوقات پېدا کړی دی، دانسان لغوي او اصطلاحي پېژندنه، دانسان او انسانیت په معنا، دانساني او شیطاني خصلتونوپه توپیر، په دنیا کې دانسان په رسالت، موخې او دندې، په انساني عاطفې، احساس، درک، پوهاوي، درد، انسان په لفظ کې لږ اما دپوره معنا لرونکی دی، کله چې دې دنیا یا نړۍ ته انسان راغی نوورسره سم انساني او شیطاني خصلتون هم راغلل، دانساني خصلتونو په عملي کولو سره انسان اشرف المخلوقات یادېږي، دشیطاني خصلتونو په خپلولو سره له حېوان نه هم ټیټیږی:، کرکه او وحشت، خشونت تاو تاوتریخوالی، تشدد، وحشت عاطفه او زړه سوی، لوریښنه او پیرزوېښه، ژړا او خندا، غم او درد، احساس او درک، پوهه او نا پوهي، بشري او انساني احساس، آزادي او انساني کرامت، انساني ټولنیزخصلتونه او انساپالنه، مساوات او برابري، امنیت، جگړه او سوله، انساني ژوند، تخیل، خوب، وېښه، عقل بې عقلي، حقیقت او دروغ، وجدان او بې وجداني، شهوت، عزت او ذلت، درنښت او سپکاوی، ښه اوبد.مرگ او درد، خوشالي او خفگان، پرمختگ او وروسته پاتې والی، علم او پوهه، اسلامپوهنه، دینپوهنه، اقتصادپوهنه او سیاست پوهنه، ټولنپوهنه، انسانپوهنه، اروا پوهنه، ادبپوهنه، تاریخپوهنه او نورې دېرې پوهنې او علوم رامنځته شول چې د ټولو موضوغ انسان، انساني پرمختک، انساني پوهه، انساني ژوند، انساني کره وړه، انسان ته دخدمت

پر بنسټ رامنځته شوي دي؛ خو دلته موضوع انسان، انساني ژوند او انساني ارزښت دي او دادبياتو ټول موضوعات او ټولې سوژې دانسان، انساني ژوند، انساني ټولنې او انساني کړو وړو پورې تړلي دي، دا انسان که دځمکې دکرې په ختيځ يا لويديځ، شمال او ياجنوب کې ژوند کوي موضوع يې انسان او انساني ژوند دی. دادب او ټولنيزو پوهنو په رڼا کې دانسان د ارزښت په اړه نړيوالو ختيځو او لويديځو ليکوالو او شاعرانو په خپلو ادبي، هنري او فلسفي ليکنو کې خپل انساني نظريات او افکار وړاندې کړي دي.چې دا نظريات او افکار مونږ دخپلې پراخې مطالعې په رڼا کې اوډلي، کوشير کړي او په دې علمي او څېړنيزه مقاله کې مو له مطالعې لاندې نېولي دي.

**سريزه:**

انسان دنړۍ او کايناتو دپېدايښت محور دی، ځکه دنړۍ دپېدايښت موخه او غرض دبشر مادي او معنوي بشپړتيا ده او دانسان پېدايښت ددې لپاره شوی دی چې، هغه لوی رسالت او دنده چې ده ته سپارل شوې سرته ورسوي. قرآن کريم يو سپيځلی آلهي کتاب دی او په ټولو اسماني کتابونو کې چې ترې مخکې دي بشپړ دی.انسان ته دانسان په اړه بحث او شننه کوي او دقرآن عظيم الشان له نظره انسان ددرنښت، پت او کرامت څښتن دی، دانسان حقيقت يواځې په مادي ډانچه کې نه، بلکې دده حقيقت دده په روح او معنوي شخصيت کې دی چې دده په مادي ډانچه يا کالبوت کې پو شوی دی او دی يې دکايناتو په ټولو موجوداتو کې دلوړ مقام او ځانګړني نه برخمن کړی او جلا کړی دی، اسلام دالله تعالی پېغام دی او انسان دالله تعالی مخلوق دی.انسان دخپل ځان لپاره نه بلکې دالله تعالی دعبادت او لوي رسالت دادا کولو لپاره پېداشوی دی.دومره لوی رسالت چې په دې فاني نړۍ کې نه ځايږي. الله (ج) له انسان نه پوه، ځواکمن، خبره اوريدونکی، ليدونکی، باتدبيره، هوښيار او حاکم نه دی پيدا کړی، لکه څنګه چې دانسان په وجود کې دا توان او وړتيا شته چې په نبوي انساني اخلاقو ځان سمبال کړي او دنيکو صفتونو په وجه لکه علم، حکمت، مدارا، حلم، تواضع، خير غوښتنه، حق، خوښول او داسې نور په اسانۍ سره په انسان کې پېدا کيږي چې دا دپوره انسان بېلګه ده، پېغمبران (عليهم السلام) له ادم نه تر خاتم النبين پورې په دې

لټه کې دي چې انسان ته انسانیت وبخښل شي او کوښښ یې کړی او دې تـه یې زور ورکړی چې دانسان په بڼه بشر ډېر لوړ مقام ته ورسوي (۲: ٦٨٧، ٦٩٠)

**د څېړنې اهمیت او مبرمیت:**

تـر اوسـه پـورې انسان تـه پـه ټـولنیز ارزښـت کتـل شـوي، خـو پـه دې څېړنـه کـې بـه دا زبـات شي چـې انسـان د ټـولنیز ارزښـت ترڅنـګ ادبي ارزښـتونه هـم لـري او بیـا پـه تخلیقـي ادبیـاتو کـې چـې کـوم رول لـري او یـا یـې پـه ټولـه کـې د ادبیـاتو پـه نـړۍ کـې چـې کـومې پنځـونې کـړي هغـه لـه چا پټـې نـه دي، پـه دې معنـا همدغـه انسان شـهکارونه پنځـولي او لا یـې پنځـوي چـې لـه املـه یـې د انســان د ښــکلا احســاس را پــارېږي او انســان تــه د الله د خلقــت او ټــولنې ارزښت نور هم جوتوي، نو دا څېړنه دا او دې ته ورته مسایل بیانولای شي.

**دڅېړنې موخې:**

د دې علمــي څېړنیــزې مقــالې دلیکلــو هــدف، ځوانــانو تــه دانســـان، انســـاني ژونــد، انســـاني کړنــو، انســـاني ټــولنې، انســـاني درک، انســـاني درد، انســاني احســاس او پوهــاوي افکــار او نظریــات وړانــدې کــول دي، ددې علمــي، تحقیقـي مقـالې بلـه موخـه داده چـې دهـنري ادبیـاتو هغـه کـه نظـم دی او کـه نـثر سـوژې پـه عـام ډول انسـاني دي او د دې لپـاره لیکـل شـوي دي چـې پـه ټولنـه کـې انسـاني افکـار تـرویج شي، تـر څنـګ یـې یـو هـدف دا هـم دی چـې دمقـالې لیکـوال دخپلـې علمـي ترفیـع دیـو شرط د پـوره کولـو لپـاره دا علمـي څېړنه کړې ده.

**دڅېړنې پوښتنې:**

۱ــ دانسـان او انسـاني ژونـد دویـي پـه اوریـدو سره مـو پـه ذهـن کـې څـه درګرځي؟

۲ــ په ورځنـي ژوند کې مو کله دانسان او انساني ژوند کلمه اوریدلې ؟

۳ــ دویونکي مطلب له انسان او انساني ژوند څخه څه دی؟

۴ــ دادب او ادبیاتو دویې په اوریدو سره مو په ذهن کې څه درګرځي؟

۵ــ ایا په ورځنـي ژوند کې مو کله دادب او ادبیاتو کلمه اوریدلې ؟

٦ــ دویونکي مطلب له ادب او ادبیاتو څخه څه دي؟

**دڅېړنې روش یا میتود:**

د دې علمـي څېړنيـزې مقـالې کـړنلاره يـا ميتـود مقايسـويي دی.لـومړی مـې دانسان او انساني ژوند او په ادبي نظم او نثر دواړو کـې انسـاني سـوژې اود انسـاني افکارو په اړه موثر او ګټور ماخذونه پېدا کړل، هغه مې مطالعه کړل بيا مې په خپلـه څېړنه او ليکنه پيل وکړ، داڅېړنه کتابتوني بڼـه لـري، ټولـه څېړنـه پـه کتـابتون کـې شوې ده، مقاله په ټولو علمي او تخنيکی اصولو برابره ليکل شوې ده، هـر ماخـذ پـه متن کې په ډېر دقت سره استعمال شوی دی او هم په متن کـې ژبنـي اړخ تـه پـوره دقت شوی دی.

د قرآن عظيم الشان دحکم په استناد (( ***ولقد کرمنا بنـي آدم))*** ( **سـوره بنـي اسراييـل، ايـت ۷۰) بـل ځـای فرمـايي:** ((إن أکـرمکم عنـدالله أتقـاکم )) (**سـوره حجرات آيت ۱۳**). دا ښکاره ده چـې دټولـو مخلوقـاتو لـه منځـه انسـان برتـره دی، عجيـب، غريـب او متفاوتـه دی. د دهخـدا او معـين دلغتنـامو لـه مخـې (( اشرف)) دبهتر، ستر، عالي او تر نورو دښه او لوړ معنا ورکوي ! اشرف تفضـيلي يـا مقايسـوي صفت دی په انګليسي ژبه کې (Comparative Adjective او هغه مهـال کـارول کيږي کله چې وغواړو يو شی له بل سره مقايسـه کـړو. دا چـې انسـان لـه څـه شي سره مقايسه کوو ؟ ددې پرتلې، توپير او تميز معيارونه او سـټنډردونه کـوم دي ؟ او ايا مقابل طرف ددې وړتيا لري چـې لـه انسـان سره مقايسـه کيـږي او بيـا پـر دوی انسـان تـه دبهـتر والي او ښـه والي صـفت چـې همـدا (( اشرف المخلوقـات))دی کاريږي ؟ نو څکه داشرف دشرحـې بحـث مهـم دی چـې هـر موجـود خپلـې خاصـې ځانګړتياوې او وړتياوې لري او انسان هم خپلې خاصې ځانګړې وړتياوې لري.

اشرف المخلوقات دخدای (ج) لورييـنـه ده نـو کلـه چـې دخـدايي حکمـت او کرامت دانسان په نصيب شو، انسان ته د درناوي معنا ورکـوي او د دې درنښـت تـر ټولو ښه بېلګه همدا ده چې هر څه دانسان لپاره خلق شـوي دي او همـدا يـوه معنـا لري چې انسان په نړۍ کې ديـوې مقدسـې مـوخې لپـاره مـامور شـوی دی.انسـان ددواړو جهانونو (دنيا او اخرت) دژوند وړتيا او صـلاحيت لـري او دده پـه وجـود کـې داسې ځواک شته چـې پـه دواړو جهـانونو کـې ورتـه اسـتوګنه او ژونـد اسـان دی. انسان په شهواني او حېواني صفتونو کې لکه په غضب، شهوت، خوړل، نسل ډېرولو

او جګړه کې له نورو ژوو سره شریک دی او دفرښتو نیک خوښونه لکه عبادت، علم، رښتیا، امانت او کمښې هم په ده کې شته. راغب اصفهاني وايي: ((انسان د نړۍ دکتاب لیکلړ دی، په لفظ کې لږ اما دپوره معنا لرونکی دی. دی زیاتوي ((داسې هیڅ شی نشته چې انسان هغه ته له یو اړخه ورته نه وي. دګرمی، یخنی، لوندوالي او وچوالي له حیثه داوبو، اور، خاورې او هوا په څیر دی. دبدن او جسم له مخې دکانونو په څیر دی. دتغذیې او ودې له پلوه دبوټو په څیر دی. دحواسو، وهم، خیال او خوند له حیثه حیواناتو غوندې دی. په بې لارۍ او ضلالت کې شیطان ته ورته دی او دالله تعالی په پیژندګلوئ عبادت او خلافت کې دپرښتو په څیر دی.(۲: ٦۸۸).

دانسان او انسانیت په اړه فرهنګ عمید داسې وايي: ((انسان، ادمی، مردم، بشر، اناسی واناس جمع ))او دانسانیت لغوي تعریف داسې کوي: ((مردمی، خوی ادمی، تربیت وادب وعاطفه واخلاق نیکو.)) (۲۴:۱۰).پښتو پښتو تشریحي قاموس دانسان لغوي تعریف داسې کوي: ((سړی، بنیادم، بشر.)) او دانسانیت په اړه لغوي تعریف داسې کوي: ((هومنیست، څوک چې له انسان سره مینه لري، انسان پال، دانسانانو سره ددوستی پالونکی، سړیتوب، ښه خوی، ښه عادت، ښه چلند.)) (۷: ۱۲۰).په نړیواله اصطلاح کې انسانیت ته: ((هومنیزم یا وګړواله، انسان پالنه، همډوله پالل، دا نومونه دلاتین له (هوموس) یعنې خاورې یا ځمکې نه راجوړه شوې ده، دا لاره درنسانس (بیا ژوند) په پېر کې را څرګنده شوه.په وګړواله کې دانسان ځواکمني او توان دتجربو او ازمایښتونو، ټولنیزې فلسفې څېړنې او هنري آثارو پنځولو باندې ډېره لګول دي. ))( ۱۱: ۵۷۲).

هومانیست هغه څوک دی چې انساني طبعیت او دانسان کارونه مطالعه کوي، دانساني امورو زده کوونکي ته هېومانیست وايي او دانسان په حیث دانسان مطالعې ته (البته دنـــژاد په ډول نه دافرادو په توګه )هېومانیزم وايي.په یوه خاصه معنا هېومانیزم دانساني کلتور لوړتیا په تېره په اروپا کې دلرغوني یونان ژوند، افکار، ژبې او ادبیات مطالعه کوي، په ادبي تاریخ کې دهېومانیزم اصطلاح دانسان ددورې پر هغه نهضت باندې اطلاق کیږي چې غوښتل یې لرغونی کلچر راژوندی کړي.( ۵: ۲۰).

انسان دیوې دقیقې محاسبې او ټاکلې موخې لپاره پېداشوی دی خو دانسان دپېداېښت موخه دانسان او دنړۍ پېدا کوونکی ځرګندوي چې هغه دالله تعالی له عبادت څخه عبارت دی (۳:٦۸۸).لکه چې الله تعالی په خپل سپیڅلي کتاب کې فرمايي: (( وما خلقت الجن والإنس إلا ليعبدون)). (سورت ذاریات، آیت: ٥٦).که دانسان عقل په شهوت باندې غلبه وکړي، نو ددې انسان مرتبه له پرښتو څخه لوړېږي او که چیرته شهوت په عقل غلبه وکړي نو مرتبه یې له حېوانه هم پست او ټېټ وي (۸: ۴۵). په دې اړه الله (ج) فرمايي: (( ولقد ذرأنا لجهنم كثيرا من الجن والإنس لهم قلوب لا يفقهون بها ولهم أعين لا يبصرون بها ولهم آذان لايسمعون بها اولئك كا لأنعام بل هم أضل)) (سورت الاعراف، ایت ۱۷۵)

خدای (ج) په خپل سپیڅلي کتاب قرآن عظیم الشان کې دانسان خلقت خپل ترټولو بهترین او ښه ترین کار بللی دی او هلته یې انسان اشرف الخلوقات یاد کړی دی.

**انسان دادبي تخلیق نثر و نظم او فلسفې له اړخه:**

دپښتو ژبې صوفي شاعر او دغزل بابا امیر حمزه شینواری په خپله شاعرۍ کې ډېر ځله د انسان، انساني خصلت، انساني خوی او افکارو په اړه ډېر څه ویلي دي.وایي:

چې دنیا دآب وګل ته انسان راغی
مینه راغله، فتنه راغله، طوفان راغی

دحمزه بابا له پورتني بیت څخه دا ښکاره او جوتیږي، انسان چې کله دې دنیا یا نړۍ ته راغی نوورسره سم انساني او شیطاني خصلتونه هم راغلل.مینه، کرکه او وحشت، مدنیت او بدویت، خشونت او تاوتریخوالی، تشدد او عدم تشدد، عاطفه او زړه سوی، لورېینه او پیرزوینه، ژړا او خندا، غم او درد، احساس او درک، پوهه او ناپوهي، بشري او انساني احساس، ، آزادي، انساني کرامت، انسانی ټولنه، انسانپالنه، مساوات، امنیت، جګړه او سوله، انساني ژوند، تخیل، خوب، وېښه، عقل بې عقلي، حقیقت او دروغ، وجدان او بې وجداني، شهوت، عزت او ذلت، ، درنښت او سپکاوی، ښه اوبد.مرګ او درد، خوشالي او خفګان، پرمختګ او وروسته پاتې والی، علم او پوهه اقتصادپوهنه او سیاست پوهنه، ټولنپوهنه، انسانپوهنه، اروا

پوهنه، ادبپوهنه، تاریخپوهنه او نورې ډېرې پوهنې او علوم رامنځته شول چې دټولو موضوع انسان، انساني پرمختک، انساني پوهه، انساني ژوند، انساني کړه وړه، انسان ته دخدمت او یا دانسان دسهولت پر بنسټ رامنځته شوي دي.

خو دلته موضوع انسان، انسانی ژوند او ادبیات دي او دادبیاتو ټول موضوعات او ټولې سوژې انسان او انساني ژوند پورې تړلي دي، دا انسان که دځمکې دکرې په ختیځ یا لویدیځ، شمال او که په جنوب کې ژوند کوي موضوع یې انسان او انساني ژوند دی.

داچې په عام ډول د ادبیاتو موضوع انسان، انساني ټولنه او انساني ژوند دی، نو شاعر او لیکوال دخپل تخلیق په اساس که هغه په نثر وي او که په نظم خام مواد له ټولنې اخلي هغه دهنر په ګاڼه سمبالوي او بېرته یې ټولنې ته ورکوي، یو اروپایي لیکوال میشل فوکو په ټولنیز تغییر او بدلون کې دهنري آثارو خلاقیت پلټي او درې مهم ټکي وړاندې کوي:

۱ــ هنري آثار کولای شي چې دخپلې دورې ټوله فکري او فرهنګي فضا منعکسه کړي.

۲ــــ هنري آثار کولای شي چې دلېدونکي په ذهن کې دفرد او انساني شخصیت تر منځ تصور وننګوي.

۳ــ دهنري سبکونو او مفاهیمو په مرسته کولای شو چې انسان بیا له سره تعریف کړو.

مونږ دفکر کولو لپاره په هر وخت کې یو هنري شکل او فورم ته اړتیا درلوده. که له اسلام څخه دمخه او له لومړنیو انساني تجربو څخه یې راونیسو، ګلګه میش هغه لومړنۍ اسطوره وه چې مونږ انسانانو به دهغه په مرسته فکر کاوه او لومړني انسان ته یې دفکر کولو **جرأت** او قوت ورکاوه، وروسته ورو ورو داسطورې ارزښت کمیده او ددې وجه شاید دا وه چې نور دهغه مهال انسان نشو کولای دهغه وخت دیاد هنري فورم په مرسته خپل فکر تغذیه کړای شي داسطورې د ارزښت په کمیدو حماسې خپل اهمیت پېدا کا وه.( ۹:۹، ۸)

وروسته په یوناني لرغونې ټولنه کې دانسان دذهن دپرمختګ لپاره تیاتر رامنځته شو.

تیاتر، هم دانسانانو دطبیعي خوځښتونو هغه پېښې دي چې معنايې نوې وي.وروسته نڅا، هم دانساني تجسم هغه خیالي خوځښت دی چې په عادي ژوند کې يې نشو لیدلای.بیا شعر، دکلماتو او نڅا دبدن دخوځښتونو همداسې هڅه کوي. وروسته انځورګري يې درنګونو او کرښو په مرسته، او تیاتر يې دخبرو او تخیل په مرسته تر سره کوي. ټول هنرونه غواړي دانسان ذهن وژباړي، او دبل انسان ذهن يې له درک څخه په خوند اخېستلو روږدی کړي، همدا دی دهنر منطق او ماهیت، هنر دبشریت تر ټولو انسان محوره هڅه ده، ځکه خو ډېره خالصه او له هر ډول ريا، دوکې او چل څخه پاکه ده.نوځکه خو ادبپوهان کله کله وايي چې: ((هنر دژوند لپاره او که هنر دهنر لپاره )) اصلاً هنر او ژوند دواړه دانسان لپاره دانساني ژوند لپاره دانساني اړیکو او کړو وړو لپاره دي. انسان چې څومره له عاطفې، احساس، درک، درد، پوهاوي، او اخلاقو څخه لرې کیږي، په حقیقت کې له انسانیت څخه ځان ورک کوي ایا وخت يې نه دی چې انسانیت ته بېرته دراګرځیدو هڅه وکړو. انسان دطبعیت یوه برخه ده، دطبعیت دا برخه دبل انسان په ذهن کې ځنګه ارزول کیږي، هنر دې پوښتنې ته ځواب موندلای شي.اخلاق دټولنیزو قراردادونوهغه ټولګه ده چې دانسان مادي وجود ته معنوي ماهیت وربخښي او له بل انسان سره يې ګډ ټولنیز ژوند تنظیموي.(۱۱:۹، ۱۲).

روسي لیکوال لیف تولستوې چې دهنر په هکله يې هم ډېرې مقالې لیکلي دي، وايي ددې لپاره چې هنر تعریف کړو باید لومړی دا په نظر کې ونیسو چې هنر دخوشالۍ یوه سرچینه او دژوند یوه برخه ده، هغه وايي: ((هنر هغه وخت هنري ارزښت لري چې ویونکي ته دمینې او ورور ګلوۍ احساس ورپېدا کړي، هنر هغه څه نه دي، چې جنسي غریزه، دروغجن نیشنلیزم، عظمت غوښتنه او دمافوقو طبقو دبروالي احساس ویونکو ته ورکړي، هنر باید دتحمل، مینې، دخلکو دیو والي، خوشالۍ او روغتیا باب وي )). تولستوی وکولای شول، دهنر په باب خپل فلسفي فکر په (جګړه او سوله، انا کارینیتا، ماشومتوب، زما پوهنتونونه) او نورو لیکنو کې په ښه توګه بیان کړي.(۹: ۱۹).هنر له فلسفې نه یو قدم نور هم وړاندې تللی دی دطبعیت او ژوند له تعریف او توصیف برسیره يې د روحي او روزنیزو چارو په لار کې ستر خدمتونه کړي دي.(۹: ۲۰).ډار او وېره څه ده ؟ ډار او وېره چې انسان يې

په تیارو کې راګیر کړی دی او وهم یې پرې حاکم کړی دی. دژوند تیرولو چوکاټونه چې دمحدود وخت لپاره ګټور وي، ځینې برخې یې دوخت په تېرېدو زړېږي، له کاره غورځي او ځینې برخې یې بیا تازه کول غواړي.(۹: ۴۸)

دانسانیت او اسلامیت په اړه حمزه بابا ایي:

*حمزه ډېر مسلمانان شته په دنیا کې او کافر هم*

*زه اشنا دهغه کس یم چې روش یې دانسان وي*

دپورتني بیت په رڼا کې لیکو چې انسان په ښه خوی او نیکو اخلاقو، ښه او صالحه عمل باندې انسان دی او په انساني کړنو او انساني عمل سره ټولنیز پرمختګ را منځته کیږي، نو دفکرونو او ذهنونو انساني جوړونه او رغاونه دالله ج په عبادت کې راځي، مطلب څوک چې نیکه ښوونه او روزنه او دالله بنده ګانو ته سمه او صالحه لارښوونه کوي الله (ج) اجرونه ورکوي.

دپښتو ژبې فلسفي او صوفي شاعر غني خان وایي:

*کعبه جوړه ابراهیم کړه، زه جوړ کړی یم الله*

*څوک لوی شو اوچت شو وایه وایه ای ملا!*

دلته هدف دادی چې الله پاک انسان اشرف المخلوقات پیدا کړی دی او انسان معزز او مکرم دی، الله (ج) انسان ته لوړه مرتبه ورکړه او هغه یې اشرف المخلوقات پیداکړی دی.

دفارسي ژبې صوفي شاعر سعدي وایي:

*بنی آدم اعضای یکدیگرند*

*که در افرینش زیک جوهر اند*

*چو عضو به درد اورد روزگار*

*دیگر عضو ها را نه ماند قرار*

دپورتنیو بیتونو هدف دادی چې ټول انسانان د الله (ج) بنده ګان دي خالق او مالک دانسانانو یواځې یو الله (ج) دی، نو ځکه هم دسعدي پورتنی بیت نړیوال حیثیت لري او ټول انسانان دادم علیه السلام اولاده ده، ددې بیت انساني ارزښت دومره لوړ دی چې دملګرو ملتونو په ودانۍ باندې نصب دی.

دپښتو ژبې محلي شاعر ملنګ جان وایي:

*چې له علم نه په څنګ وي انسان نه دی*
*زه یې حیوان ګڼم که څه هم حیوان نه دی.*(۹: ۳۹۷)

دلته هدف دادی چې انسان په علم باندې انسان دی، نو ځکه خو الله (ج) علم په نر او ښځې دواړو فرض ګرځولی دی. دادب او ټولنیزو پوهنو په رڼا کې دانسان د ارزښت په اړه نړېوالو ختیځو او لوېدیځو لیکوالو، شاعرانواو فیلسوفانو په خپلو ادبي، هنري او فلسفي لیکنو کې خپل هغه انساني افکار او نظریات وړاندې کړي دي، چې دبېلګې له مخې دا افکار او نظریات دلته رانقلوو:

دپښتو ژبې ریالیست شاعر ګل پاچا الفت وایي:

*په احسان غلاموي چې بل انسان*
*بیا دعوه کوي دخیر او داحسان*
*دا که ستا بشر دوستي وی بشر دوسته*
*لا به څه کړې که لېوه شي یا شیطان.*(۹: ۸۱ )

روماني لیکوال اوژن یونسکو ( ۱۰۹۴ــ ۱۹۹۴م) وایي ((که دانسان ټولې هیلې تر سره شوی وای، بیا به هیڅ هیله نه تر سره کیدای)).(۹: ۹۹، ۱۰۰ ).فرانسوی لیکوال بالزاک (۱۷۹۹ــ ۱۸۵۰م) وایي: (( دانسان ټول ځواک دوخت او زغم مرکب دی))، بیا وایي: (( انسان له ناهیلی مري او ارواح له ډېرې خوښی)).(۹: ۱۰۷، ۱۰۸ ).انګلیسي لیکوال بایرون (۱۸۲۴ــ ۱۷۸۸م) وایي: (( سر لوړي دخپلو او ښکو په بهولو کې ده نه دبل دوینو په بهولو کې)).( ۹:۱۰۹، ۱۱ ).ایرلنډي لیکوال برنارد شاو وایي: (( ښه انسان هغه دی چې ور کړه یې تر راکړې ډېره وي))، او بیا وایی:(( انسان دخپل عزت دساتلو لپاره ډېرو ناوړه کارونوته هم مخه کوي، له تجربې پوه شوم چې انسان کله هم له تجربې څخه عبرت نه اخلي.)).( ۹: ۱۱۴ ).هندي لیکوال ټاګور (۱۹۴۱ــ۱۸۶۱م) وایی: ((د خلکو زړونه خوشالول هیڅ لګښت او خواري نه غواړي، یواځې یوه موسکا ډیره ده)).(۹:۱۳۷). روسي لیکوال تولستوی (۱۸۲۸ــ ۱۹۱۰م) وایي: (( انسان یواځې دنیکی لپاره پیدا شوی دی))، بل ځای وایي:(( انسان کله هم یواځې او دځان لپاره ژوند نه شي کولای، دیواځېتوب ژوند مرګ دی نه ژوند)).( ۹: ۱۴۳). لبناني لیکوال جبران خلیل جبران (۱۹۳۱ـ ۱۸۸۳ م) وایي: (( دانسان ارزښت دهغه په شتو کې نه،

بلکې په هغو ځیزونو کې دی چې دی یې دلاسته راوړلو هېله لري)).(۹: ۱۵۳). روسي لیکوال چخوف (۱۹۰۴ــ ۱۸٦۰م) وایي:(( انسان هغه شی دی چې دی خپله پرې باور لري)).بیا وایی: ((ښایي چې دانسان ظاهر او باطن دواړه ښایسته وي)). (۹: ۱٦٦).روسي لیکوال دستیفسکي (۱۸۸۱ــــ ۱۸۲۱م) وایي (( انسان هغه مخلوق دی چې له هرشي سره عادت کیږي )). (۹: ۲۴۷). انگریزي لیکوال چارلز دیکنز (۱۸۷۰ــــ ۱۸۱۲م) وایي: ((د انسانیت معراج او لوړتیا ځوانمردي ده)). (۹: ۲٦۱). فرانسوي لیکوال ژان ژاک روسو (۱۷۷۸ــــ ۱۷۱۲م) وایي: ((انسان ته تل هغه څه ښه برېښي چې ده ته خوږ تر سترګو کیږي، خو انصاف او قضاوت هغه څیز دی چې په کې تیر وځي، وایي انسان خپلو هیلو ته درسیدو لپاره کافي ځواک لري، خو یواځې دارادې سستي ده چې دانسان دهیلو دلاس ته راوړلو مخه نیسي)). ( ۹: ۲۸۳).فرانسوي لیکوال رومن رولان ( ۱۹۴۴ــــ ۱۸٦٦م) وایي: ((اصیل انسان که ذلیل (خوار) هم شي، رزیل کیږي نه)).(۹: ۲۸٦). انگلیسي لیکوال ویلیم شکسپیر (۱٦۱٦ــــ ۱۵٦۴م) وایی: ((ناوړه انسان ځي، خو دهغه شر پاتې کیږي))، بل ځای وایي:(( تر اوسه چې انسانانو څومره لاسته راوړنې درلودلي دزغم او بردبارۍ پایله ده)).(۹: ۳۲۵). فرانسوی لیکوال البرت کامو(۱۹٦۰ــ۱۹۱۳م) وایي:((بغاوت دانسانانو ترمنځ ګډ عمل دی، چې دهغې په اساس هر انسان خپل ارزښتونه ټاکي ))، بل ځای وایی: ((ضروري نه ده چې هر سړی دې ستر سړی وي، دانسان لپاره یواځې انسانیت بس دی)).(۹: ۳۷۰). الماني لیکوال ګویټه (۱۸۳۲ــ ۱۷۴۹م) وایي: ((هر څوک انسان کیدای نه شي))، بل ځای وایي: ((هڅه دانسان لومړنۍ دنده ده ))، بل ځای وایي: ((څومره چې انسان خپل ځان تیر ایستلی شي هیڅوک یې هم په دومره مهارت نه شي تیر ایستلی)). (۹: ۳۷۴). روسي لیکوال ګوګول ( ۱۸۵۲ــــ ۱۸۰۹م)، وایي:(( دانسان ژبه هغه مار دی چې خپله انسان چیچي)). (۹: ۳۷۷). دبلجیم لیکوال مترلینګ (۱۹۴۹ــ ۱۸٦۲م) وایي: (( ډېره ګرانه ده چې انسان باور وکړي چې نړۍ دده لپاره نه ده پیدا))، بل ځای وایي: ((راتلونکی وخت انسان ته ډیر مهم برېښي، خو کله چې تیر شي، نو معلومه شي، هومره چې ده فکر کاوه مهم نه و))، بل ځای وایي: ((نیکمرغه انسان هغه دی چې ستونزې په موسکا ومني او دهغو په لاملونو

ځان پوه کړي)).(۹: ۳۹۳). مولانا جلال الدین محمد بلخي (۱۲۷۳ــــ ۱۲۰۷م) په فکر: ((دانسان جوهر انسانیت او دانسانیت معیار مینه ده)) مولانا مینه دهرې ستونزې حل او دهرې بیمارۍ دارو بولي، مولانا دانسان په انسانیت ټینګار کوي او په دې نظر دی چې یواځې انساني شکل او صورت دانسانیت معیار نه دی)). (۹: ۴۰۸). فرانسوی لیکوال دو منتسکو (۱۷۵۵ــــ ۱۶۸۹م) وایي: ((انسان دسیند په شان دی چې څومره ژور وي هومره ارام وي)). (۹: ۴۲۲). انګلیسي لیکوال او شاعر ملتون (۱۶۷۴ــ ۱۶۰۸م)، وایي(( دانسان ځواني دیوې ښکلې ورځې دښا یسته سهار په شان ده )).(۹:۴۲۴) فرانسوي لیکوال ولټر (۱۷۷۸ــ ۱۶۹۴م)، وایي: (( یو انسان له پوښتنو څخه پیژندل کیږي نه له ځوابونو څخه.(۹: ۴۴۲). امریکایي لیکوال ارنست همینګوی وایی: ((زړورتوب او میړانه هغه څیزونه دي چې انسان دژوند له ناپوهۍ او دمرګ له خوارۍ ژغوري)).(۹:۴۵۱).فرانسوي لیکوال ماري ویکتور هوګو وایي: (( څومره چې په غره هسک کیږي هومره ستا لید پراخیږي))، بل ځای وایي: ((د انسان په ژوند کې هېله دومره اړینه او ضروري ده لکه مرغه ته وزر)).(۹: ۴۵۵).

**پایله:**

انسان الله (ج) اشرف المخلوقات یاد کړی دی، دخدای (ج) په دې پراخه ځمکه کې دښو او شریفو انسانانو دپېژندنې لپاره ښه لاره دا ده چې د انسانانو له ژبو او لاسونو څوک په ازار نه شي، که یې په خپلو ژبو او لاسونو څوک ازار کړل، نوبیا هغه ده چې دا انسان دخدای (ج) دوست نه دی، که چېرته انسان دالله (ج) له لارې سرغړونه وکړي نو دا بیا اشرف المخلوقات نه، بلکې له حېواناتو څخه ټیټ دی.دانساني ښیګڼو او دوستۍ یو ستر راز او رمز په دې کې دی څه چې ځان ته خوښوي، بل ته یې هم خوښ کړه، چې په دې سره له انسان سره دمینې او صمیمیت، رمز کشفیږي او خلک له یو بل سره دځان په څیر مینه کوي. له پیغمبر (ص) څخه دښه انسان په اړه پوښتنه وشوه هغه مبارک اوه ګڼ او متفاوت ځوابونه ویلي دي، یو ځای ځواب ورکوي چې ښه انسان هغه دی چې له کورنۍ سره ښه وکړي، په بل حدیث کې راځي چې ښه انسان هغه دی چې خپل ګاونډي ته یې ښه ورسیږي.په بل ځای کې وایي چې دښه انسان صفت دادی چې له لاسونو او ژبې

یـې نـور انسـانان پـه امـان کـې وي.داشرف المخلوقـات او دانسـاني کرامـت او حرمت په اړه پورتنیو بحثونو ته په کتو په خپله ټولنه کې دننه انسان په هیله.

**مناقشه:**

کومې څېړنې چې دادب او ټولنیزو پوهنو په رڼا کې دانسان په ارزښـت شـوې، دا څېړنې چې الله (ج) انسان ته داشرف المخلوقات لقب ورکړی، تر څنګ یې دنـورو ټولنیزو پوهنو له مخې هم دهري پوهنې موخه او هـدف انسـان او انسـاني ټولنـه ده دادب موضوع هم انسان او انساني ژوند دي، چې مونږ دنړیوالو بېلابېلو لیکوالو هغـه افکار او نظریات چې فقط دانسان او انساني ارزښتونو په اړه یـې ویـلي را سـپړلي او ددې علمي څېړنیزې مقـالې عمـده او اسـاسي برخـه جـوړوي، انسـان دټولـو پوهنـو علمي او څېړنیزه موضـوع ده هغـه کـه اسـلامپوهنه، دینپوهنـه، ادبپوهنـه، سیاسـت پوهنه، ټولنپوهنه، طـب پوهنـه، انسـانپونه، ارواپوهنـه، فلسـفه پوهنـه، تاریخپوهنـه، عاطفه، احساس، درک، درد او نورو ډېرو پوهنو انسان مطاله کړی دی، خو هر چاتـه انسان نه شي ویل کیـدای، انسـان پـه انسـاني خصـلتونو، انسـاني خویونـو، انسـانی افکـارو او انسـاني حسـنه اعمالـو، صـفاتو او کړنـو پـه کولـو بانـدې انسـان شـمیرل کیږي.که چېرته انسان دالله (ج) له لارې سرغړونه وکړي نو بیا اشرف المخلوقات نـه بلکې له حېواناتو څخه هم ټیټ دی.

## مأخذونه:


۱ـــ القرآن الکریم

۲ـــــ آریانـا دایـره المعـارف (دویـم دور)، لـومړی ټـوک، دافغانسـتان دعلـوم اکاډمی، کابل، نبراسکا، مطبعه، ۱۳۸٦لمریز کال.

۳ـــــ اکـبر سـاپی، رحمـن الـدین، دسرو زرو نـه لاهـم ښـه یـا دلـوړ شخصـیت معیارونه، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۵ لمریز کال.

۴ـــ پښتو - پښتو تشریحی قاموس، لومړی ټوک، مطبعه، کابل.

۵- روهي، محمد صدیق، شمشـاد مجلـه.هومانیزم او خوشـال خـان، لـومړی ګڼه، خوشال فرهنګي ټولنه، کابل، ۱۳۸۵ل کال.

٦ــــ صميمي، عبدالحق، دنړۍ مشاهير، الارهر خپرندويه ټولنه، کابل، دهمزنگ، ۱۳۸۹لمريز کال.

۷ــــ عميد، حسن، فرهنگ عميد، موسسه انتشارات امير کبير، تهران، ۱۳۷۹لمريز کال.

۸- فيض، وصيل، انسان مجله، سارتر دوجوديت فلسفه وجوديت او بشر-پالنه، څلورمه گڼه، النخيل مطبعه، کابل، ۱۳۹۴لمريز کال.

۹ـــ کريم، فهيم، انسان مجله، هنر او تولنيز ډينامېزم، دويمه گڼه، کابل، النخيل مطبعه، ۱۳۹۲لمريز کال.

۱۰ـ لېوال، عبدالغفور، انسان مجله، ولې انسان؟ دريمه گڼه، کلبل، النخيل مطبعه، ۱۳۹۳لمريز کال.

۱۱- ملوک (آزاد)، ديپلوم انجنير جنرال سعادت، سياسي ليد لوري، (؟)، خان، کرافيکس،۱۳۹۳لمريز کال.

# The value of human in the light of creative literature

**Janes zaran**

## Abstract

In this academic article the value of human in the light of creative literature has been searched and discussed, that for what purpose Allah created human?

Human has been created by Allah with honor in all humans, and there is the introduction of human with its entire moral, as the aims and responsibilities, feelings, pain, and human knowledge.

As the universal content, Human is less in words, but more in meaning, while the human created in this world, at the

same time there the humanitarian and satanic morals has come.

Love, hate, happiness, grieves, violence, civilization, laugh, cry, dependence, fight, peace, good and bad and also many developments and educational fields have been created as religious, humanity, psychology, literature, history and more invented for the purpose of humans' lives and for the service of humans.

So here all these include to literature, so all the scholars around the world have been tried and collected the ideas in their literary, artistic and philosophical writings, we for our more study and knowledge combined all the above theories and ideas of the scholars in this academic article.

---

# The position of (stimulation) in literary works of Gul Pacha Ulfat

**Shazia Afghan**

## Abstract

The purpose behind writing this literary piece is to comprehensively study another unprinted literary piece of Gul Pacha Ulfat. The aim is to analyze the content and also study those points which haven't been pointed in other writers' pieces. This article has focused the linguistic dimensions of stimulation and it has also somewhat discussed the points which indicates the viewpoint and perspective of Gul Pacha Ulfat. A short hint has been given to the written works of Gul Pacha Ulfat as well.

## The shape and structure of Sheda poetry

**Lal Pacha azmon**

## Abstract

Often it is thought that Pel is a poem and regular arrangement while I have also discussed about the fact that the poems are very structured and organized and everything that can be written in the poem or order. No lion so when it is clear; it is also difficult to argue that poems have many fascinating symbols and distinctive forms that these confessions often have about the art of poets.

For the conspiracy of this story, I discussed poems on Kazim Khan Shadow, what types of characters they used to do and used to make use of it, and whether they used to do this consciously or otherwise.

The poems of these structures have been featured by the poets and if the real issue is concerned.

---

# Iqbal and khushhaal

**Baryalay bajaoray**

## Abstract

Iqbal and Khushhaal are both the eighth untouchable; Blessed are the poets of the eighth century and the eighth century. There is a lot of difference between the lives of both, but still there are points of interest between both sides that can be achieved.

Both were Muslims. Almost a region was inhabited. They fought against colonialism. Suddenly, the Mughal colonialism took place and Iqbal continued his struggle against colonialism. Both of the Wahdat Sikhs.

The prosperity of Shia Wahat and Iqbal was a popularity of all Muslims in the semi-dry Indian part of India. Khushhaal and Iqbal are critically influenced by their poems in the poets, the poorest psychiatric Pashtuns and Iqbal-less-sophisticated Muslims are fascinated. The prosperity is blessed by the fate of his grandfather and Iqbal, and Iqbal also Baz. Unfortunately, whenever Shaheen is in poetry And Iqbal has also used Bachin in his own places in his own places. Khushhaal and Iqbal used to live in different conditions, because they were seen in poetry.

Another important thing is that Iqbal was more of a khushhaal trauma. Iqbal reads khushhaal poems. On the other hand, he studied life and studied the life. He loved the Pashtuns as much as he loved, and he had a good example of khushhaal that almost guided his path.

---

## Challenges of modern literary and journalistic Translations

**Sayed Nazim Sayedy**


## Abstract

Translating from one language to another is such that the reader understands and understands it. But unfortunately, this is not the case in some translations Translations are not only understandable by the reader Black does not mean either simple or general meaning Its main meaning is good.

In this article, the process of translating into Pashto has been discussed and discussed in what was done in the late Pashto. How did it come to Pashto and how equal it was to the criterion.

Subsequently, discussion of the types of translation has been discussed.

Which type is it and what kind of it can be understood in Pashtu language.

After that, there is talk of scientific translation or research and his examples are clear and in the future, challenges and obstacles have been raised.

After translation, a journalistic translation has been introduced Oops! Google Translate did not respond: please try again!

While its translators are not professional, they do not understand the subject properly Examples of which are illustrated in the article and figure that's right.

The last part of the article is literary translation, which is what it should be and what it should be.

---

# The Coming of new genre 'Karikalamtor' to the Pashto literature

**Mohammad Asif Ahmadzai**

## Abstract

In the 20th century, several new literary genres of lengthy and medium kinds found their way to Pashto Literature and later on they developed significantly in this language. As people are facing time shortage in the current (21th) century, thus this social issue has left its impact on literature leading to the creation of new genres of short literary prose. One of them is 'Karikalamtor' that has recently entered Pashto literature. This writing is oriented to this particular topic.

# Impact of children's child's literature

**Shafiqullah Rahmanee**


## Abstract

Children’s literature such as poem in general, lyrics’ poem, and drama train children’s thoughts and mind, and it teaches them social thought behaviors, and thought. Also it familiarizes them with their social environment. In children’s literature, the most interesting part is children poetic competition which has a very informative domain and exposes child’s mental level. The child who knows well about good stories and answers, in the result knowledge, and good talent ultimately expose in him. Furthermore it gives him a feeling of promotion and self-confidence.

There for, these kinds of lyrics must be considered as a best way of children’s mental and educational training.

On the base of psychologist point of view, people have two kinds of genius; mental genius and physical genius. Children often reach to the mental genius before physical genius. Scholars say that yet it is not known that when do myth/ fable or personality effects on someone, but children choose them as an ideal and example for themselves, and pursue them for the future life. Hereby, we can say that the efficiency of children’s literature is so deep that it never can be ignored.

# List of Contents

**No Title Author page**

1- Impact of children's child's…..Shafiqullah Rahmanee…....1

2- The Coming of new genre……M.Asif Ahmadzai.….. ….15

3- Challenges of modern………...S.Nazim Sayedy………..28

4- Iqbal and khushhaal………..…Baryalay Bajaoray………59

5- The shape and structure of…...LalPacha Azmon…..……73

6- The position of (stimulation) in....Shazia Afghan……….91

7- The value of human in the……..Janes Zaran………..…104